افغانیک



# زموږ د باچا خبرې

خلورم چاپ ۱۴۰۴ ل
له زیاتونو سره

ټولونه یحیی وردګ

زموږ د باچا خبرې
ټولونه یحیی وردګ

Quotations of Badshah Khan
Badshah Khan Zitate



Afghanic

# Quotations of Badshah Khan

# Badshah Khan Zitate

(Pashto)

Collected by/Gesammelt von
Yahya Wardak

ISBN 978-9936-620-27-8

Publisher/Hrsg.Afghanic e.v.
IV. Edition, 2025

Printed in Afghanistan

# زموږ د باچا خبرې



ټولونه **یحیی وردک**

کابل، ۱۳۹۸ل

**Book Details**


| | |
|---|---|
| Book Name | Quotations of Badshah Khan |
| Compiler | Dr Yahya Wardak |
| Publisher | Afghanic |
| Copies | 2000 |
| Edition 1,2,3, 4 | 2008, 2009, 2016, 2019 |
| Download | www.afghanic.de/downloads |

This publication was financed by Civil Peace Service (ZFD) of GIZ in Kabul



© 2019

This book can be reprinted with written permission of the publisher or compiler.



Printed in Afghanistan, Sahar Printing Press

ISBN 978-9936-620-65-0

# Abstract

Quotations of Badshah Khan written in Pashto text was compiled from different authentic references in the form of a single book.

It has been tried the best, during compiling the book, to choose the significant sayings of Badshah Khan which convey meaningful advice. Since Badshah Khan was a fellow of Gandhi the well-known Indian leader, especially regarding eliminating violence, each of his quotes is as a pearl to his followers who regard him as a successful leader. The selected quotations are effective in reforming the drawbacks of our traditional society.

Badshah Khan spent his entire life in struggling for removing prejudice and violence. He believed in equality of humans, so he attempted to unify various ethnic groups and communities. Thus, his quotations are very effective in this regard, as well.

At the end of the book, a chronology of Badshah Khan is written which indicates important events of his life, birth to death.

Hopefully, this compilation is effective in spreading Badshah Khan’s corrective sayings to the society, and, hopefully, the society will take full advantages of the ideas of this honorable leader.

# Preface for Fourth Edition

Dear reader,

Though Ghaffar Khan lived a century ago, his ideas and struggles are still precious and even more invaluable than in his time, for our society's today and the future. Through nonviolence, Ghaffar Khan and Gandhi could bring about freedom to the Subcontinent and played a major role in encouraging Muslims and Hindus to live peacefully alongside each other. Recently, works of Ghaffar Khan have been published in English, Turkish, Arabic, German and Italian languages, and it is various times reported about him in the international press.

In his message on peace in 2017, Pope Francesco said:

*"Resolute and real approaches have resulted in outstanding outcomes. Success of Mahatma Gandhi and Ghaffar Khan is unforgettable ..."*.

Violence in our beloved country Afghanistan has been a main factor of ruin, poverty and people's misfortune in the last four decades. It is possible to get inspired by the ideas and approaches of Ghaffar Khan in terms of the current problems, conflict and violence; thus, get closer to peace, prosperity and unity.

Based on this reason, I try to publish, promote, translate and print various books about Ghaffar Khan.



One of the purposes of publishing of "Quotations of Badshah Khan" and other books on him is to make the society aware of nonviolence.

In this respect, his autobiography entitled "My Life and Struggle" was published in both Pashto and Dari languages by National Center of Policy and Research (NCPR) at Kabul University, with the fund of Civil Peace Service of GIZ, in 2016.

The book you are holding in your hands is a compilation of Ghaffar Khan's quotations from different national and international references of different languages and has been printed with the financial support of GIZ's Civil Peace Service program in Kabul.

Hereby, I would like to thank GIZ-ZFD in Kabul and its energetic officer Mr. Obaidullah Tanha for supporting us in publication of this work.

In addition, I am thankful to my colleagues Hekmatullah Aziz, Fazel Rahim Baryal, and Khalid Khpalwak for assisting me in editing the text.

Hopefully, you will read this small but rich book, learn its lessons and effectively use it for welfare of the nation and country.

Yahya Wardak, 2019

# Preface for Third Edition

Five years ago, I compiled “Quotations of Badshah Khan” from various books and magazines and printed as a book, in Germany. Because of the need for it, in 2009, the book was reprinted in the same form in Kabul and was offered to its fond readers. Since it cannot be found in bookstores, it is needed to be printed again.

In the recent years, I could find other books on Badshah Khan and used them as further references for adding more to the previous version; thus, the third edition contains nearly 30 percent more contents than the others. In addition, the chronology of Badshah Khan’s life has been written at the end of the book in order for people to become aware of different events of his life.

It is reported on the media in Afghanistan almost every day about explosion, war or suicide attacks in which people get wounded or lose their lives. A main cause of such situation is our people who want to satisfy their ambitions and reach to their social and political targets through violence. And this is a main cause of the three decades war in our country, as well.

Badshah Khan paid attention to this vital issue, hundred years ago, and he struggled for resolving that. But unfortunately, Afghans either do not have the knowledge about violence or do not work for eliminating it.

Hopefully, dear readers will read them carefully, know them, think about them and take their advantages in their personal and social life.

Unluckily, Afghans, Muslims and other people are not aware of Badshah Khan's ideas and actions. He analyzed, examined and knew Afghan and Islamic society, and, for reforming its weaknesses, he worked successfully. He struggled for reducing his nation's problems throughout his life. He spread his ideas on peace, brotherhood, love and nonviolence everywhere.

Dr Mohammad Cyrus, the head of Presidency of Religious Affairs in Turkey says, "The main problem of Muslims is that they do not make their lives in accordance with their religion. Many Muslim leaders and scholars, instead of resolving problems, create problems."

We and our leaders are to be blamed for not getting awareness of Badshah Khan's thoughts and struggles and not following his path.

I hope some readers will become aware of his ambitions, desires and achievements so that they will make others aware; thus, they will follow his path and encourage others. Based on this desire, the book is offered to you.

At the end, I would like to thank those who have helped me in the third edition of this book. I thank Mr. Asif Samim for giving me extra reference from his library in Kama. As well as, I appreciate the efforts of Mr. Javid Kotwal and Abdul Hadi Asar in editing the book.

Dr. Yahya Wardak

Istanbul, October, 2014

# Preface for First Edition

"Can you name any person, in the history of Afghanistan and the region, as a model for you?" a journalist asked me during an interview for his magazine, eight year ago.[1]

My answer for the question was Khan Abdul Ghafar Khan (Badshah Khan) though I had not known much about him, nor had I read his writings or writings on him. In the recent years, the more I studied about him, the more I became interested in him—this interest is getting more and more.

In my point of view, the value of Badshah Khan's personality is in the struggle he did against the main problems of the nation like violence, exchange marriage, illiteracy, extremism, negative competition and unawareness of religion.

Since these bad habits still remain in our society, the instructions of Badshah Khan have not only historical value, but they are also a good resolution of our problems. That is why my opinions are the same as his, so they are offered to you. At least some of them might be interesting for you too. If so, may you utilize and act upon them for the advantage of yourselves and your country.

I would like to thank Mr. Mubariz Sapai, Dr. Ramazan Saadat, Mr. Hedayatullah Bangish and Mr. Shah Jahan Kakakhil for providing me with references for this book. I also thank Mr. M. Reza Khan for giving me pictures related to the book. As well as, I thank Mr. Nasim Saber for helping me in editing the book.

Hopefully, I will be able to compile more sayings of Badshah Khan and that of others on him, so that, I will offer them to the countrymen.

Dr. Yahya Wardak
Bonn, Germany, 2008

---

*1 This interview was published on Ost-Westliches Journal, 3/2000*

- الماني د افغانانو لپاره، یحیی وردک، ۲۰۱۸
- سخنان ناب غفار خان، ۲۰۱۸
- د گل پاچا الفت غوره نثرونه په الماني ژبه، ۲۰۱۹
- آلمانی برای افغانها، یحیی وردک، ۲۰۱۹
- د رحمان بابا دیوان په الماني ژبه، ۲۰۲۰
- لوړې زده کړې په افغانستان کې. نظرونه، وړاندیزونه او مشورې، یحیی وردک، پښتو/ انگلیسي
- ۳۰۰ نه زیات درسي کتابونه (۲۴۰ طبي درسي کتابونه او ۷۰ غیر طبي کتابونه) د افغانستان د پوهنتونونو لپاره.

سربېره پر دې افغانیک اوس پر دې کار کوي، چې د افغاني ټولنې د بنسټیزو پوښتنو په هکله مستند او علمي معلومات راغونډ او بیا یې د نورو د خبرتیا او گټه اخېستلو لپاره خپاره کړي.

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) ارشیف کې د باچا خان برخه جوړه او دلته معلوماتي مواد (کتابونه، لیکنې، د مجلو او اخبارونو کټنگ، عکسونه او فلمونه) راغونډ او د څېړنو او خپرولو لپاره مینه والو ته وړاندې کېږي.

له هېوادوالو څخه هیله کېږي، چې په دې کار کې له موږ سره شریک شي.

نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: www.afghanic.de

په الماني ژبه د افغاني ادبياتو خپرول
- د کابل ديوان بيګي سيمه کې د يو روغتيايي کلينيک فعالول www.dewanbegi.af
- د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو لپاره تر ۳۰۰ عنوانه زيات درسي کتابونو چاپول او په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې په وړيا توګه وېشل. د درسي کتابونو مکمل پي ډي اف دلته ترلاسه کولی شئ:
www.ecampus-afghanistan.org

**خپرونې:**

- د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه، ۱۹۹۷
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون، ۱۹۹۸
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون په الماني ژبه، ۲۰۰۲
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون، ۲۰۰۳
- د افغانستان (۲۰۰۴) اساسي قانون په انګليسي ژبه
- زمونږ د باچا خبرې، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹، ۲۰۱٦ ، ۲۰۱۹
- د پښتو زده کولو کتاب، مانفرد لورنس، الماني ژبه، ۲۰۱۰، ۲۰۱۹
- زما ژوند او مبارزه. غفار خان، په الماني ژبه، ۲۰۱۲
- د ګلاب ننګرهاري ليکنې، ۲۰۱۴
- د غني خان ليکنې. غني خان، په الماني ژبه، ۲۰۱٦
- افغانان په استراليا کې. پوهاند حميدالله امين، ۲۰۱٦
- دوه خدايي خدمتګاران. مهاديو ديسای، ژباړه زيړګل وردک، (پښتو/انګليسي/ الماني) ۲۰۱۷
- خان عبدالغفار خان، د نه تاوتريخوالي لاروی، ان رادها کرشنان، ژباړه زيړګل وردک، (پښتو/ انګليسي)، ۲۰۱۷
- غفار خان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا، راج موهن ګاندی ۲۰۱۷ په آلماني ژبه
- د يو افغاني کلي خاطرې. د زرين انځور لنډې کيسې په الماني ژبه، ۲۰۱۷
- د افغانستان د پوهنتونونو د درسي کتابونو چاپول، يحيی وردک، ۲۰۱۷

## افغانیک Afghanic e.V.

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) له ۱۹۹۳ کال راهیسې د هېوادوالو، ټولنو او بهرنیو خلکو لپاره د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات وړاندې کوي. افغانیک د المان اداري محکمې سره رسمي ثبت شوې غیر انتفاعي موسسه ده، چې د یو شمېر افغانانو او المانیانو لخوا جوړه او په المان او افغانستان کې کار او فعالیت کوي.
هدف یې په افغانستان کې د پرمختیا، معارف، لوړو زده کړو او روغتیا په برخو کې مرسته او هم په المان کې له افغانانو سره مرسته او د افغاني کلتور پالل دي.
د افغانستان معلوماتي مرکز د ټولو مهمو ټولنیزو، تاریخي، سیاسي، اقتصادي، ادبي او روغتیایي ساحو او پوښتنو په هکله په خپل ارشیف کې معلوماتي مواد (کتابونه، مجلې، اخبار، کسټونه) راغونډ کړي دي. زیاتره برخه یې د هغو اروپایي، امریکایي او افغاني پوهانو لیکنې او څېړنې دي، چې په وروستیو لسیزو کې یې په افغانستان کې دننه او هم دباندې په بېلا بېلو موضوعاتو څېړنې کړې دي.


**د هلو ځلو څو نمونې:**


- افغانانو ته په المان کې د ژبې زده کولو، زده کړو، ژوند کولو او کار پیداکولو اړوند مرستې او مشورې ورکول
- المان کې افغان ماشومانو ته د مورنۍ ژبې او آلمانانو ته افغاني ژبې زده کول
- المانانو او الماني موسسو او ټولنو ته د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات، مشورې او پروژې

بهر مېشتو افغانانو، المانیانو، الماني او اروپایي موسسو او ټولنو ته د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات، مشورې او پروژې

- له ۲۵ کلونو راهیسې هر کال «*په هامبورګ کې د افغانستان اونۍ*» سمینار جوړول
- د افغانستان د اساسي قوانینو چاپول
- د باچاخان په هکله په پښتو، دري، اردو، انګلیسي او الماني ژبو کتابونو چاپول



Afghanic
Quotations of Badshah Khan
(Dari)
ISBN 978-9936-633-24-7
Funded by
Civil Peace Service
Collected & Translated by
Yahya Wardak
2018
سخنان ناب غفار خان
Quotations of Badshah Khan
یحیی وردک
افغانیک
۱۳۹۷



خان عبدالغفار خان
د نه تاوتریخوالي لاروی
ان رادها کرشنان
دوه
خدايي خدمتګاران
مهادیو دیسای
with CD


باتیں ہمارے
باچاخان کی

# نور کتابونه

د عبدالغفار خان اړوند دغه کتابونو هم چاپ شوی دي:



(پښتو/انګلیسي)، کابل ۲۰۱۷
۱۵. خان عبدالغفار خان، د نه تاوتریخوالي لاروی، ان رادها کرشنان، ژباړه زیړګل وردک، (پښتو/ انګلیسی)، کابل ۲۰۱۷
۱٦. د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاریخي تقریرونه. لومړی ټوک، تدوین او سریزه: څېړنوال عبدالرحیم بختانی خدمتګار، کابل ۱۳۹۷
۱۷. پاچاخان او د آزادۍ مبارزه. اترچند، د زبیرژمن ژباړه، ۲۰۱۳
۱۸. غفارخان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا. راج موهن ګانډی، د غلام ولي نوري ژباړه، کابل، ۱۳۸۹
۱۹. د اسلام سوله ییز سپاهي. ایکنات ایسوران. د بسم الله پښتون مل ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه، کابل۲۰۱۸
۲۰. د آزادۍ تحریک او باچا خان (فارغ بخاري)، ژباړن سجاد ژوندون، ۲۰۱۸
۲۱. خدايي خدمتګار (۱۹۲۹ ـ ۱۹۴۷ م) یو ستراتیژیک غوراوی. احمدالله ارچیوال، کابل، ۲۰۱۹

22. Abdul Ghaffar Khan; Faith is a Battle. Dinanath Gopal Tendulkar, Published for Gandhi Peace Foundation by Popular Prakashan, Bombay, 1967

23. Eknath Easwaren. Nonviolent Soldier of Islam, Nilgiri press, USA, 1999

24. Rajmohan Gandhi. Ghaffar Khan: Non-violent Badshah of the Pakhtuns. Viking, New Delhi, 2004

25. J.N. Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban, New Delhi: Konark Publishers, 2000

26. My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang, Orient Paperback, Delhi, 1969



# ماخذونه


۱. عبدالغفار، زما ژوند او جد و جهد. ۱۳٦۰ هجري لمریز، کابل ـ دولتي مطبعه

۲. پښتون مجله، اتمه ګڼه، ۱۹۹۲م، پېښور

۳. ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ترجمه غني خټک، ۱۹۹۳ م اسلام آباد

۴. عبدالله بختانی خدمتګار، د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ هجري لمریزکال

۵. عبدالله بختانی خدمتګار، د باچا خان لیکونه، لومړی برخه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۳ کال

٦. ارشادات و مکتوبات باچه خان، سید جاوید علی شاه آف نرشک، کلاسک پبلشرز نو ښار

۷. د بابا مشالونه، ۱۳۹۱ هجري لمریز

۸. د ستر خدایي خدمتګار وياړلي يادونه، پروفيسور عبدالله بختانی خدمتګار ۱۳۹۰ هجري شمسي

۹. د بابا مشالونه، د قومونو او قبايلو د چارو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو رياست، ۱۴۰۸ هـ. ق

۱۰. نګاه مختصر به افکار و مبارزات تاريخي خان عبدالغفار خان (پاچا خان)، محمد ګل وطنپال دياني، ۱۳۸۹هجري شمسي

۱۱. لالونه مرغلرې، د باچاخان خبرې، ډاکټر محمد زبير حسرت، د پښتنوخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون، چارسده، ۲۰۱۲م

۱۲. خدايي خدمتګاري، ليکونکی خان عبدالغفار خان، ۱۳۴۴، دقبايلو د مستقل رياست له خوا، کابل

۱۳. فخر افغان او افغانستان. عبدالله بختانی خدمتګار، ۲۰۰۸

۱۴. دوه خدايي خدمتګاران. مهاديو ديسای، ژباړه زيړګل وردک،




غفار خان او وینوبه باهوی به یو نیالګی کښنوی



د شلمې پېړۍ عدم تشدد جنبش مخکښ وګړي:
مارتین لوتر کینګ، مهاتما ګاندی، نیلسون ماندیلا، غفارخان



ګاندي، غفار خان  او د ګاندي سکرتر مهاديو ديسای




مهاتماګاندي، مولانا ابو کلام آزاد، سردار پټيل، غفار خان، جواهر لعل نهرو




غفار خان د افغانستان ډېرو سيمو ته سفر کړی دی





غفارخان او ګاندي يو له بل سره ډير نيږدې وو





غفار خان او گاندی په گډه څو کالونه کار او مبارزه کړې ده



پاچا خان په کندهار کې خلکو ته وینا کوي




*باچا خان په کندهار کې د احمدشاه بابا د مزار ترڅنګ له ماشومانو سره په مینه خبرې کوي*



پاچا خان د احمدشاه بابا له مزار څخه د راوتلو پرمهال




پاچا خان په جلال آباد کې له ډېرو خلکو سره کتل



غفار خان د خپل فلیسوف او شاعر زوی غني خان سره



د غفار خان پلارنی کور او د هغه د زیږیدولو ځای په پښبور کې



د غفار خان کور په جلال آباد کې

# عکسونه



پاچا خان په جلال آباد کې خاورې ته سپارل کیږی



د غفارخان مقبره وروسته له ۲۸ کلونو په ۲۰۱٦ کال کې





١٩٨٥ د هند ملي کانگرس گوند په سلمه کلیزه کې د گډون لپاره لـه خپـل زوی ولي خان سره هند ته تگ

١٩٨٧ د هند د حکومت د مېلمه په توگه هند ته د درملنې لپاره تگ، د لومړي غیر هندي په حیث په هندوستان کې تر ټولو لوی مډال (بهارت راتنه) یعنـې د هند تاج تر لاسه کول. په پېښور کې په روغتون کې بسترېدل

١٩٨٨ د جنوری په شلمه د پېښور په لیډي ریډینگ روغتون کې د سهار په شپږو بجو او پنځه دېرشو دقیقو د وروستي ځل لپاره ساه باسي.

د وصیت له مخې له پښتونخوا څخه د ننگرهار مرکز (جلال آباد ښـار) تـه د سلو زرو خلکو په گډون راوړل کېدل او په جلال اباد کې په خپـل کـور کـې خاورو ته سپارل کېدل

پدې ډول د تل لپاره له دې نړۍ کوچېدل او تلپاتې استراحت.

❖

سرحد د قبايلي سيمو (پښتونخوا) ادغام د پاکستان په يو يونټ کې

١٩٥٦ بنديتوب او د حکومت له خوا د باچاخان د کورنۍ ټول
جايداد مصادره کول

١٩٥٧ د نيشنل عوامي گوند جوړونه (د جولاى مياشت)
خو د همدې کال د مې په مياشت کې د ډاکټر خان صاحب وژل

١٩٥٨ نيول او بندي کېدل (د اکتوبر مياشت)

١٩٥٩ د زيات عمر او ناروغۍ له کبله له بند څخه خوشې کېدل، د
هر ډول رسمي وظيفې او دولتي چوکۍ له نيولو څخه بې برخې کول

١٩٦١ له سلگونو نورو همکارانو سره نيول او بندي کول

١٩٦٢ د بشر د بين المللي سازمان (امنيستي انټرنشنل) لخوا د
کال بندي ونومول شو

١٩٦٤ له بند څخه خوشې کېدل او په کور کې نظربند
انگلستان ته د درملنې لپاره د تگ اجازه، د (دپتانز) کتاب له ليکوال الف
کارو سره ليدنه، په قاهره کې افغاني تجارتي ويزه اخستل،
کابل ته تلل، کابل کې ژوند غوره او د افغانستان ډېرو سيمو ته سفر کول

١٩٦٩ د گاندي په سلمه (١٠٠) کليزه کې د خبرو لپاره هند ته تگ
د هندوانو او مسلمانانو د يووالي لپاره درې روژې نيول
د پرگنو د ښېگڼې په منظور دعاگانې

١٩٧١ په پاکستان کې د دوولس کلن نظامي حکومت له ختمېدلو سره سم
له تبعيد څخه پښتونخوا ته راستنېدل

١٩٧٥ بندي کېدل، د نيشنل عوامي گوند منع اعلانېدل، له بند څخه د زيات
عمر او پرلپسې ناروغيو له امله خلاصېدل

١٩٨٣ د خپل زوى ولي خان او د اپوزيشن له نورو مشرانو سره
بندي کېدل، په کور کې نظربند کيدل، له نظربندۍ څخه خلاصېدل او
روغتون ته د درملنې لپاره ستنېدل

١٩٨٤ په کابل کې په روغتون کې بستر کېدل

۱۹۴۲ په پښتونخوا کې ملکي مقاومت

۱۹۴۲ د وینا کولو پر وخت د پولیسو لخوا نیول او بندي کېدل، د پولیسو د وهلو له امله دوه پښتۍ یې ماتې او د دوه کلونو لپاره بندي شو

۱۹۴۲ ګاندي او باچا خان د ټول هند د ملي کانګرس او د هغه له کاري کمېټې څخه په دوېمه نړیواله جګړه کې د ګډون په خاطر استعفا ورکوي

۱۹۴۲ له پېښور نه ۱٦ میله لرې، په سر دریاب کې د (مرکز عالي خدایي خدمتګاران) جوړول

۱۹۴۴ بندي کېدل

۱۹۴۵ له بند څخه خلاصېدل

۱۹۴۷ له خدایي خدمتګارانو څخه د ریفرینډم د بایکاټ کولو غوښتنه، د (پښتون) اخبار په پاکستان کې د حکومت لخوا مصادره کېدل، د اګست په میاشت کې

۱۹۴۷ د پاکستان د قبلولو لپاره د خدایي خدمتګارانو د غونډې راغوښتل، سپتمبر میاشت

۱۹۴۸ له پاکستان سره د وفادارۍ لوړه، د پاکستان د پیپلز پارټۍ منتخب مشر، له ډاکټر خان صاحب سره بند ته استول، د خدایي خدمتګارانو له مظلومو غړو سره (د جون میاشت)

۱۹۴۸ د (جمعیت العوام) چې په خلکو کې د پاکستان پیپلز پارټي په نوم مشهوره ده، د جي ام سید، عبد المجید سندي، شیخ حسام الدین او عبد الصمد خان اڅکزي «بلوڅ ګاندي» جوړول، باچا خان د دغه ګوند لومړی مشر و

۱۹۵۲ د باچا خان ښه ملګری او د ډاکټر خان صاحب په صدر اعظمۍ کې د معارف وزیر، قاضي عطاءالله مړینه

۱۹۵۴ له بند څخه خلاصېدل او په کور کې نظر بندي، ډاکټر خان صاحب ته د پاکستان د مرکزي کابینې غړیتوب

۱۹۵۵ له اووه کلونو بند څخه وروسته پښتونخوا ته ستنېدل،

جنرال سکندر میرزا د پاکستان ولسمشر کېدل، د یو یونټ اعلان او د





ولاړل، ترڅو له وایسرا سره وګوري

۱۹۳۱ تصمیم ونیول شو، چې په پېښور کې د کانګرس څانګه جوړه شي

۱۹۳۱ درې کاله بندي شو

۱۹۳۱ پښتون مجله

۱۹۳۰ د پېښور د قصه خوانۍ بازار تول وژنه (قتل عام)

۱۹۳۱ له یو کال بند نه وروسته باچا خان له نورو خدایي خدمتګارانو سره د ډېره غازي خان جېل نه خلاص شو

۱۹۳۱ له ۱۰۰ خدایي خدمتګارانو سره د کانګرس غونډې لپاره کراچۍ ته ولاړ

۱۹۳۱ باچا خان له ګاندي سره د کانګرس ورکینګ کمیټې غونډې لپاره ولاړ

۱۹۳۱ جولای: د مهاتما ګاندي زوی دیو داس ګاندي پېښور ته را ورسېد، ترڅو د سرحد وضع مطالعه کړي، دی له باچا خان سره په اتمانزو کې اوسېده

۱۹۳۴ له بند څخه خوشې کېدل، له پښتونخوا څخه شړل کېدل، په (وردا) کې له ګاندي سره وخت تېرول، د بنګال مسلمانانو لیدنه، د کانګرس مشري نه منل، په بمبۍ کې خبرې او بندي کېدل

۱۹۳۴ اګست ۱۷: د ګاندي له روژې سره د ملاتړ لپاره یوه اوونۍ روژه نیول

۱۹۳۴ سپتمبر ۳۰: په کلکته کې د هندو او مسلمانانو د یووالي په هکله عام محفل ته وینا کول

۱۹۳۵ له بند څخه خوشې کېدل او له پښتونخوا څخه شړل

۱۹۳۷ د پښتونخوا د والي له خوا تبعید کول، بېرته کور ته راتلل، په ولایتي کچه په اکثریت سره بریا، د خان صاحب د والي په حیث دنده

۱۹۳۸ په پښتونخوا کې د ودانولو د پروګرام پیل

۱۹۳۸ ګاندي د سرحد ولایت ته د اتو ورځو لپاره راځي

۱۹۴۰ په سر دریاب کې د ودانولو د پروګرام لپاره د یو مرکز پرانستل، د کانګرس پرېښودل، لامل یې د کانګرس له عدم تشدد څخه لرېوالی

۱۹۴۱ د خدایي خدمتګارانو لپاره ټرینینګ کمپ جوړول

۱۹۲۲ له دوېمې مېرمنې څخه د يوې لور (مهر تاجه) پيدا کېدل

۱۹۲۲ کله چې دی په بند کې و، درېيم زوی (عبدالعلي خان) پيدا، چې وروسته د پېښور پوهنتون مرستيال و

۱۹۲۳ د ده مشر ورور ډاکټر خان صاحب د لندن په سينت توماس روغتون کې ډاکټري تر لاسه کړه، په انګلستان کې يې له يوې انګلېسي مېرمنې سره واده وکړ، چې دوی يو زوی (جان خان) او يوه لور (مريم) پيدا کړل

۱۹۲۳ د مور مړينه

۱۹۲۴ له بند څخه خوشې کېدنه، ده ته د (فخر افغان) لقب ورکړل شو. مکې شريفې ته د حج لپاره تګ، له څو اسلامي هېوادونو څخه ليدنه، په بيت المقدس کې د مېرمنې مړينه او هلته يې خاورو ته سپارل

۱۹۲۶ پلار يې مړ شو، د جنازې او خښولو لپاره يې بې ساري خلک راغلي وو، ده وويل د سقاط (سخات) لپاره مې ۲۰۰۰روپۍ منلي، آيا خلکو ته يې ورکړم که ښوونځي ته؟ خلکو په لوړ آواز وويل: ښوونځي ته! ښوونځي ته!

۱۹۲۷ د انجمن زميندارن بنسټ ايښودنه، د محلي زراعت د پرمختګ لپاره، پښتون جرګه «د پښتنو ځوانانو ليګ» دده تر لارښوونې لاندې جوړ شو

۱۹۲۸ په کلکته کې د خلافت او کانګرس په غونډو کې ګډون

۱۹۲۸ پښتون مجله

۱۹۲۹ د خدايي خدمتګارانو د تحريک جوړول او بنسټ ايښودنه د ((پښتون)) خپروني پيل، په لاهور کې په لوکنو کې د کانګرس په غونډه کې ګډون، له ګاندي او نهرو سره ليدنه

۱۹۳۰ له بند څخه خوشې کېدل، کليو ته ورتګ پيل کول، په کراچۍ کې د کانګرس غونډه کې ګډون، له ګاندي سره د کانګرس په کاري کمېټه کې غړيتوب اخستل، د کانګرس د ټولو مشرانو په ګډون بنديتوب

۱۹۳۱ اګست ۲۵: له ګاندي او جواهر لال نهرو سره يو ځای سيمله ته

# کرونولوژي

۱۸۸۹ د چارسدې په اتمانزو کې د بهرام خان په کور کې زېږېدنه
۱۸۹۷ په جومات کې له ملا نه زده کړه
۱۸۹۸ د پېښور په ښوونځي کې داخله
۱۹۹۸ د پېښور د ښاروالۍ په ښوونځي کې شاملېدل
۱۹۰۶ د انګلیس په اردو کې د شاملېدو نه منل
۱۹۰۸ په علي ګړ کې اسلامي ښوونځی
۱۹۰۹ انګلستان ته د کالج د درس ویلو په هکله منفي تصمیم
۱۹۱۰ په اتمانزیو کې یې لومړی ښوونځی پرانیست
۱۹۱۱ د ترنګزیو د حاجي صاحب له حرکت سره یو ځای کېدل
۱۹۱۲ له مهر قنده (د یار محمد خان لور) سره واده
۱۹۱۳ په اګره کې د مسلم لیګ په کنفرانس کې ګډون
۱۹۱۳ د لومړي زوی، غني خان زېږېدنه
۱۹۱۴ چله او اوږده روژه، په باجوړ کې له مېشتو قبایلو سره تنویري کال
۱۹۱۵ د دویم زوی، ولي خان پیدایښت، د ښځې مړینه
۱۹۱۹ دویم واده: د سلطان محمد خان له لور (نم باته) سره
۱۹۱۹ د شپږو میاشتو لپاره بندیتوب
۱۹۲۰ له بند څخه خوشي کېدل، بل واده، د خلافت کنفرانس لپاره
ډهلي ته تګ، د ګاندي، ابوالکلام آزاد او نورو سره لیدنه،
افغانستان ته د خلاف د موضوع لپاره له نورو سرهمهاجرت، په ناګپور کې د
هند نیشنل کانګرس په غونډه کې ګډون
۱۹۲۱ په اتمانزیو کې د لېسې جوړول، د ”انجمن اصلاح افاغنه“
(عبدالاکبر خان لومړی ریس) جوړول، د دریو کلونو لپاره بند





نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا کار کوم.

اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت لپاره قومي مدرسې جوړوم، نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زه چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوښښ مې وکړ چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کې بندې کړې وې...

*خدايي خدمتګار، ارچيوال، ۸۵ مخ*

## د قوم ضرورت

عدم تشدد نيږدې زما مذهب جوړ شوی دی. زه د ګاهندي جي د دې نظرئې د وړاندې نه هم قائل او منونکی يم خو د دې تجربې ته چې بې مثاله کاميابي زما په صوبه کې تر لاسه شوه. د دې نه پس زه د زړه د تل نه د عدم تشدد منونکی يم. انشاالله زما د صوبې خلک به کله هم تشدد نه کار نه اخلي.

ممکنه ده چې زه ناکاميابه پاتې شم او زما په صوبه کې د تشدد يو طوفان راشي. که داسې وشي نو زه به په خپل قسمت باندې صبر کوم خو دې سره به زما په دې عقيده کې هيڅ بدلون رانه شي. عدم تشدد ښه شی دی او زما قوم ته د دې د هر څه نه زيات ضرورت دی.

*د آزادی تحريک او باچا خان (فارغ بخاري)، ژباړن سجاد ژوندون، ۲۲۴ مخ*

## دعا

يا خدايه! زموږ د پښتنو د زړونو نه بغض، حسد، کينه، دښمنی او تربګنی لرې کړې او موږ ته توفيق راکړئ چې د خپل قام، ملک او وطن خدمت وکړو.

خدايه! د پښتنو دښمنان برباد کړي او موږ ته توفيق راکړئ چې د خپل دوست او دښمن تر منځه فرق وکړو. آمين

*د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاريخي تقريرونه، ۱۰ مخ*

## موږ ولی آباد نه یوو؟

ننني دنیا ته چې وګورې او دومره آباده شوله خو دا موږ آباد نشو، د دې وجه څه ده؟ د دې وجه هم دغه ده چې نن د قام ولي دنیا ده او موږ کې قام ولي نشته.

*د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاریخي تقریرونه، ۱۴ مخ*

## انقلاب که جدو جهد؟

د افغانستان او آزادو قبایلو حالت مې چې ولید او پنځلس کاله مې په هندوستان، قبایلو او افغانستان کې غورزې پرزې وکړې نو په دې نتیجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره آسان څیز نه دی. انقلاب د سړې سینې کار دی انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته یې آماده کړي. د انقلاب لپاره د اشخاصو ضرورت دی.

ته وګوره چې زموږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو. ټول ولاړل خواره واره شول. نو کښېناستم د ځانه سره مې ښه فکر وکړ. زه په دې نتیجه ورسېدم چې زموږ د قام، نه د تجارت خواته توجه شته، نه د صنعت خواته، نه د زراعت خواته او نه د تعلیم خوا ته.

د بلې خوا نه په رسمونو، رواجونو کې تر غوږونو پورې ډوب دي. په خانه جنګیو اخته دي داسې قام انقلاب نشي کولاۍ او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دي، چې سیاسي شعور پکې پیدا شي او دا کار یوه پُر امن فضا غواړي. تر دغه وخته پورې زه په دې عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي. تشدد راته د انقلاب د کامیابۍ لار ښکارېدله.

خو د تجربې نه وروسته راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کې آسونه نه تیارېږي.

## سخت که اوسا ژوند؟

زه د خدای ج ډېر شکر ادا کوم، چې پر ما یې زما د ژوند په لومړي سر کې دومره سختۍ راوستې. زه نه پوهېږم چې که ما یو هوسا ژوند لرلای، نو څه به پېښ شوی وای.

*غفارخان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا. راج موهن گانډهی، ٦٨ مخ*

## نه تاوتریخوالي: نوې یا پخوانۍ طریقه

په دې کې خو کومه د حیرانتیا خبره نشته چې کوم مسلمان یا پښتون دې د نه تاوتریخوالي په طریقه کې سهیم وي، دغه طریقه نوې نه ده.

دغه خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر (ص) له طرفه د تل لپاره تعقیب شوې وه، دوي په مکه کې تل د خپلو لارویانو پر گډون غوښتل چې د زور زیاتي جغ د انسانانو له اوږو څخه لرې کړي.

خو موږ تر ننه دغه هېره کړې وه چې یو وار مهاتماجي زموږ مخې ته بیا دغه لار کېښوده او د دغې سپېڅلې عقیدې ملاتړ یې وکړ.

دی خو زموږ په منځ کې لومړي کس دی، چې دغه طریقه یې درک او د دغه غمځپلي ملت مخې ته یې کېښوده.

*خان عبدالغفارخان. د نه تاوتریخوالي لاروی، ان رادهاکرشنان، ۱ مخ*

## تشدد

تاسو ته خو تر نورو د مخه عدم تشدد په کار دی، ځکه چه ستاسو تشدد په خپل کور او په خپل ورور دی.

*فخر افغان او افغانستان. عبدالله بختانی خدمتگار، ۹۳ مخ*





جوړونکي پروګرامونه رامعلوم شول، دا ټول د دې سبب شول، زما ژوند بدلون وکړي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۵۷ مخ*

## د ګاندي پرېکړه

هر وخت چې ګاندي صاحب کومه مهمه پرېکړه وکړي، زه له ځان سره وایم : دا د هغه سړي فیصله ده چې خپل ځان یې په مکمل ډول خدای ته تسلیم کړی دی او الله تعالی هېڅکله چا ته غلطه لار نه ښیې.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱٦۸ مخ*

## د پیغمبر درسونه

پیغمبر (ص) له ډېرو ستونځو سره مخ شو، خو هېڅکله یې امید له لاسه ورنکړ، بالاخره بریالی شو، هغه موږ ته ښه درسونه پرې ایښي او که موږ یې په همداسې شوق او اخلاص سره تعقیب کړو، زه د ناکامۍ لپاره هېڅ دلیل نه وینم، د آزادۍ لپاره هڅې تل عادلانه وي او د غلامۍ پر ضد کارونو کې تل عزت وي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۸۴ مخ*

## د آزادۍ هڅې

زما په فکر غلامي قبلول جرم و، ځکه نو تر هغه وخت پورې چې په هېواد کې د ربښتینو خلکو واکمني راځي او ټولو اوسېدونکو ته په مساوي او عادلانه ډول فرصتونه او د پرمختګ شرایط برابرېږي، زه به د آزادۍ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوم، بې له دې چې وګورو څوک راباندې حکومت کوي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۲۰۵ مخ*

# د پیغمبر وسله

زه تاسو ته داسې عقیده وسله درکوم چې پولیس او پوځیان یې پر وړاندې د درېدو او مقابلې توان نه لري، دا د پیغمبر وسله ده چې تاسو تر اوسه ترې بې خبره یاست، د دې وسلې نوم ربښتنولي او زغم ده چې د نړۍ هیڅ ځواک یې پر وړاندې نشي-درېدلی.

کله چې بېرته خپلو کلیو ته ولاړ شئ، نورو ورونو ته ووایاست چې موږ د خدای پوځ یو او وسله مو زغم او حوصله ده، له دوي وغواړئ چې راسره ملګري شي سختۍ وزغمي، که تاسو صبر ولرئ بریا به ستاسو وي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۲۷ مخ*

# پېژندنه

زه د پېژندنې لپاره یو معیار لرم او هغه معیار د الله تعالی پر وړاندې د تسلیمۍ له مخې معلومېږي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۴۵ مخ*

# د ژوند بدلون

په اوله ځوانۍ کې د تشدد احساسات راباندې غالب و، د نورو پښتنو په څېر زما په رګونو کې هم توده وینه بهېده، خو په زندان کې چې بل مې هیڅ کار نه درلود فقط قرانکریم به مې لوست، په مکه کې د پیغمبر (ص) وخت مې مطالعه کړ، د ده زغم، صبر او قرباني را معلومه شوه، په کوچنیوالي کې مې هم دغه شیان لوستي و خو اوس مې بیا د چار چاپېر د روانو حالاتو په رڼا کې لوستل، اوس مې د برتانوي راج پر خلاف د ګاندي کارونه لیدل...

بلاخره کله چې مې له ګاندي صاحب سره ولیدل، د ده د عدم تشدد تګلاره او د ده

# د عدم تشدد عقيده

زما په خيال د يو پښتون مسلمان په اړه تر دې بله نادره خبره نشي کېدای چې موږ د عدم تشدد عقيده غوره کړو، خو دا عقيده نوې عقيده نه ده، بلکه څوارلس سوه کاله وړاندې زمونږ پيغمبر هغه مهال غوره کړې وه، چې په مکه کې و ، او په را وروسته کې د ټولو هغو کسانو له لوري تعقيب شوی چې غوښتي يې دي د ظالمانو له جبره ځان خلاص کړي، موږ دغه لاره هېره کړې وه تر دې ګاندي بېرته راياده کړه، اوس موږ فکر کوو چې دا يوه نوې عقيده ده.

*د اسلام سوله ييز سپاهي، ۱۱۱ مخ*



## سخت که هوسا ژوند؟

ځينې کسان په سختيو کې خورا ګټور درسونه زده کوي، زه په دې فکر يم که مې هوسا ژوند درلود هېڅکله به د زندان په خوند، مفهوم او اعزاز نه وم پوهېدلی.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۹۳ مخ*

## خوښه او زور

چا ويل چې پښتانه مينه او حق نه پېژني؟ په پښتنو کې د مينې ځواک دومره پياوړی دی، چې په خوښه دوزخ ته هم درسره ځي خو په زور يې جنت ته هم څوک نه شي بيولی.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۱۰۲ مخ*



# اسلام

زه په کلکه باوري یم چې اسلام مانا عمل، یقین او مینه، له دې څېزونو پرته د مسلمان نوم هسې یو سمبول دې. په قرانکریم کې په ښه ډول دا واضح شوې ده چې یوائې او یواځې پر یوه خدای ایمان او نیک اعمال د یو مسلمان د ښښنې لپاره بسنه کوي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۶۴ مخ*

# ستره هیله

زه یوه ستره هیله او غوښتنه لرم، زما ولس لکه د صحرایی گلانو په څېر نړۍ ته راځي، څو ورځې غوړېدلی وي او بې له دې چې څوک یې ووینې رژېږي او خاورې کیږي، زه غواړم دوي داسې ژوند ولري چې غم او خوښي یې له یو بل سره گډ وي، زه هیله لرم دوي د یوې ټولنې د وګړو په څېر له یو بل سره ژوند وکړي، دا مې غوښتنه ده چې دوي خپل مسوولیت ادا کړي، په نړۍ کې د سیالانو په څېر واوسېږي، د الله تعالی او د انسانانو خدمت وکړي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۸۰ مخ*



## د هند دروازه

زمونږ گناه دا ده چې ولایت مو د هند دروازه ده او مونږ په دغه سیمه کې زیږدلي یو، ځکه نو محکوم او ملامت یو.


*د اسلام سوله ییز سپاهي،۴۵ مخ*

## واقعی مسلمان

د اسلام ستر پیغمبر چې دې نړۍ ته راغي، مونږ ته یې دا زده کړل چې: واقعي مسلمان هغه څوک دی چې نور یې د ژبې او لاس د شر څخه په امان وي او د ټولو مخلوقاتو د خوښۍ او گټې لپاره کار وکړي.

له خپل همنوع سره مینه په حقیقت کې پر الله تعالی ایمان درلودل دي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۵۷ مخ*



# کنډواله کورونه

اې پښتنو! ستاسو کورونه کنډواله شوي دي، راپورته شئ ښېرته يې جوړ کړئ. در په ياد کړئ چې تاسو په کوم تېر پورې اړه لرئ.


*د اسلام سوله ييز سپاهي،۲۴ مخ*

# زموږ تاريخ

زما د ولس تاريخ د بريا او اتلوليو له کيسو ډک دی. خو خورا گڼ تاوانونه مو هم ليدلي دي.

خپل منځې جگړې او له يو بل سره ژوره کينه تل د دې سبب شوې وه چې قربانۍ هېرې شي، زموږ ولس په خپل منځ کې له يو بل سره نښتی و کنه کوم بهرنۍ ځواک دا جرات درلود چې د جگړې په ميدان کې له دوی سره مخ شي؟

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۳۳ مخ*



ابادي او ترقي د قوم او ملک د ترقۍ، آرامۍ او آبادۍ دپاره قرباني کړې ده. هغوی ځانونه خاورې کړي دي، خو د وطن خاوره يې زرغونه شوې ده.


قرآن هم وايي، چې ترڅو پورې يو قوم پخپله خپل ځان ته تغير ورنه کړي، خدای هم هغه قوم ته تغير نه ورکوي.

*خدايي خدمتګاري، ۹ مخ*

## د ناکامۍ غم

د ناکامېدو غم د هغه چا سره وي چې د خپلو غرضونو دپاره کار کوي، کوم خلق چې د خدای د مخلوق د خدمت دپاره راوځي او د خدای دپاره کار کوي هغوی سره د ناکامۍ غم نه وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*



# تعلیم یافته

زما یاد دي، کوم وخت چې مونږ د (پښتون) مجله جاري کړه، نو ما به تعلیم یافته ګانو ته ویل: راځئ، په دې مجله کې شریک شئ او دا مجله ولولئ. دوی به په ځواب کې راته ویل: په پښتو کې څه دي؟ دا خو یوه مړه ژبه ده!

ما به ورته وې، چې: پښتو هم د نورو ژبو په شان ژبه ده. دا نورې ژبې هم له اسمانه همداسې روغې نه دي راکوزې شوي. د هغو ژبو تعلیم یافته وو خلکو ورته کار کړی دی، دا چې په پښتو کې څه نه شته، داسې معلومېږي، چې په تاسو تعلیم یافته وو کې څه نه شته. نو دا ګناه د چا شوه؟... د پښتو که د پښتنو؟؟

*خدايي خدمتګاري، ۴ مخ*



# تغیر

هو! دا نن چې تاسې ژوندي قومونه وینئ، نو د دوی د ترقۍ وجه همدا کېدی شي، چې په دوی کې داسې خلک پیدا شوي، چې هغوی خپل عیش، خپل آرام، خپله

راکړی دی، بلکې ددې د مخالفت اصل وجه دا ده، چې دا هرڅه د اسلام په نوم کولی شي او د دې اجازت مونږ نه شو ورکولی. که د پاکستان حکومت په اسلامي خطونو وچلېدو، نو زه به یقینا د دې حمایت کوم. د پاکستان دپاره زما تصور دا دی، چې دی یو ازاد پاکستان وي. مونږ غواړو چې په دې د یو مخصوص ډلې یا مخصوص تن حق نه وي، بلکې د ټولو اوسېدونکو پرې یو شان حق وي.

د دې ملک د ازادۍ نه د خوند اخستو حق دې ددې وطن ټول اوسېدونکو ته حاصل وي. په ځای ددې چې یو څو تنه یې استحصال کوي. مونږ غواړو، چې ددې ملک حکومت د عوامو په لاس کې وي.

*لالونه مرغلرې، ۴۱ مخ*

## تعلیم په مورنۍ ژبه

یو شپږ کلن اووه کلن ماشوم ته دا ډېره گرانه وي، چې په یو وخت هم پردۍ ژبه زده کړي او هم په هغه ژبه کې علم زده کړي؛ ځکه نو تعلیم په مورنۍ ژبې کې ورکول په کار دي.

*لالونه مرغلرې،۴۳ مخ*

## ولور

ډېر خلق خپلې لوڼه د پیسو دپاره ورکوي، په کار دي چې د سړیتوب په لحاظ خپلوي وشي. دا نه چې د دولت دپاره ځوانه جینۍ بوډا ته کېنولی شي.

*لالونه مرغلرې،۴۳ مخ*

## بهادر قومونه

په کوم قوم کې چې د بهادرۍ او قربانۍ ماده نه وي نو هغوی د نورو قومونو په بهادرو او قربانو ځانونه خوشحالوي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

# تحمل او صبر

اسلام یو داسې مذهب دی، چې مونږ ته د ډېر لوی تحمل او صبر درس راکوي، کله چې مونږ یو بل سره د خیالاتو تبادله کوو، نو لازما به یو بل سره د ډېر تحمل نه کار اخلو. دا نه چې زه د چا مخالفت شروع کړم، چې د ده زما د نقطه نظر سره اتفاق نه شته.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*

# د ښېگڼې عمل

د حضرت ابوبکر رضي الله تعالی عنه مثال وگورئ، د خلیفه جوړېدو نه مخکې د دوی هر یو عمل د مسلمانانو د ښېگڼې دپاره و. د خلیفه په توگه دوی ځان له یوه ډېره معمولي وظیفه مقرر کړې وه. په اسلام یو الزام د عدم مساوات لگولی شي، خو دوی عملا دا ثابته کړې وه، چې اسلام د ټولو انسانانو د ژوند د ضروریاتو په یو شانوالي یقین لري. انسان غریب وي که مالدار، د هغه د ژوند ضروریات یو رنگ وي، اولاد د ټولو کېږي؛ ځکه نو ضروریات هم د ټولو وي.

داسې نه وي، لکه چې تاسو وایئ، چې ستاسو ضروریات زیات دي او زمونږ کم، تاسو دا هم نه شئ ویلی، چې د غریب بنده د مالداره کېدو هیڅ امکان نه وي؛ ځکه چې امکانات ټول د مالدارو دپاره وي، د دې ټولو خبرو تعلق ثقافت او تهذیب سره دی او په دې سلسله کې هیڅ تفریق پکار نه دی، چونکې بدني ضروریات د ټولو یو شان دي، له دې وجې نه وظیفې هم د ټولو لپاره یو شان مقررول په کار دي.

*لالونه مرغلرې، ۴۱ مخ*

# زړې طریقې

زه تاسو ته دا ویل غواړم، چې دا وخت کوم عادتونه او اقدار مونږ خپل کړي دي، دا به چرې هم مونږ خوشحالی پله ور نه ولي. مونږ به دا زړې طور طریقې پرېږدو او د قرون اولی اسلامي طرز به خپلوو.

مونږ د دې زوړ نظام مخالفت صرف له دې وجې نه کوو، چې دا مونږ له پېرنگیانو

صرف او صرف په تعمير کې ده. زه تاسو ته اېغه نېغه خبره کوم، چې زه به په تباه کارۍ کې د هيچا ملګرى نه يم، که تاسو څه تعميري مقاصد لرئ، که تاسو د ملک او قوم دپاره تعميري کار کول غواړئ، صرف په خبرو نه بلکې په عملي توګه .

نو زه ددې معزز ايوان په مخکې دا اعلان کوم، چې زه او زما خلق به ستاسو په خدمت کې حاضر وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

## طاقت او جبر

ياد ولرئ، چې طاقت او جبر پايدار نه وي، په وقتي توګه د جبر نه کار اخستى شي، خو که تاسو خلق د زور لاندې ساتئ، نو د هغوى په زړونو کې به ستاسو خلاف نفرت پيدا کېږي. دا پرېږدئ.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

## د پېرنګيانو چلونه

مونږ له د پېرنګيانو چلونه او فرېبونه پرېښودل په کار دي.

که مونږ په دې طريقو عمل پېرا پاتې شو، نو ياد ولرئ، چې دا ملک چې مونږ په ډېرو سختو او تکليفونو حاصل کړى دى، به زمونږ د لاس نه وځي.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*

## اعتماد

اکثر تکليفونه او مشکلات د بد اعتمادۍ په وجه وي. خو په اعتماد دغه مشکلات حل کېدى شي. حکومتونه په اعتماد چلولى شي، په بد اعتمادۍ نه.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*



# د ترقۍ اسباب

په هره زمانه کې د قومونو د ترقۍ سامان جدا جدا وي.

که پخوا به په دنيا کې هغه قوم زبردست ګڼلی شه چې د چا په متو کې بـه زور زيـات وه او په ميدان د جنګ کې به يې زياته خونرېزي کولی شـوه، نـو نـن هغـه قـوم زورور شمېرلی شي، چې د چا په قلم کې زيات طاقت دی، د پروپېګنډې ذريعې يې ډېـرې دي، اخبارونه او رسالې يې په اعلی پيمانه جاري دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۸مخ*

# نوی شی

دا زمونږ خدايي خدمتګاري خو څه نوی شی نه دی، دا خو هغه د ديارلس نيمو سـوو کالو زوړ حکم دی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زنده ګۍ پيروي ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

# د تعمير مينه وال

حقيقت دا دی، چې زه د تعمير سره مينه لرونکی انسان يم، تخريب سره زما هيڅ کـار نه شته.

دغه شان زه د نظرياتو نه زيات په عمل يقين لرم، که تاسو زما ژوند مطالعـه کـړئ، نـو پوه به شئ، چې ما خپل ژوند د ملک او قوم د ترقۍ او ښېګڼې دپاره وقف کړی دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

# تباهي

زه د ا خبره تکراروم، چې زه د پاکستان تباهي نه غواړم. تباهي زه د هيچا نه غواړم، نه د هندو، نه د مسلمان، نه د سرحد، نه د پنجاب، نه د بنګـال او نـه د سندهــ . فايـده

## د غلام قوم بچي


د غلام قوم بچي چې ولایت ته لاړ شي، نـو هغـوی د هغـه ځـای خـوبی ځـان سره نـه راوړي، بلکې د هغه ځای بدی راوړي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

## وطني جامه

زما خویندو تاسو ته دا خپل ملک ښه معلوم دی، چې پـه دې کـې د دولـت خـو پیـدا کېږي، ډېر ولې په مونږ حکومت د نورو خلقـو دی، نـو مـونږ ډېـر غریبـان یـو، ستاسـو وروڼه، پلاران او خاوندان نن سبا ډېر عاجزان دي.
که تاسو لږ انصاف وکړئ، چې د غیر ملکونو قیمتي کپړې اغوستل پرېږدئ، ولایتي او جاپاني جامې نه اغوندئ، په ساده وطني جامه صبر وکړئ، نو ستاسو نارینه وو ته بـه ډېره فایده ورسي، د قرض نه به خلاص شي او عمر به یې د عزت شي.

*لالونه مرغلرې، ۳۸مخ*



## خراب ځيز

بحث او اختلاف ډېر خراب ځيز دی او تر کومه چې کېدی شي، ددې نه بچ کېدل په کار دي، ولې چې ددې نتيجه همېشه خرابه وي. اختلاف رای په دنيا کې وي، لېکن يو ځل د هغې ظاهرول کافي وي، که چا ومنله، خو ډېره ښه او که ويې نه منله، نو بيا په هغې بحث او مباحثه کول په کار نه دي، ولې چې په بحثونو چرې تصفيه شوې نه ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

## قومي خدمت

ساده زنده ګي اختيار کړئ او د ډېرو خرڅونو عادت پرېږدئ، ولې چې ددې نه بغير قومي خدمت کول ناممکن دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*



## غلطي نه منل

چې يو سړی يو طرف ته غلطي کوي او بل طرف ته هغې غلطی ته غلطي نه وايي، نو د هغه اصلاح مشکله ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

# د نفاق اور

زه د نفاق نه ډېر وېرېږم؛ ځکه چې ددې د لاسه د پښتنو کور تباه شوی او برباد شوی دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

# اختیار

ترڅو چې د دې خپل ملک اختیار د پښتون په لاس رانه شي، نو تر هغه وخته پښتون ترقي کولی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*



# فتح به زمونږ وي

په حیثیت د یو خدایي خدمتګار زما دا عقیده ده، چې دا څه کېږي، زمونږ د فایدې دپاره کېږي، اخر فتح به زمونږ وي، په شرط ددې چې مونږ پخپلو اصولو قایم او رښتوني خدایي خدمتګار شو.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

پیسې فایده وشي، خلق د قربانو او کار کولو دپاره تیار نه دي؛ ځکه خو مسلمانان امام صاحب ته او هندوان اوتار ته په انتظار کې ناست دي. د بې همته قومونو هم دغه نښې دي، چې پخپله به کار نه کوي، د بل په تکیه به ناست وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

## د خلکو خدمتګار

ستاسو عزت، خوشحالي او کامیابي زما عزت، خوشحالي او کامیابي ده. زه ستاسو خدمتګار یم او د خپل خدمت اجرت یا مزدوري درنه نه غواړم. زه خپل فرض پوره کوم او د دې اجرت او مزدوري د الله پاک نه غواړم.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

❀

زه ستاسو په اتفاق او ترقۍ خوشحالیږم او ستاسو په نفاق او خوارۍ خفه کیږم. زه شپه او ورځ ستاسو د ابادۍ او ازادۍ دپاره دعا او کار کوم. الله تعالی دې مونږ ددې لایق کړي، چې د هغه د مخلوق خدمت وکړی شو.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

❀

زه هم هغه زوړ خدایي خدمتګار یم. هرڅه د خدای دپاره کوم او د هغه د مخلوق د فایدې او ارام دپاره یې کوم. د انسان دپاره یا د هغه د خوشحالولو دپاره یا د هغې نه د څه فایدې حاصلولو دپاره یې نه کوم.

*لالونه مرغلرې، ۳۶مخ*

## د ناپوهه پوهول

د یو ناپوهه پوهول اسان او ممکن دي، لېکن د یوه پوهه بنده پوهول مشکل نه، بلکې ناممکن دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۶مخ*

## زړه ته نږدې

څوک چې د خدای دپاره بغیر د څه خپل غرض نه کار کوي، هغه خلق زما زړه ته نږدې دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## چای څښل

زه ټولو خدايي خدمتګارو ته عرض کول غواړم، چې په پښتنو کې د ضرورت نه زيات دا دومره ډېر د چايو څښلو رواج د پښتنو بچو دپاره خطرناک ګڼم. لېکن تر اوسه پورې زه په دې مسئله ځکه چُپ وم، چې ما پخپله چای څښله، نو ددې برخلاف مې خلقو ته څه ويلی نه شو، ولې چې د هغې خبرې په خلقو څه اثر نه وي، چې هغه سړی پخپله خو کوي او نور خلق ترې منع کوي، اوس ما چای پريښی دی او تقريبا دا يو کال وشو، چې څښلي مې نه دي،

د هر يو عادت پريښودل مشکل وي، لېکن يوه مضبوطه اراده او صبر دا ټول مشکلات په سړي اسان کړي. في الحال زه د خدايي خدمتګارو نه دومره غواړم، چې د دوه وخته په ځای دې يو وخت چای څښي، يا دې د دوو پيالو په ځای يوه پياله چای څښي.

*لالونه مرغلرې، ۳۴مخ*

## ظاهربين

د الله تعالی هر کار د خير وي، ولې مونږ پرې نه پوهېږو؛ ځکه چې مونږه ظاهربين يو، لږ غوندې ظاهري تکليف راباندې راشي، نو بيا مو وار خطا وي.

*لالونه مرغلرې، ۳٦مخ*

## ځانځاني


نن مونږ او زمونږ ملک ولې په يو داسې بدتر حالت کې يو؟ ولې مونږ په دنيا کې ذليل او سپک يو؟ ددې وجه دا ده، چې نن زمونږ هر يو کس د خپلې ذاتي ترقۍ په فکر او کوشش کې دی. زما زمائي ده. که ملک تباه او قوم برباد شي، لېکن چې زما د يوې

# روزانه کار

زه پخپله هم روزانه څلور پنځه ګېنټې کار کوم.

بېلچه ښه چلوم. غواړم چې هر يو خدايي خدمتګار که امير وي او که غريب، چې روزانه څه نا څه کار پخپل لاس وکړي، په کار کې برکت وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*



# د انسان فرض

د يو انسان فرض صرف دومره دی، چې په اصلاح سره کار کوي.

نتيجه يې په خدای پرېږدي، ولې چې هغه د هغه کار دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

کړي. ولې چې کوم کار سړی د ځان دپاره نه خوښوي، نو نورو ورونړو له يې هم خوښول په کار نه دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## عزم

سړی چې څه غواړي هغه کولی شي، په شرط ددې چې هغه د عزم، صبر او استقلال نه کار واخلي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## د قربانۍ حقيقت

په دنيا کې هيڅ کار بغير د تکليف او قربانو نه کېدی نه شي. د خدای بنده گانو چې د هغه د مخلوق د خدمت په لاره کې کوم تکليفونه او قربانۍ کړي دي، د هغې په مقابل کې زمونږ د قربانو څه حقيقت دی؟

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## حکومت کول

حکومت کول د قوم خدمت کول دي؛ ځکه نو دا د قوم د رضا او خوښې مطابق په کار دی. که په حکومت کې د خلقو خوښه او رضا نظر انداز کولی شي، نو دغه حکومت د عزت په ځای د ذلت سبب جوړېږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱مخ*

## د غلامانو بچي

زه د واده خلاف نه يم، لېکن د غلامانو بچو پيدا کول مې خوښ نه دي او په موجوده حالت کې چې څوک صبر کوی شي، نو هغه بهتر گڼم.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

دی او نه يې بل ورته پرېښی دی، بېکاره او بې کسبه مونځ ادا کوه او ډوډی خوره.

*لالونه مرغلرې، ۳۱مخ*

## ميراث

په اسلام کې د خور او لور په سر پيسې اخستل لويه گناه ده. بلکې اسلام خو خويندو او لوڼو ته د پلار، مور او ورور په ميراث کې برخه ورکوي. *لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## د لوستلو شوق

پښتانه اوس هم د اخبار لوستلو شوق نه لري، په چټي څيزونو په بېځايه رواجونو، په زرگونو روپۍ خرڅ کوي، خو په اخبار يوه پيسه نه ورکوي او هم دا وجه ده، چې د دومره بهادر او لوی قوم پخپله ژبه کې يو قومي اخبار نه شته.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## ورور وژنه

تاسو پښتانه هم پخپل کور کې ورونه يئ او که چرې يو کافر بل کافر نه وژني، نو تاسو هم خپل ورور مسلمان مه وژنئ. *لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## کنجوسي

بېشکه کنجوسي خراب څيز دی، لېکن داسې سخاوت چې د هغې په وجه سړی همېشه مقروض او د خلقو محتاج وي، هم ښه څيز نه دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## نکته چيني

بېشکه په خلقو ناجايزه نکته چيني کول يو خراب عادت دی. ولې چې د خلقو نکته چينۍ باندې سړي ته څه فايده رسېدی نه شي او که چرې يو سړی د خپل ځان دپاره نکته چيني نه خوښوي، نو هغه له په کار دي، چې په نورو هم نکته چيني ونه





# جابر حکمران

مسلمانان د داسې دین پیرو دي، چې د هغې نصب العین نړۍ د غلامۍ د زنځیرونو نه ازادول دي. د مسلمانانو په زړه کې چرې هم وېره نه وي او د یو ظالم او جابر حکمران په وړاندې د رښتیا ویلو نه چرې هم نه وېرېږي.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

# د دنیا بادشاهان

د خلقو په مغزو کې ملایانو دا کېنولې ده، چې ګوندې خدای هم د دنیا د بادشاهانو په شان دی چې هغه ته د ټېکس او ډالۍ ضرورت دی، دوی په دې فکر نه کوي، چې خدای بې نیازه دی، هیڅ شي او هیچا ته محتاج نه دی.

که خیراتونه دي که زکات دی که صدقات دي، که مونځ دی که روژه ده، که حج دی، دا ټول زمونږ د ښېګڼې دپاره دي، که ښه کوې دنیا به دې هم اباده وي او په اخرت کې به دې هم په کار شي. او که بد کوې، په دنیا کې به ذلیل، حقیر او خوار یې او په آخر کې به درله عذاب وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۱مخ*

# تجربه

د نوې تجربې کولو یا د تجربو دپاره په خندقونو کې ځان غورځولو نه به دا بهتره وي، چې د هغو خلقو د تجربو نه فایده واخستی شي، چې چا ډېر تکلیفونه او مصیبتونه اوچت کړي او په قسم قسم خندقونو کې پرېوتلي وي او تجربې یې حاصلې کړې وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

# ملایان

د ملایانو د لاسه مونږ ته نور هم ډېر نقصانونه رسېدلي دي. په مونږ کې چې د کار او خدمت سړی پیدا شوی دی، دوی پرې یا د وهابي فتوه لګولې ده، یا د هندو یا د کافر او په دې نومونو یې له خدمته پاتې کړی دی، نه یې پخپله د خلقو خدمت کړی

حقیقت دادی چې نن مذهب هم سرمایه دارو د خپلو سرمایو په زور قبضه کړی دی.
رښتینی خدایي مذهب خو د مخلوق خدمت دی، مینه ده، محبت دی، انصاف دی، عدالت دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱٦ مخ*

## د بې عزتۍ احساس

مونږ ترهغې پورې متحد کېدی نه شو، ترڅو پورې چې مونږ ته د خپل سپکاوي او بې عزتۍ احساس نه وي شوی.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

انسان فاني دی او زه وایم چې سړی مري نو ښه په عزت او د غیرت په ځای کې مړ ښه دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۰ مخ*

## پر کلتور او ثقافت فخر

غلامي یو لعنت دی، ولې د هندوستان خلق بیا هم وایي، چې په دوی د خدای رحم دی. هندوان وایي چې زمونږ کلتور د نړۍ د ټولو نه زوړ ثقافت دی. مسلمانان د شهاب الدین غوري او محمود غزنوي په فتوحاتو فخر کوي، مسلمانان دا وخت هیڅ هم نه دي او ددې هیڅ فایده نه شته، چې زما پلار پادشاه و.

*لالونه مرغلرې، ۳۰ مخ*

## رحمت او عذاب

غلامي یو عذاب دی، او خپلواکي د الله پاک رحمت دی. که تاسو دا وایئ، چې دا ملک زمونږ دی، نو که هندوان او که مسلمانان د دې ملک دپاره کار کوي، نو په بل یې څه ملازه نه شته، که تاسو ملک ازاد کړو، نو ددې فایده ستاسو ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۰ مخ*

## زما کار

زه خدايي خدمتگار یم او زما کار د ذات او عقیدې د پروا کولو نه بغیر د الله تعالی د ټول مخلوق خدمت کول دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

## د مذهب مطالعه

زه یو مذهبي سړی یم او هرڅه چې زه وایم او یا کوم، هغه به د مذهب مطابق وي. زه مسلمانانو او هندوانو ته دا وایم، چې د خپلو مذهبي کتابونو مطالعه وکړئ، مسلمانان او هندوان دواړه د خپل مذهب خلاف کارونه کوي. دا دیني کتابونه ددې دپاره نه دي، چې مونږ یې په تاخ کې کېږدو، خلقو ته ددې مطالعه او ددې په احکامو عمل کول په کار دي، ترڅو پورې چې د قرآن پاک او گیتا د تعلیماتو ماته علم دی، د هغې مطابق غلامي یو لعنت دی.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

## مذهب د خدمت نوم دی

مذهب د مینې محبت، ښه اخلاقو او د خلقو د خدمت نوم دی. مذهب ددې دپاره نه دی، چې خلقو کې کرکه نفرت پیدا کړي، بلکې ددې دپاره دی، چې د ټولنې نه کرکه نفرت لرې کړي. د مذهب په نوم تفرقه پیدا کول نه دي په کار او مونږ ټولو له په کار دي، چې د خپل دین په تعلیماتو په صحیح توگه عمل وکړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

دا نننی مذهب خو د څو کسو د عیش اوعشرت لپاره دی، د خدای د مخلوق د آرامۍ لپاره ندی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*

## مذهبي جنگونه

قرآن خو دا وايي، چې د متقي او پرهېزگارو خلقو به په دې قرآن هم عقيده وي او چې ددې نه مخکې کوم کتابونه د خدای له طرفه راغلي دي، په هغې بـه يـې هـم عقيـده وي. نو مونږ نه پوهېږو، چې په دنيا کې د مذهب په نامه دا جگړې او جنگونه ولـې او ځنگه پيدا شوي دي؟

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*

## سپاهي

زه يو سپاهي يم او زه په خبرو نه، بلکې په عمل يقين لرم.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*



## غلامی

په غلامۍ کې د انسان نه انسانيت هېر شي او انساني خوبۍ په کې پاتې نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

دوی د خپل ورور عزیز په ځای میا مُلا په ځان مسلط کړی دی، عزت یې پخپلو کې په یو بل پېرزو شوی نه دی او پخپلو کې بد نیته شوي دي

او دغه شان چې څوک دوی د خپل ملک، قام او مذهب مشران په ځان منلي دي، هغوی بیا ښه مړلي او خوړلي دي او دوی بیا هم ورنه سبق نه دی اخیستی او دغه وجه ده، چې د جنت په شان وطن کې په جوارو ماړه نه دي، وږي تږي، خوارو زار او جاهلان پاتې دي.

د قدرت د پټو خزانو نه چې د دوی په ملک کې یې پیدا کړي دي، محروم دي او تر هغې به یې دا حالت وي، ترڅو چې دوی قبیلوي ژوند په ملي او قومي ژوند تبدیل کړی نه وي او یو ملت شوی نه وي او پخپلو کې یې ورورولي، عزیزولي او قامولي مینه، محبت او پېرزوینه پیدا کړې نه وي

او ترڅو چې یې د قام عزت، خپل عزت او د قام بې عزتي خپله بې عزتي ګڼلې نه وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۷ مخ*

## سیاسي غرض

دا پروپېګنډه شوې ده چې انګرېز انصاف دار و. منم چې انصاف دار و، خو په داسې مسئلو کې چې کوم ځای کې به د ده خپل مفاد نه و، کله چې به د ده خپل سیاسي غرض و، نو بیا د انصاف سوال نه پیدا کېده. ولې په سیاسي معاملو کې یې بیا انصاف نه پېژندو او بیا هر ظالم چې تاسو وپېژنئ، د هغه نه زیات ظالم و.

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*

## د سرمایه دارو مذهب

هر مذهب او مسلک چې د خودغرضو او چالاکو خلقو په لاس ورشي بیا په کې هغه اولنی انقلابیت او روح پاتې نه شي، بیا د سرمایه دارو مذهب ترې جوړ شي او تش کالبوت شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*





کړي او د بشريت د ګاډي دوه پايې دي، دا ګاډی په يوه پايه نه شي چلېدی او بيا زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاک لمنې، حيا ناکې، مينه ناکې او وفادارې دي او ډېرې خدمتګارې دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۶ مخ*

## وران کور

مونږ په خبره ښه ځان پوه کړی دی چې پېرنګی ځکه په مونږ حکومت کوي چې د پېرنګي کور جوړ دی، وروروليې يې جوړه ده او مونږ ځکه غلامان يو چې زمونږ کور وران دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## د مذهب منل

چاته چې مذهب راغلی او هغوی منلی او عمل يې پرې کړی دی، په دې دنيا اباد شوي دي، د عزت خاوندان شوي دي، د خپل حکومت خاوندان شوي دي، د خوشحالی او امن ژوند يې نصيب شوی دی. تاسو عربو ته وګورئ، چې د اسلام نه مخکې د هغوی څه حال و؟ او چې اسلام راغی او عمل يې پرې وکړو، د هغوی څه حال شو؟ د اسلام په وجه دوی د حکومت، دولت او عزت خاوندان شول. تاسو د هغه وخت د مسلمانانو د ژوند په هر اړخ نظر واچوئ، غور او فکر پرې وکړئ او د اسلام د دې ټېکه دارانو په خبرو غور او سوچ وکړئ چې دا دوی چې کوم اسلام بيانوي، دا هغه د خدای او رسول اسلام دی که د سرمايه دارو؟ او دوی چې څه وايي د خدای دپاره بې وايي که د سرمايه دارو دپاره بې وايي؟

*لالونه مرغلرې، ۲۶ مخ*

## جنت وطن

د پښتنو تاريخ د داسې واقعاتو نه ډک دی چې کله داسې موقع په لاس ورغلې ده،

# نصب العين

د چا چې مقصد او نصب العين يو وي، هغوی کې همېشه مينه وي، محبت وي، هغوی کې به د رايې اختلاف هم وي، خو دا اختلاف د هغې ډلې دپاره رحمت وي. دا نن چې تاسو په ډلو کې پرې جنبې وينئ، تاسو تحقيق وکړئ، د هغوی مقصد او نصب العين يو نه وي؛ ځکه خو اختلاف رای د رحمت په ځای د هغوی دپاره زحمت شي؛ ځکه چې دوی دا کار د خدای او د خدای د مخلوق دپاره نه کوي، د خپل ذاتي غرض دپاره يې کوي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

# تعليم يافته

د قام مينه او خدمت او د حريت جذبه يوازې په تعليم نه ده. مونږ چې د قام د خدمت او ازادۍ تحريک شروع کولو، زه په ښارونو کې تعليم يافته خلقو پسې ډېر وگرځېدم، ما په هغوی کې داسې خلق پيدا نه کړی شول، چې د خدای دپاره د قام خدمت ته تيار وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

# غاصب حکومتونه

غاصب حکومتونه خو په دې ولاړ وي. چې په خلقو کې وېره پيدا کړي او د خلقو له زړونو نه چې وېره ورکه شي نو د غاصب حکومت بنياد ونړېږي او د دې حکومت مثال د غله وي چې د کور خاوند راويښ شي، نو بيا غل کله ټينگېدی شي.

*لالونه مرغلرې، ۲٦ مخ*

# پستي او بلندي

پستي او بلندي په عمل ده، که د چا عمل پست وي، هغه نر وي که ښځه په کار دي چې پست وگڼلی شي او چې د چا عمل اوچت وي، نر وي که ښځه په کار دي چې په درانه نظر ورته وکتلی شي. خدای خو نر او ښځه د دنيا د ابادۍ دوه ملگري پيدا

# اجتماعي ژوند

په پښتنو کې ډېر لوی لوی پاچاهان او مشران پیدا شوي او تېر شوي دي، خو هیڅ‌ا په پښتنو کې اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیدا کړی. اولنی تحریک خدایي خدمتګار تحریک دی، چې اجتماعي ژوند او فکر یې په کې پیدا کړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۳ مخ*

د پښتون د دې ټولې تباهۍ او بربادۍ وجه همدا ده، چې په دوی کې د اجتماعي ژوند د پیدا کولو کوشش چا کړی نه دی او که چېرې تاسو د پښتنو تاریخ وګورئ، نو عمرونه وشو، چې په پښتنو کې د ورورۍ، عزیزدارۍ، د مینې او محبت او اتفاق تحریک چا شروع کړی نه دی.

*خدایي خدمتګارې، ۹ مخ*

# دیني استاد

په دې کې د ملایانو غریبانو څه قصور نشته، موږ قام پخپله ګرم یو، چاته چې د دین او مذهب ټول واک او اختیار ور وسپارو او د تعلیم او تربیې غم یې نه کوو، دروازه په دروازه (وظیفه راوړئ خدای مو وبخښه) وایي. د دومره لویې ذمه وارۍ دپاره په دې طریقه خپل دیني استاذ تربیه کوو. دا زموږ خپله ګناه ده،

حقیقت دا دی، چې کله موږه مسلمانان شو، نو بعضې هغه د هندوانو د وخت رسمونه، رواجونه موږ پرې نه ښودل او لکه څنګه چې هغوی د ژوند د مختلفو شعبو دپاره بېلې بېلې ډلې ټاکلې وې، هغه هم په هغه شکل کې موږ جاري وساتلې؛ ځکه چې دلته اسلام راغی. نو هغه د مذهب (تبلیغ) په لار رانغی، د سیاست (تورې) په لار راغی. نو موږه د مذهب د حقیقت نه چا خبر نه کړو او لا تر اوسه پورې خبر نه یو. دا د کاسټ سیسټم روایتي اثرات دي، چې یوه ډله به تجارت کوي او یوه ډله به عام خدمتونه کوي. دا په اسلام کې نشته؛ بلکې په اسلام کې علم په هر مسلمان او مسلمانې فرض دی. زموږ د ملایانو د دنیایي علومو او سیاست خوا ته توجه نه شته او زموږ د دولتمنو خلقو د دیني علومو خوا ته توجه نشته. نو ځکه موږ په دنیا هم خوار یو او اخرت به مو هم خوار وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۴ مخ*


# حرکتونه

د انفرادي او اجتماعي حرکت یو فرق دا دی چې حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموش کولی او ختمولی شي.

هم دا وجه ده، چې په انفرادیت کې وېره او ترس هم ډېر وي او حکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي؛ ځکه چې وېره په کې نه وي، ډېر انفرادي حرکتونه چې ډېرو غښتلو پښتنو یې رهبري کوله، مغلو، انګرېزانو او پاکستان خاموش او ختم کړل.

مګر خدایي خدمتګار تحریک چې اجتماعي تحریک و، نه د پېرنګیانو ظلمونو، وژلو، وهلو، ټکولو، قیدولو، بې آبه کولو او فرېبونو ختم کړو او نه د پاکستان د دوه دېرش کالو ظلمونو، شرمولو، وژلو، جایداد ضبطولو، قیدولو، پرمټونو او لالچونو ختم کړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۲ مخ*



## ازمېښت

ای پښتنو ورونړو! مایوسه کېږئ مه، دا د خدای د طرفه په مونږ یو ازمېښت او امتحان دی، دا وخت د بېدارۍ ضرورت دی، پاڅئ او د مخلوق خدمت ته ملا وتړئ.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## د بربادۍ وجوهات

زمونږ جنګ د صبر جنګ دی، مونږ به د صبر نه کار اخلو او هر څه به الله پاک ته سپارو. د خپلو زړونو نه به نفاق لرې کوو، خودغرضي به ختموو؛ ځکه چې هم دا زمونږ د بربادۍ وجوهات دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## ښکاره کار

کوم کار چې بنده په ښکاره نه شي کولی، هغه کار په انسان کې وېره او کمزوري پیدا کوي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## د قانون استعمال

یو ښه قانون که په بد نیت جوړ شي، نو د هغې استعمال به یقینا بد وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

## سختې فیصلې

تکلیف ورکوونکې او سختې فیصلې چرې هم د رایې په اکثریت سره نه شي کېدی.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*


# دروغ

بېشکه چې دروغ د څه وخته پورې په خلقو کې غلط فهمۍ پیدا کولی شي خو چې رښتیا راشي، نو دروغ پاتې کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۴۶ مخ*

چې د سړي په زړه کې یو څه وي او وایي بل څه، نو په خلقو هغه ډېر اثر نه وي.

لالونه مرغلرې، ۴۶مخ







خدمتگار شئ. خپلو غرضونو ته شا کړئ، نو امید دی، چې خدای پاک به زمونږ امداد وکړي او موږ به پخپلو مقاصدو کې کامیاب شو او که همدغسې په قومي لباس کې خپل ذاتي غرضونه پوره کوو، نو یاد لرئ چې خدای د داسې ذلیل قوم هیچرې مدد نه کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## د قوم او ملک خدمت

خویندو! د قوم او ملک خدمت یوازې په سړو فرض نه دی، په تاسو زنانه وو هم فرض دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## ساده او وطني جامه

زما خویندو او میندو! که تاسو په ساده او وطني جامه صبر وکړئ، نو ستاسو نارینه وو ته به ډېره فایده ورسي. د قرض نه به خلاص شي او عمر به یې د عزت شي. دا به ستاسو د خپل ملک یو لوی خدمت وي. ددې نه علاوه که تاسو د فرصت په وخت کې هره ورځ لږه لږه څرخه کوئ او دومره سپنسي ورېشئ، چې ستاسو او ستاسو د نارینه وو د جامې دپاره کافي کېږي. نو یقین ولرئ چې تاسو به د ډېرو خرڅونو نه بچ شئ.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## زور او ظلم

زمونږ کار زور او ظلم زغمل او صبر کول دي. نو کوم سړی چې صبر نه شي کولی، هغه دې خدایي خدمتگار نه جوړېږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

# د حق مقابله

که چرې خدايي خدمتگار په رښتوني معنو کې د خپلو فرضو ادا کولو کوشش وکړي نو د دې ټولو خبرو اصلاح کېدی شي، چې رښا راشي، نو تياره نه پاتې کېږي. د حق مقابله کې باطل نه شي ودرېدی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

# جدا جدا څانگې

پښتون يو قوم دی، مومند دی که خليل، يوسفزی دی که محمدزی، خټک دی که بنگښ دی، وزير دی که مسعود، مروت دی که بېټني، غلجی دی که شينواری، دا ټول يو پښتون دی، جدا جدا څانگې دي، مونږ يې يو دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*



# مدد

زما ورونړو! که ددې خپل ذليل ژوند د ښه کولو څه ناڅه ارزو لرئ، نو رښتوني خدايي

# خپله ژبه

پښتون هر څومره که یو بهادر قوم دی خو د ژبې په معامله کې ډېر کمزوری دی. چرته چې لاړ شي نو خپله ژبه پرېږدي. همېشه دوی د بل ژبه قبلوي او خپلې ژبې ته شا کوي.

نو زه تاسو ته وایم چې خپلو بچو ته پښتو زده کړئ، کوشش کوئ چې ستاسو خپلو کې خط و کتابت په پښتو کې وي، د دې مطلب دا نه دی چې نورې ژبې هډو زده کوئ مه، بالکل یې زده کړئ ولې هله چې خپله قومي ژبه پښتو مو زده وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# دخدای دپاره

پښتنو د خدای دپاره پاڅئ، خپل کور جوړ کړئ، اواز یو کړئ،
خپلې کورنۍ دښمنۍ ورکې کړئ، مقدمه بازي پرېږدئ،
ناحقه شهادتونه مه کوئ،
ورور ورور وګنئ، خپل خپل وګنئ.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# د قوم وینه

د قوم د ازادۍ بوټی د قوم په وینو لویېږي او چې دا بوټی لوی شي نو د دغه سرفروشو زلمو بچي بیا د هغې ونې د سیوري لاندې ناست وي ارام کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# لویه سینه

مونږ چې د کوم غرض دپاره ملا تړلې میدان ته راوتي یو، د هغې دپاره د ډېرې لویې سینې ضرورت دی. د هغې دپاره ډېر صبر او ډېره لویه حوصله په کار ده.

لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ

# قومبازي

مونږ خو ټول پښتانه يو، که شيعه دی نو هم پښتون دی او که سُني دی نو هم پښتون دی. يو قوم يو او يو مو ملک دی، يو مو خدای دی، يو مو رسول دی. يو مو قرآن دی او حضرت علی رض تاسو هم منئ، مونږ يې هم منو نو بيا دا اختلاف په څه؟

د هر چا لاره بېله بېله ده، خو دا ملک خو مو شريک دی.

د دې ملک خدمت په شريکه په مونږ ټولو فرض دی.

*لالونه مرغلرې، ١٤ مخ*

# زمونږ ملايان

دا په اسلام کې نه شته، بلکې په اسلام کې علم په هر مسلمان او مسلمانې باندې فرض دی. زمونږ د ملايانو د دنيايي علومو او سياست خوا ته توجه نه شته

او زمونږ د دولتمنو خلقو د ديني علومو خوا ته توجه نه شته

نو ځکه مونږ په دنيا هم خوار يو او اخرت به مو هم خوار وي.

*لالونه مرغلرې، ١٧ مخ*

# شپون

غريب پښتون خو د ګډو يو ښه کنډک دی، ولې افسوس دی چې شپون نه لري.

دا ګډې خو هر چاته راغونډېږي، په دې تمه چې دا به زمونږ شپون وي او مونږ به د شرمخانو نه بچ کوي.

ولې چې چا ته راغونډې شي، هم هغه د بدې نه چاړه راوباسي د دوی مرۍ پرې کړي.

*لالونه مرغلرې، ١٨ مخ*



## د کامیابۍ راز

مونږ ټول پښتانه یو. یو قام او یو ورونړه یو. د یو بابا اولاد یو. زمونږ عزت او ذلت یو دی. که چېرې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث عمل وکړو: (چې په ځان دې څه پېرزو نه وي، په بل یې هم مه پېرزو کوه)، نو ډېر زر به کامیاب شو.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*

❁

مونږ له د خپل دود او دستور اصلاح په کار ده. *لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

## د فایدې خبره

دا خو د قوم او ملک دپاره ډېره د فایدې خبره ده، چې ټول قوم په یو سړي متفق شي نو خپل منزل ته ورسي.

خو دې خبرې ته کتل په کار دي چې هغه سړی چې څه کوي، د ځان دپاره کوي او که د قوم دپاره؟ پخپله خوښه کوي که د ملګرو په صلاح؟ که د ځان دپاره کوي او پخپله خوښه یې کوي نو بیا هغه پسې تلل نه دي په کار او دغه ځای ته خلق په خدمت رسېږي، نه چې په مخالفت.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

## منافق

زمونږ دا تحریک د رښتیاوو تحریک دی. مونږ منافقان نه یو چې په خوله مو یوه وي او په زړه مو بله وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

❁

ډیپلوماسي منافقت دی او زه منافق نه یم.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

# د خوشال خان دوې خبرې

د خوشال خان په باره کې دوى ډېرې خبرې وکړې، زه درته وايم تاسې د هغه خوشال له ډېرو خبرو نه يوازې په دوو خبرو عمل وکړئ!

اول دنيا سره مينه او بل د شخصي اقتدار شوق پرېږدئ!

مونږ دې څيز تباه کړو، تاسې که د اسلام تاريخ ته وګورئ، د مسلمانانو خزانې ډکې شوې، شرق او غرب يې ونيو، مګر کله چې په مسلمانانو کې د دولت او پيسو مينه او د شخصي اقتدار شوق پيداشو، نتيجه يې نفاق، خانه جنګي او بربادي شوه.

که د خوشال خان په دغو دوو خبرو مو عمل وکړو نو له دې خوارى، زارى او بربادى نه هم تاسي او هم وطن خلاصېږي، زه د پيسو او اقتدار مخالف نه يم. ديوه قام لپاره دا ضروري څيزونه دي.

ته دې موړ شې، خو چې ستا د غريب او تور سري قوم تعلق ورسره وي.

زه اقتدار غواړم، حکومت غواړم خو د دې لپاره نه چې زه دې حاکم شم.

زه که خوښوم، نو هغه پيسه خوښوم او هغه اقتدار خوښوم، چې د قوم او وطن د خدمت لپاره وي.

*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه۴ ۸ مخ*

# خپل ملک

هر چا له چې خداى ملک ورکړى دى نو د هغې اختيار د هغې قوم دى. يو مونږ بدقسمته خلق يو، چې ملک زمونږ دى او مزې پرې نور خلق کوي. په کار دي چې مونږ ټول په شريکه ملا وتړو چې خپل ملک ازاد کړو. مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*

## د خبرو او د کار قامونه

په دنیا کې په تشو خبرو قامونه اوچتېدی نشي، هغه قامونه چې ډېرې خبرې کوي، هغه زمونږ پشان خوار دي او چې خبرې نکوي او کار کوي هغه اباد دي.

د دنیا نور قومونه هم زمونږ پشان دي، خو هغوی اسمان ته ختلي دي.

پښتون خو لا تشه خبره نشي کولای، کوم قوم چې د بل خبره نشي زغملای هغه قوم په دنیا کې ترقي کولای نشي.

*د ستر خدایي خدمتگار ویاړلي یادونه۸۳ مخ*

## د ښو بدو فرق

یو بد عمله سړی چې وینې چې زما په بد عملۍ کې ملاتړ کېږي، نو هغه به ولې د خپلې بد عملۍ نه لاس اخلي او که مونږ د ښو بدو فرق وکړو او لکه چې هر ماسختن په مانځه کې دخدای سره وعده کوو چې (و نخلع و نترک من یفجرک) یعنې څوک چې ستا نافرماني کوي، مونږ به هغوی پرېږدو. کور کلی به ورسره نه کوو. که دا وعده په ځای کړو، پښتون به یکدم بدل شي نو مونږ ته په کار دي چې په دې خبرو هر پښتون پوه کړو او دا خبرې د هر پښتون غوږ ته ورسوو.

*لالونه مرغلرې، ۱۶ مخ*

## رواجي دوډۍ

زمونږ پښتانه ورونړه په رواجي دوډۍ زرگونه روپۍ لگوي. خو د قام بنیادي فنډ کې یوه پیسه نه ورکوي، دغه وجه ده چې مونږ د دنیا د تولو قومونو نه وروستو پاتې یو.

*لالونه مرغلرې، ۱۷ مخ*

## اثر والا خلق

یو قام هله د چا اثر قبلوي چې د اثر والا خلق په کې پیدا شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

تاسې د دنیا خلکو ته وګورئ چې د پوهې، کار او محنت په برکت کوم ځای ته رسېدلي دي؟ مګر مونږ؟ مونږ ته له امریکې ښخه د کومک په ډول جوار راځي، مګر هغه هم ترخه وي.

مونږ ته الله پاک د جنت په شان وطن راکړی دی، مګر مونږ د ناپوهی، لټی، بې اتفاقی او تربګنیو په وجه خپل دې جنت وطن نه ځان ته دوزخ جوړ کړی دی.

وږي، تږي، لوڅ، بربنډ، خوار او زار یو، آخر ترڅو؟

*د ستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه ۷۰ مخ*

زه خدایي خدمتګار یم او د خدای د مخلوق نه نفرت ګناه ګڼم او د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*



## مصیبتونه

په دنیا کې څوک د خدای د مخلوق د خدمت دپاره پاڅېدلي دي، نو په هغه مصیبتونه او تکلیفونه راغلي دي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*



## ستاسو خدمت

بابا ويل: زه په جسمي لحاظ هم ناروغه يم.
د پاکستان په ۲۳ کاله حکومت کې، زما اتلس کاله په جېل کې تېر شوي دي، ورسره ډېر بېدرکه ستړی يم، دلته به لږ څه دمه هم وکړم. تاسو عزيزانو ورونو سره به هم وګورم. د وروری، عزيزولی خبرې به درسره وکړم.
ما خو په ټول ژوند کې هلته هغو خلکو ته خدمت کړی دی، تاسې هم زما عزيزان ياست او راباندي حق لرئ، تر دې وروسته به ستاسو خدمت وکړم.
*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه۴۹ مخ*

## اخلاصمن قوم

پښتون قام ته څه ډېره ملامتيا نه شته، دا خوار قوم په زړه ساده او اخلاصمن قوم دی. د خپلو مشرانو سره يې مينه ده. خو هر څوک چې ورله د مشر په نامه را وړاندې شوی دی، نو ددې غريب قوم د ساده ګۍ او سپېڅلتوب نه يې ناجايزه ګټه اخستې ده او چې خپله يې پرې کړې ده، نو بيا يې همداسې لوڅ، بربنډ او بې اسرې پرېښې دي. چا ددې قوم حقيقي غم نه دی خوړلی او نه يې د ژوند سمه لاره ورته ښودلې ده.

*خدايي خدمتګاري، ۱۰ مخ*

## زه خدايي خدمتګار يم

تاسو خلک ماته (بابا) وايئ. دا خو ستاسو مهرباني ده، مګر زه مو بابا نه يم، باباګانو خوړلي ياست. زه مو خدمتګار يم، زه خدايي خدمتګار يم.
خدايي خدمتګار هغه دی چې د خدای د مخلوق خدمت د خدای لپاره کوي. څه مزد، اجوره، پيسه يا ټکه له چانه نه غواړي. خدای پاک خو زمونږ خدمت ته ضرورت نلري، د هغه د مخلوق خدمت د هغه خدمت دی.

# امتحان

نن پر پښتون قام د امتحان ورځ ده. دا د ډېر شکر ځای دی چې دغه قوم پدې امتحان کې لکه د غره غوندې مضبوط ولاړ دی.

که تاسو د ځان بدلون غواړئ او کنه، زمانه اوس بدله شوې ده او وخت هېڅوک تـه نـه گوري نو ځکه زه تاسو ته د دښمنۍ او تربگنۍ کولو پر ځای د مینې او یووالي توصیه کوم او وایم:

تاسې د مسلم لیگ، عوامي لیگ، اسلام لیگ او خدایي خدمتگارۍ د نومونو پر ځای د (پښتون) په کلمه راټول شئ!!

*دستر خدایي خدمتگار وياړلي يادونه ۳۱ مخ*

# گرفتاري

زه د گرفتارۍ نه نه وېرېږم؛ ځکه خو حکومت ته رښتیا وایم او څوک چې وېرېږي، هغوی حکومت ته رښتیا ویلی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

# د وطن درد

بابا: بچیه! دلته چې ستاسو د سردارانو په سر درد شي، بیا نو لندن تـه د عـلاج لپاره ځي.

عجیبه ده، زه له لندن نه کابل ته د علاج لپاره راځم.

هو! زما بل ډول ناروغي ده، د قوم او وطن درد دی، گونـدې د دې درد درمـل دلتـه ومومم.


*د ستر خدايي خدمتگار وياړلي يادونه ۴۸ مخ*

# قرباني

تر څو چې په یوه قوم کې د قربانۍ ورکولو مینه او شوق تر انتهایي درجې قوي نه شي، تر هغه پورې د هغه قوم د کامیابۍ تصور نشي کېدای.

زه تاسو ټولو ته د وطن او قوم د ترقۍ لپاره د قربانۍ د شوق او مینې د پیداکېدو سپارښتنه کوم او تر څو چې په مونږ کې د قربانۍ ورکولو طاقت موجود وي، مونږ پښتون قوم هیڅوک هم نشي ماتولی. او زه یقین لرم چې آخر به د پرنګیانو غونډې د پاکستان حکومت هم پوه شي، چې دا ملک د پښتنو دی او حکومت یې باید د پښتنو په لاس کې وي.

*دستر خدایي خدمتګار وياړلي يادونه ۳۰ مخ*



وي او د ټولو خلکو پکې یو شان خیر او فایده وي.

که پوره وي او که سپوره، په شریکه به وي، امن او انصاف به وي، زمونږ به د ټول قوم یوه جرگه وي او د هغې په خوښه به یو صدر وي.

د خدای لپاره پښتنو!

تاسو یو شئ!

خپل کور جوړ کړئ!

دا پرې، جنبې او دښمنۍ پرېږدئ، نو دین به مو هم ښه شي او په دنیا به هم اباد او سوکاله شئ.

په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف له خود غرضۍ نه پیداکېږي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱ مخونه.*

## بد رواجونه

زما مطلب د حکومت مخالفت نه دی. زه خو د پښتنو اصلاح کول غواړم چې د دوی دا بد رسمونه، رواجونه، پرې، جنبې لرې شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*



# انقلاب

انقلاب د منډې کار او دومره آسان څيز نه دی.

انقلاب د سږې سينې کار دی.

انقلاب علم او پوهه غواړي.

انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې له پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته يې تيار کړي.

د انقلاب لپاره د اشخاصو ضرورت دی.

پاچاهي خراب شی دی او د قوم او ملک پکې ډېر نقصان دی.

که چېرې نن يو پاچا ښه هم وي نو سبا به يې زوی پاچا وي، نو څوک ويلای شي چې گوندې هغه به هم ښه وي او پاچاهان کله د خپل قوم ترقي غواړي؟ ځکه چې هر وخت دا خيال کوي چې که دا خلک پوه شول، نو ما به لرې کوي او هر وخت د قوم د پوهې په لاره کې خنډ اچوي.

مونږ پاچاهان جوړول نه غواړو، پاچاهانو ته مو ضرورت نشته، زمونږ به يو مشر وي او د قوم په رايه، خوښه او مشوره به وي او هغه سړی به وي چې د قوم خدمتگار وي.

د خان، غريب او ميا ملا فرق به نکوي، داسې يو سړی به وي چې نېک، ايماندار او د قوم او ملک خيرخواه وي. د قام او ملک خدمت يې کړی وي، په دې برخه کې يې ډېر تکليفونه گاللي او قربانۍ يې ورکړي وي، نو چې د دا رنگه مشرۍ اهليت ولري، زمونږ حکومت به د جماعت د حزب تابع وي او جماعت به د حکومت تابع نه وي.

د پښتونخوا ملک زمونږ د ټولو پښتنو دی، نو مونږ يو سړی نه خان کوو، زمونږ کوښښ به دا وي چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړوو چې په هغه کې مساوات

# ژبې ته پام

له تعليم يافته کسانو سره به مې چې د ژبې په اړه خبرې کولې، دوی به راته ويل: چې پښتو لا څه ژبه ده؟ په دې کې علم نشته.

ما ويل: چې هلکه دا نورې ژبې خو له اسمانه نه دي راکوزې شوې. د هرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده.

پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نه ده کړې، پدې کې د پښتو ژبې څه گناه ده؟ دا خو زما او ستا گناه ده.

چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي، نو ورک شي.

د ژبې په هېرېدو کې سړی له خپلو نه پردی شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۴، ۲۵ مخونه.*



## د ملک او مذهب خدمت

د ملک او مذهب خدمت هغه سړی کولی شي چې اول خپله اصلاح وکړي، خپل اخلاق درست کړي، خپل اصول وپېژني. څوک چې خپل اصول نه پېژني، اخلاق یې خراب وي، هغه کله د خدای مخلوق ته فایده رسولی شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*


## د امان الله خان ژبه

زه یوه ورځ د امان الله خان ملاقات ته تللی وم. ډېرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبرو خبرو کې مې ورته دا ووېل: تا له ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي خو خپله ژبه نه درځي.

زما خبرو پر هغه ډېر تأثیر وکړ او وعده یې راسره وکړه چې زده به یې کړم.

کله چې له افغانستان نه وایستل شو، زه په بمبیي کې د ده لیدلو ته ورغلم نو هلته یې له ما سره په پښتو کې خبرې وکړې.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۳ مخ.*



# د خلکو بدلېدل

حقيقت دا دى چې يوازې قانون د ملک اصلاح نه شي کولاى او نه امن قايمولى شي. د خلکو د زړونو بدلولو ضرورت دى، تر کومه چې د خلکو زړونه بدل نه شي، جرمونه نه شي کمېدلاى.

د خلکو زړونه صرف د خدايي خدمتګارۍ تحريک بدلولاى شي، هر څومره چې دا تحريک خپور شي، هومره به د خلقو په زړونو کې بدلون راځي او لازمي نتيجه به يې په ملک کې امن او امان وي.کله چې په ډلو کې اختلاف پيدا شي، که د هغوى غړي ډېر ښه او زورور خلک هم وي، بېکاره شي او د هغوى توان د يو بل په غورځولو کې مصرف شي.په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف له خود غرضۍ څخه پيدا کېږي. زه چې هر څه د خپل ځان لپاره خوښوم، هغه د خپلو ملګرو لپاره هم خوښوم.

زه ډېر وخت خپلو ملګرو ته وايم چې زما په تقرير، تحرير، خبرو، رويه او سلوک کې چې نيمګړتيا وينئ، له هغو نه به ما خبروئ او څه وخت چې هغوى ما له خپلو غلطيو نه خبر کړي، زه له هغوى نه منه کوم او د هغې د اصلاح کوشش کوم.

له تشدد نه نفرت او له عدم تشدد نه محبت پيداکېږي.

انسان هم يو عجيبه څيز دى، څه وخت چې دى کمزورى شي او همت بايلي، نو بيا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو لپاره ډول ډول حيلې او حوالې لټوي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴ مخونه.*

# اسماني مذهبونه

حقيقت دادى چې دا ټول اسماني مذهبونه د خداى مذهبونه دي او دنيا ته د اتفاق، مينې، محبت او د خداى د مخلوق د ارام او خدمت لپاره راغلي دي.

د هر يو مذهب پر پيرو دا فرض دي چې د خداى د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لرې کړي او مينه او محبت پکې پيدا کړي. او يو له بل سره امداد وکړي، خو مونږ له دې حقيقت نه چا خبر کړي نه يو.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱۵ مخ.*

# د خدای د مخلوق خدمت

خدايي خدمتګار ځانته خدايي خدمتګار وايي، لېکن خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی. او د خدای مخلوق يوازې مسلمانان نه دي، ټول د هغه مخلوق دی که هندو دی، که سک دی، که عېسوي دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۵ مخ.*

❀

په خدمت کې اختلاف راتلی نشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ١٦ مخ*

# خدايي کار

مونږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه ته وايو چې له کومې تمې، غرض او اجرت پرته د خدای لپاره وشي. خدای خو خدمت ته اړتيا نلري. د خدای د مخلوق خدمت، د خدای خدمت دی.

مونږ د خلکو د پوهولو او پکې د مينې، محبت، ورورۍ او قامولۍ د پيدا کولو، د تعليم د شوق د پيدا کولو او د قام نه د غلطو رسمونو او رواجونو د ورکولو او د قامي مدرسو لپاره د مرستو د حاصلولو په غرض کلي په کلي، کور په کور دورې شروع کړې او په خلکو کې مو ژوند او احساس را پيدا کړ. زما له دورو نه پيرنګي ته وېره پيدا شوه.

د خدای لپاره او د خپل مظلوم قوم په خاطر، خپلې سينې له بغضو او کينو نه پاکې کړئ؛ ځکه چې دې شيزونو مونږ تباه کړي او برباد کړي يو.

که چېرې تاسو په رښتيا سره د خپل قوم او ملک زرغونول غواړئ نو د غنم د دانې په شان خپل ځانونه خاورې کړئ؛ ځکه چې تر کومه پورې يوې دانې ځان خاورې کړی نه وي، زرغونېدلای نه شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ٦، ۹، ۷،۸ مخونه.*

# پر وعده وفا

زه به میاشت په میاشت د خپل خرڅ د اخراجاتو فهرست درلېږم خو تر اوسه پورې تا خپله وعده پوره نکړه، دا ښه خبره نده، سړی چې وعده وکړي، هغه پوره کوي.
سبق کې کوښښ کوه، فضول خرڅي مه کوه، دروغ مه وایه، له خلقو نه قرض مه اخله، څه چې ستا لپاره مقرر دي په هغې گذاره کوه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۴ مخ*

# د قوم ابادي

د قومونو د ژوندي کولو او بېدارولو لپاره داسې کسان پکار دي، چې بېغرضه وي، دیانتداره وي، ایماندار وي او د خدای لپاره د خپل قام خدمت ته تیار وي،
چې داسې کسان په کوم قام کې پیدا شي، نو د هغوی په کوښښونو، په هغه قام کې مینه، محبت، همدردي، وروولي او عزیزولي پیدا شي. هغه قوم اباد شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲ مخ.*

# زمونږ کار

مونږ خدايي خدمتگاران یو. مونږ د مخلوق د فایدې او ارام لپاره پر ځانونو تکلیف تېروو.
زمونږ کار خدمت او نېکي ده، خو خلک چې له مونږ سره هر ډول چلند کوي، مونږ له چا نه د بدلې د اخیستو کوښښ نکوو.
زمونږ فرض بل ته تېرېدنه او صبر دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۳ مخ*

# ولي خان ته

تا یادوم، ته د خپل صحت او سترګو ډېر خیال ساته.

ستا ناسته دې همېشه د ښو خلقو سره وي او ښه کارونه کوه، د بدو خلقو له ناستې نه ځان ساته. ځان په خپله قبضه کې کړه، هغه خو دې ماشوم دی نه پوهېږي، هسې نه چې په هغه کې هم د غني پشان د فضول خرڅۍ عادت پیدا شي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۲ مخ*

زما او د ولي خان سوچ يو دی، فرق صرف دا دی چې زه اصلاحي او روحاني سړی يم او هغه سياسي لېډر دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۲ مخ*

# حساب کتاب

ازموده را ازمودن جهل است. ته غني ته وليکه چې ماته دې د ټولو روپو حساب کتاب راولېږي.

د دوی لپاره د مياشتې له څلوېښتو روپو نه زياتې مه ورکوه او د بل دويمه درجه کرايه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۲ مخ*

# غلط فهمي

خو نقدې پیسې هغه له په لاس کې مه ورکوه، ولې چې هغه د پیسو په خرڅ کولو نه پوهېږي. زما زړه په دې ډېر خفه کېږي چې غني ماته په خپل خط کې ليکلي چې دروغ د ښو خلقو کار ندی، زه پدې خبره ډېر خوشحاله يم چې ده کومې خبرې اورېدلي دي، هغه په زړه کې و نه ساتلې، بلکې ماته يې وليکلې او اميد ساتم چې د آيندې لپاره به هم چې څه اوري نو په زړه کې به يې نه ساتي، ولې چې له دې نه ډېرې غلط فهمۍ پيداکېږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۳ مخ*



# ښه او بد سړی

اوس د مقامي کار کوونکو لپاره پکار دي چې درې ډوله اعتماد پیدا کړي. دا پیدا کېدای شي، خو په خبرو نه، بلکې په عمل باید دا چاره ترسره کړو، که خلک له مونږ سره بد کوي نو مونږ له ښه کول پکار دي، که چېرې یو سړی مونږ سره بد وکړي او مونږ هم د هغه بدو په مقابل کې ورسره بد وکړو نو بیا زمونږ او هغه څه فرق وشو؟ چې څنګه هغه بد، دغه شان زه بد.

خو ښه سړی به هغه وي چې خلک ورسره بد کوي خو دی ورسره ښه کوي او دغه ته به رښتینی خدایي خدمتګار وویلی شي. خدای ته د رسېدو ذریعه د هغه د مخلوق خدمت وي او د هغه خوشحالي د هغه د مخلوق خوشحالي ده.

په ضبطي باندې خپګان وي، زه د هغه پر ځای هغه ته دا خپل قلم ورلېږم، نن سبا د پښتنو لپاره د ټوپک ضرورت نشته، بلکې د قلم ضرورت دی، ولې چې زمونږ د ملک آزادي به په ټوپک نه وي، بلکې په قلم به وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۸ – ۴۹ مخونه*

# بېځایه بحث

په دنیا کې د یوې خبرې یو ځل ظاهرول پکار دي، که چا ومنله خو ډېره ښه او که چا ونه منله نو بیا په هغه بحث کول پکار ندي، ولې چې د بحثونو تصفیه شوې نده.

یو ځل بیا کارخانې ته لاړ شه او په دې کار کې ښه لیاقت حاصل کړه، خو چې دا ځل لاړ شې نو خپل ځان یو طالب العلم فرض کړه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۱ مخ*

# د تحریک غرض

دا تحریک په دې غرض شروع شوی دی چې مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي او هرڅوک چې په دنیا کې ظالم وي، که مسلمان وي که هندو وي او که پېرنګی وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*



# ښه والی او بدوالی

د هر چا ښه والی او بدوالی د ځان لپاره دی، که چېرې يو سړی ښه شي نو هغه ته به فايده وي، او که چېرې بد شي نو هغه به په تکليف کې وي.


د قرض عادت ډېر بد دی او بيا د هغه د خلاصي کوشش نه کول ډېر بد دي.

زه در خلاص شوم چې د دنيا سياحت ته لاړ شو.

ميم صاحبې ته ځما له طرف نه ډېر سلامونه وايه او ورته وايه چې زه ستا د صحت لپاره دعا کوم.

مريم او تاجو ته زما له طرف نه مينه او محبت، هغوی ته پښتو ليکل او لوستل شروع کړه هغوی او ميم صاحبې ته وايه چې دواړه جينکۍ زما دي، پر دوی به زه د غريبانو پښتنو خدمت کوم، زما دوی ته ډېر اميدونه دي، هغوی هم زما دې خبرې منلو ته تيارې دي اوکه نه؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۴۴ مخ*



## د وخت ارزښت

انسان کمزوری دی او د غلطو نه ډک دی چې دی د خپلو کمزوریو احساس ولـري او د هغې د اصلاح کوشش وکړي. او د دې لپاره له جېل خانې نه بل ښه او موزون ځای نشته دی. نو پکار دي چې مونږ خپل ځان او ملګري پوه کړو او خپل وخت په عبثو او فضولو خبرو کې ضایع نه کړو او ښه لیک زده کړو. جېل خانه کـې انتظام شـته. ښـه سبق ووایو، ښه اخلاق، ښه خویونه، صبر او استقامت په ځـان کـې پیـدا کـړو. چـې د خدای د مخلوق خدمت د خدای د رضا لپاره وکړای شو او په کور کې مینه او محبـت پیداکړو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۵ مخ*

## په قوم مَین خلک

نو اول خو دا خپل کور جور کړئ او که دغه کېدی نشي، نو بیا دا دومره خبره خو زمـا ومنئ، چې په الیکشن کې د یو بل مخالفت ونکړئ.
زما دا عقیده ده چې په قوم کې داسې بېغرضه، پـه قـوم او تحریـک مَـېن خلـک پیـدا شي نو هغه ملک او قوم ابادېږي. خدای دې داسې خلک نور هم پدې قـام کـې پیـدا کړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۹ مخ*

خدای پاک دې تاسو ته د خپل قوم او ملک د خدمت لپاره ښه صحت درکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۲ مخ*

## خواران

وطن مو خوار دی، تاسو خواران یاست. دا مېلمستیاوې او دا بېځایه لګښتونه ستاسې او ستاسې د وطن له اقتصاد سره سمون نلري، تاسې ځان او وطن ته لږ پام وکړئ.

*دستر خدایي خدمتګار وياړلي يادونه ۴۷ مخ*

کې تميز وکړئ.

بې تعليمه خلک د مذهب په نوم ډېر زر دوکه کېږي.

دانې هميشه له هغه دانې نه پيدا کېږي چې ځان خاورې کړي.

له تربيت نه پاتې خلکو نه هېڅ کار مکمل کېداى نشي.

زه د اخلاص او محبت داعي او قائل يم.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۳ مخ*

## خپل مدد پخپله کوئ

د هندوستان د قومونو د خوارۍ او ذلت وجه همدا ده چې هغوى پخپله کار نکوي، بلکې د نورو په تمه ناست وي. څوک وايي چې امام راتلونکى دى او څوک د اوتار په انتظار کې دى، خو دا بدبخت نه پوهېږي، که چېرې هغوى هم راشي نو بيا خو به هم د هغو خلکو مدد کوي چې څوک خپل مدد پخپله کوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۰ مخ*

## احمد آباد جېل

احمد آباد کې د ملاقات په وخت کې ما له تا سره د څرخې ذکر کړى وو او مهاديوجي راسره هم دا ذکر وکړو.

او س زه د څرخ لپاره وخت وښکى (وباسلى) شم، مهرباني وکړئ تاسو زما هغه څرخه يا بله څرخه سره د پوړولي راولېږئ.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۲ مخ*

# آزادي او آبادي

آزادي د قوم د آبادۍ ذریعه ده. آزادي اسانه خو ابادي ګرانه وي. ابادي صرف د خدای لپاره د خدمت په جذبه کېږي.

په مونږ مسلمانانو کې دا لویه کمزوري ده چې خبره اورو، خو تحقق یې نکوو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۱ مخ*

د آزادۍ بوټی د ځوانانو د وینو په اوبه خور لوییږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۷ مخ*

# د قومونو عزت

زه چې تر څو ژوندی یم، زه به په ملک کې د شرافت جمهوریت او د انصاف د حصول لپاره کار کوم.

پښتون د ګټې زمری دی، خو د سنبالولو ندی.

د هیچا لپاره خپل اصول پرېښودل ندي پکار.

که د ظالم او مظلوم مقابله راشي نو مونږ به د مظلوم ملګري یو.

په لویو لویو جلسو، جلوسونو او اوږدو تقریرونو کې د قومونو عزت دلېګي(له منځه ځي).

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۲ مخ*

# خپل کور جوړول

که خپل ځان آزادول غواړئ، غریبي لېرې کول غواړئ، بربنډ پټول غواړئ او وږي مړول غواړئ، نو خپل کور جوړ کړئ، دښمني او بې اتفاقي پرېږدئ، دوست او دښمن

# راز داري

مونږ ته پکار نه ده چې له چا نه نفرت وکړو، پکار ده چې له هر چا سره ښه سلوک وکړو، خو دا مه کوئ چې د خپل جماعت خلاف د بل چا ملګري، رازدار او مددګار شئ. مونږ له پکار دي، چې په هر حالت کې د خپل جماعت د خلکو رازدار او مددګار و اوسو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱٦ مخ*

❀

هر سړی د خپل راز او ارادې نه خبرول نه دي په کار.

*لالونه مرغلرې، ۴۴ مخ*

# د خبرو اثر

چې سړی خبرې یو شان کوي او عمل یې بل شان وي، نو هغه خبرې په خلکو اثر نکوي. د قومونو ضمانت په یو بل اعتماد او اعتبار دی.

ډیپلومیسي منافقت دی او زه خو منافق نه یم چې په خوله مو یوه وي او په زړه مو بله وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۷ مخ*

❀

د دروغو مزل لنډ وي او تر هغه وخته پورې وي چې ربښتیا ښکاره شوي نه وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۷ مخ*





## د ځوانانو کار

ځوانانو ته پکار دي چې هر يو کار شروع کوي، چې په هغو ډېر فکر کوي، د هغې پر ټولو تکليفونو غور کوي،

که چېرې هغه ټولو تکليفونو ته تيار وي، نو هله دې هغه کار ته ملا وتړي او که چېرې دا تکليفونه نشي تېرولی، نو ښه به دا وي چې په کور کې آرام کېني او دعا وکړي؛ ځکه چې د ده دا بزدلي قومي مقصد ته نقصان رسوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱٦ مخ*

## د خپلې کمزورۍ پټول

مونږ خو به خپلې کمزورۍ له خلکو نه پټې کړو، خو له خدای نه خو يې پټولی نشو، هغه له به څه ځواب ورکوو؟

نو هر کله چې مونږ کمزوري له خدای نه پټولی نشو نو پکار دي چې له خلکو نه يې هم پټې نکړو او چې کوم کار کولی شو، نو په جار دې ووايو چې دا کولی شم او چې کوم کار کولی نشو، په جار دې ووايو چې دا نشم کولی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱٦ مخ*

## غني ته

نور کتابونه ترجمه کړه.

ستا کوم مضمونونه، چې په اخباراتو کې شايع شويدي، د هغې تا له مبارکي درکوم.

شکر دی چې ته پخپلو ارادو کې کامیابه شوې، هغوی تاله څه جرئت هم درکوي او کنه؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ٦۵*

# نور او مونږ

دا د دنیا قومونه چې آباد شوي دي، ترقي يې کړې او آسمانونو ته وختل او مونږ چې د هغوی ژوند او اسودګی ته ګورو، ورته پسخېږو.

دا زمونږ پشان خلک دي، له مونږ نه بهتر پيدا شوي ندي. خو په هغوی کې مليت، قامولي، عزتولي، علم، پوهه، مينه او محبت پيدا شو، ترقي يې وکړه

او په مونږ کې دا صفات نشته، په خاورو کې توغږېږو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*

# بل چا ته، که ځان ته ګوته نيول؟

زمونږ په خلکو کې دا يو لوی کمی او نقص دی چې مونږ همېشه د بل د کمزوريو او عيبونو د راوښکلو او لټولو په غم او فکر کې يو او خپلو کمزوريو او عيبونو ته فکر نکوو. پدې وجه خو نن په دنيا کې برباد او نېستمن يو.

د دې پر ځای چې مونږ بل ته ګوته نيسو، ځان ته ګوته نيول پکار ده او د نورو اصلاح نه رومبی د ځان اصلاح فرض ده اول ځان دی بيا جهان دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۵ مخ*

# قاعده او قانون

چې په کوم ځای کې انصاف نه وي او نه څه قاعده او قانون وي، د يو سړي وينا قانون وي، له هغه سره بحث کول څه فايده نلري.

بل هله خوشحالولی شې چې پر ځان تکليف تېر کړې.

چې يو سړی کار نشي کولی نو هغې ته دې ملا نه تړي او له داسې کولو نه، نه کول بهتر دي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۶ مخ*



# اشرف المخلوقات

انسان د خدای په ټول مخلوق کې اشرف ګڼلی شي، نو پدې وجه يې له نور مخلوق نه ذمه داري ډېره ده، خو زه چې دې خپل قوم ته ګورم، ماته په دوی او ځناورو کې فرق نه ښکاري. له دوی سره هم د خپلې ګېډې غم وي او له ځناورو سره هم د خپل کور غم وي، دوی هم بچي راوړي او د خپلو بچو غم خوري او ځناور هم بچي زېږوي او لويوي يې، نو دوی په څه اشرف المخلوق بللی شي؟ دوی هم لکه د ځناورو پشان يو بل وژني.

دوی به هله اشرف المخلوقات وبللی شي چې په دوی کې اجتماعيت وروولي، عزيزولي، مينه او محبت پيدا شي. تش پدې چې نور ځناور په څلورو پښو ګرځي او انسان په دوه پښو ګرځي، اشرف کېدای نشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،* ۱۲ -۱۳ مخونه

# اصلاح او قدرت

د دومره بهادر او لوی قوم پخپله ژبه کې يو قامي اخبار نشته.

د دنيا تاريخ ګواه دی چې په کوم قام کې داسې اشخاص پيداشي، چې هغوی د خپل قام د اصلاح لپاره پاڅېدلي دي، د اقتدار خاوندانو يې مخالفت کړی دی؛ ځکه چې هغوی خپل اقتدار په خطره کې ليدلی دی. تاسو دې خپل د خدايي خدمتګارو تحريک ته وګورئ، څومره چې په قام کې پوهه راغلې ده، هماغومره د اقتدار د خاوندانو قدرت کم شوی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،* ۱۳ مخ

# د انسان کرامت

زه خدايي خدمتګار يم، رکشه کې نه ځم؛ ځکه چې سړی يې راکاږي.

*لالونه مرغلرې،* ۱۴ مخ

# مذهب

د هر يو مذهب د پيروانو دا فرض دی چې د خدای د مخلوق له منځه کرکه او نفرت لرې کړي، مينه محبت پکې پيداکړي او له يو بل سره امداد وکړي، خو مونږ له دې حقيقت نه چا خبر کړي يو؟

په خلکو کې مذهب شته، خو په نوم مذهب دی.

مذهب د نفرت نه، بلکې د مينې او محبت علمبردار دی.

مونږ ته به طاقت خدای پاک راکوي، ځکه چې د طاقت اصل مالک د خدای پاک ذات دی.

په خپل ملک کې له خپل قام سره وږی تږی او په تکليف کې خوشحال يم.

نه په پاکستان دی او نه په اسلام، بلکې د قام او غريب اولس په حق دی.

چې په ځان دې څه پېرزو نه وي، په بل يې هم مه پېرزو کوه.

بله دا چې که په مونږ پښتنو کې يو سړی بدکار وي، نو د هغه ملګرتيا پکار نده.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۷ مخ*

# وينا او عمل

غني يو عجيبه هلک دی خو مستقل مزاج نه دی، خبرې ډېرې کوي، خو عمل کم. اميد دی چې ستاسو په توجه به يې اصلاح وشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۷ مخ*

# د ظالم ورکول

زمونږ فرض له دنيا نه ظلم ورکول دي او مظلوم له ظالم نه خلاصول دي، که ظالم زمونږ ورور او مسلمان هم وي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۴ مخ*

## ځان وپېژنئ!

خپل ځان وپېژنئ!

خپل خدای وپېژنئ!

او خپل دوست او دښمن وپېژنئ!

بس نور څه ولیکم؟

الله تعالی دې مونږ ټولو له صبر او استقلال راکړي.

او د خپل مخلوق د خدمت توفیق او طاقت دې راته عطا کړي.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۲۵ مخ*

## راشه درشه

دا خدمت پدې نه کېږي چې زه دې ځای پر ځای ناست یم او خلک دې ماته راشي. زه هم باید دوی ته ورشم.

*د ستر خدايي خدمتگار ویاړلي یادونه۷۳ مخ*



## حق او جمهوريت

امام حسين هم د حـق او جمهوريـت لپـاره راپاڅېـدلی و او مـونږ هـم د خپـل حـق او جمهوريت لپاره راپاڅېدلي يو. هغه هم مظلوم و او مونږ هم مظلومـان يـو. هغـه هـم د ظلم سره د مقابلې لپاره را اوچت شـوی وو او مـونږ هـم د ظلـم سره د مقـابلې لپـاره را اوچت شوي يو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ١١ مخ*

## د ميدان نه تېښته


سياسي قيديانو له په کـار دي چـې هـر يـو قـدم پخپـل خيـال اوچتـوي او نـور څـوک مجبوروي نه. مجبور کسان چې رؤ بيامومي، نو د ميدان نه بيا تښتي.

*لالونه مرغلرې، ۴۴ مخ*

## باغواني

هوا خوري اجازت دی. زما مشقت باغواني ده، دا کار زما ډېر خوښ دی، ما له يې يـو لوی پټی راکړی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ٣١ مخ*





## د خدايي خدمتګارۍ قسم

- زه خدايي خدمتګار يم او څنګه چې الله تعالى خدمت ته ضرورت نلري، خو د ده مخلوق ته خدمت، ده ته خدمت دی. زه تعهد کوم چې بشريت ته د الله تعالى په نامه سره خدمت وکړم.

- زه ژمنه کوم چې د تشدد او همدارنګه د بدل له اخيستلو څخه ځان وساتم.

- زه تعهد کوم چې هغه څوک چې پر ما تېری او ظلم کوي، عفوه کړم.

- زه ژمنه کوم چې خپل ځان د تربګنۍ، جدل او شخړې څخه وساتم او په دښمنيو کې ورګډ نشم.

- زه وعده کوم چې د هر پښتون سره لکه ورور او ملګري چلند ولرم.

- زه وعده کوم چې د ټولنيز رسم او رواجونو، دود او دستور پر ضد و نه اوسم.

- زه وعده کوم چې ساده ژوند ولرم، ښېګڼې عملي، د شيطانت او بدو اعمالو څخه ځان وساتم.

- زه ژمنه کوم چې ښه سلوک، خوی او خاصيت ولرم. له ټنبلۍ څخه ځان وساتم او وعده کوم چې د ورځې کم له کمه دوه ساعته اجتماعي (ټولنيز) کار ته وقف کړم.

*My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang,* ۹۷ مخ

## ابن الوقت کسان

تماش بين، خود غرضه او ابن الوقت کسان په جماعت کې اخيستل نه دي پکار، تحقق پکار وي چې داسې خلک واخيستل شي چې هغوی په حقيقت کې د خپل غرض لپاره نه، بلکې د قام د خدمت لپاره پارټۍ ته راځي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۰ مخ*

# د اوسنۍ نړۍ ساتل

اوسنۍ نړۍ په يوازې صورت يوازې کولی شي چې د اتومي اسلحو له شر څخه د عدم تشدد په پيروۍ ځان وساتي.

نړۍ د ګاندي جي غوندې کسانو ته ضرورت لري چې د دوستۍ، محبت او سولې پيغام له پخوا څخه لا زيات خلکو (نړيوالو) ته ورسوي.


پدې شرط سره، که واقعاً هغوی نه غواړي چې مدنيت او بشريت د نړۍ له مخ څخه ومينځل شي.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam ،اووم مخ*

# دعا

دعا کوئ چې الله تعالی ماته د خدمت لپاره همت، طاقت او صحت راکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۳ مخ*



# اختلاف رای

اختلاف رای همېشه په خلقو کې وي. اختلاف رای څه بد څیز ندی.

رسول اکرم (ص) خو د امت اختلاف رای ته رحمت ویلی دی. لېکن په موجوده وخت کې زمونږ د مسلمانانو او بیا خاص زمونږ د پښتنو اختلاف رای زحمت دی.

زمونږ له اختلاف رای نه همېشه ذاتیات جوړېږي او د دې ذاتیاتو په وجه که چېرې د پښتنو تاریخ وګورئ، نو همېشه تباه شوي او برباد شویدي.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۵٦ مخ*

# اخلاقي جرئت

رسم و رواج پرېښودل ډېر ګران کار دی، خو اخلاقي جرئت غواړي.

د غلطې پراپیګنډې مقابله کول پکار وي، چې سړی پاڅېږي، ملا وتړي او خلق په حقیقت پوه کړي. دا هله کېدای شي، چې د بېغرضو هم خیالو ملګرو مضبوطه ډله وي چې د خلکو اعتماد یې حاصل کړی وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*



# د جينكو تعليم او تربيت

زما خيال ورځ په ورځ د جينكو د تعليم او تربيت طرف ته زياتېږي.

ولې چې زه دا خبره د قوم لپاره خطرناكه ګڼم، چې هلكانو له دې تعليم وركړى شي او جينكۍ دې له علم نه محرومې پاته شي.

د دې نتيجه به دا وي چې زمونږ هلكان خو بـه اول لـه جـاهلانو ښـځو سره ودونـه نـه كوي او كه چېرې وېې هم كړي، نو اكثر به يې كـور سـمون نـه خـوري او همېشـه بـه پكې كش مكش وي.


چې له دې نه زمونږ ملک او قوم ته د يو لوى نقصان د رسېدو اندېښنه ده.

*باچا خان ليكونه، لومړى برخه، ۱۵ مخ*

## خپله اداره

د سرحد ولايت دپښتنو ملک دى او بايد پخپله د پښتنو له خوا اداره شي.

*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه ۲۸ مخ*





## زغم او صبر

در اصل عدم تشدد يو طاقت دی څرنګه چې تشدد يو طاقت دی، د عدم تشـدد هـم دغه شان فوج دی لکه څنګه چې د تشدد دی، خو د عدم تشدد وسله تبليغ دی او د تشدد وسله ټوپک دی. عدم تشدد په خلقو کې محبت پيدا کوي، همت پيدا کـوي او جرئت پيدا کوي او تشدد په خلقو کې نفرت پيدا کوي او وېره پيدا کوي او بزدلي پيدا کوي. بعضې خلق وايي چې د دفاع دپاره خو تشدد په کار دی، دوی دې تـه فکـر نـه کوي چې تشدد دې وکړو، نو د عدم تشدد لاره دې پرېښووده.


حالانکه عدم تشدد کې خپله دفاع شته. عدم تشدد کې شکست نه شته او تشدد کې شکست شته، څنګه چې د تشدد يو نظام دی دغه شان د عدم تشدد هم مکمل نظام دی. تشدد اسان دی او په دې لاره تلل هم اسان دي او عدم تشدد ډېـر ګـران دی او په دې لاره تلل هم ډېر ګران دي. يو سړي له د پړق جواب کې پړق ورکول اسـان کـار دی، خو پړق زغمل ګران کار دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

## مسلمانان

مسلمانانو اسلام هېر کړی دی؛ ځکه خو ورور د ورور دښمن دی.

*ارشادات ومکتوبات باچه خان، ۲۱ مخ*



# تشدد او عدم تشدد

د تشدد وسله ټوپک ده.

عدم تشدد محبت دی، په خلقو کې محبت پيدا کوي. صبر او همت پيدا کوي. جرئت پيدا کوي.

تشدد په خلقو کې نفرت پيدا کوي، وېره او قهر پيدا کوي او تاسې د اسلام ابتدايي او د مکې زندگي وگورئ، چې هغه خو د تشدد زندگي وه.

او دا څومره لوی صحابه چې په اسلام کې وو او دا لوی لوی کارونه يې کړي دي. هغه ټول مکي وو او عدم تشدد يې پيدا کړی دی.

*د باچا خان ليکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ*

بابا: خير دی بچيه! زما په خبرو غور وکړه، له تشدد څخه نفرت او له عدم تشدد څخه محبت پيداکېږي.

پښتانه خو په خپل کور او خپل ورور باندې تشدد کوي، له همدې نه دوی ځانونه تباه کړيدي.

*د ستر خدايي خدمتگار وياړلي يادونه ۵۹ مخ*



# دین او زړه

زمونږ ملک ته اسلام د اسلام په لاره رانغی، د سیاست په لاره راغی، د ملک گیرۍ په لاره راغی، د زور او تشدد په لاره راغی.

او په دین کې زور نشته، بلکې هغه د زور مخالف دی.

لااکراه فی الدین، ولې چې د دین تعلق له زړه سره دی او زړه په زور یو شی نه قبلوي، بلکې په پوهه یې قبلوي، نو د دین لار زور ندی، تبلیغ دی.

*د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ*

# بېځایه مصرف

زمونږ د پښتنو یوه لویه بد قسمتي او ناپوهي داده چې مونږ په رسمونو او رواجونو کې په زرگونو روپۍ بېځایه خرچ کوو، خو د قام، وطن او اجتماعي ښېگڼو لپاره د یوې پیسې خرڅ کولو ته تیار نه یو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۹ مخ*

# انقلاب

انقلاب د منډې کار او دومره اسان څیز ندی. انقلاب د سړې سینې کار دی. انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې له پوهې سره قام ورزوي او انقلاب ته یې اماده کړي.

انقلاب یو سېلاب وي چې راشي، نو ویده خلک یوسي او ویښ ترې فایده اوچته کړي.

د انقلابي اصلاحاتو پواسطه دا معاشره پاکېږي او د دغو اصلاحاتو لپاره انقلابي ذهنیت او انقلابي اراده او اخلاص پکار دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۱۰ مخ*

# اندرا ګاندي ته پيغام

ما تا ته په څرګنده توګه تشريح کړل چې ټول افغانان د کمونستانو پر ضد دي.
ما تا ته هم ويلي دي چې په افغانستان کې هېڅ وخت کمونېزم حاکم کېدلای نشي.
که جګړه دوام وکړي، د افغانستان خلک به له منځه ولاړ شي.
ته د نهرو لور يې او هم دې د ګاندي جي او د هغو له ملګرو سره ژوند کړی دی. ته ماته هم د لور پشان يې.
په افغانستان کې ماشومان، ښځې او سړي مري.
ته پخپل زړه کې هېڅ رحم نه لرې؟

*Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban،* ۹۳ مخ

*Ghaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns: Gandhi.R،* ۲۵۵ او۲۵٦ مخ

# د بدکارو ملګرتيا

د بدکارو او بد چلندو خلکو ملګرتيا پکار نده، که هغه زمونږ ورور هم وي، ځکه چې د دوی له لاسه قوم او ټولنې ته نقصان رسېږي او همدا خلک قام تباه کوي.
دا نن چې پښتانه په بدو لارو روان دي، وجه يې دا ده چې مونږ د ښو او بدو فرق نه کوو او نه ځوک شته، چې په ښو او بدو مو پوه کړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،* ۱۵ مخ



# د ببرک کارمل په نامه د باچا خان لیک

**((د ببرک کارمل په نامه!**

خوږه ببرک کارمله! عمر دې ډېر، پام دې په ښه، روغ جوړ او خوشحاله اوسې.

ته اوس هغه کارمل نه يې چې ما ليدلی وې. ستا خو له دې ملک سره ډېره مينه وه، ډېر محبت او همدردي دې وه، ته خو دې خپل ملک او قوم ته وګوره. اباد شو او که برباد شو. په دنيا کې چې په هر ملک کې انقلاب شوی دی يا کمونېزم راغلی دی، هغه ملک اباد شوی دی، خو مونږ پرې برباد شو. انقلاب بدلون ته وايي، دا انقلاب ندی او نه کمونېزم دی، دا د دوو ډلو په منځ کې جنګ دی. يوې ډلې سره امريکا او بلې ډلې سره روس امداد کوي او له دواړو خواوو نه تباه کېږو مونږ. تا له پکار دي چې ته پدې مسئله غور او فکر وکړې او علاج يې وسنجوې او د خپلې ډلې او قوم سره مشوره وکړې او دا مسئله حل کړې چې پدې وطن کې امن راشي. هم به ستا د نېکنامۍ سبب شي او هم به د قوم د ابادۍ او ترقۍ لپاره ميدان هوار شي، که زما خبره دې ونه منله او وخت تېر شي، بيا به ارمان کوې.))

*نګاه مختصر به افکار و مبارزات تاريخي*

*خان عبدالغفار خان (پاچا خان)، ۸۶-۸۷ مخ*

# د لړم بچی

خدای دې پښتون ته د بدۍ وس نه ورکوي او چې وس ومومي، لکه د لړم د بچو په شان خپله مور خوري.

د کاميابۍ لپاره اجتماعي تحريک او قرباني پکار وي.

د ګناه او ثواب پر حقيقت د بېعلمه عالمانو په وجه څوک پوه نشول.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۰ مخ*



# د نور محمد تره کي په نامه د باچا خان ليک

**((د نور محمد تره کي په نامه!**

وروسته د القابو، دعا، سلام، نېکو هيلو او تعارفاتو...

لېنن چې په روسيه کې انقلاب وکړلو، په لومړيو ورځو کې يې د خپلې پارټۍ ليډران، د حکومت وزيران او ذمه دار کسان ځانته راوبلل، له هغو نه يې جرګه جوړه کړه او ورته يې وويل: تر اوسه پورې دلته بادشاه ناست وه او پدې ملک کې شاهي نظام چلېده، هغوی له خلکو سره بد سلوک کاوه، خلکو د هغه تخته واړوله او اوس پرې بد وايي او زمونږ او ستاسو په راتګ خوشحاله دي، نو مونږ او تاسو بايد له دې واقعې نه د عبرت درس واخلو.

خلکو سره ښه وچلېږو، ورته خدمت وکړو او خوشحاله يې وساتو چې د تل لپاره زمونږ شاته ودرېږي.

خيال ساتئ چې مونږ بايد داسې ونکړو چې خلک زمونږ د بد چلند، ظلم او ستم په سبب ببرته د هماغو بادشاهانو په ارمان شي دا به هم زمونږ او هم ددې وطن ډېره لويه بدبختي وي.

نور تره کي صاحب!

ته هم دا د خپلې پارټۍ ليډران او د حکومت لوی ذمه وار کسان ځان له وغواړه، هغوی ځان سره کېنوه او ورته ووايه، چې پام چې داسې بد کارونه، ظلمونه او ناروا ونه کړئ چې سبا به بيا هم تاسې پښېمانه يئ او هم به خلک ببرته د بادشاهانو او شاهي نظام په ارمان شي...))

*نګاه مختصر به افکار و مبارزات تاريخي خان عبدالغفار خان (باچا خان)، ۸۵-۸۴ مخ*

# په کابل کې د هند سفیر ته

افغانان، پښتانه به هېڅکله کمونیزم یا روسیه ونه مني. دوی به مړه کېږي. څوک چې کولای شي، وطن به پرېږدي.

زه باید له برژنیف سره خبرې وکړم، زه به هغه ته ووایم: «رحم وکړه».

زه به رېگن ته هم ووایم: «رحم وکړه».

کمونستان نه یوازې خلک، بلکې ونې هم په افغانستان کې له منځه وړي.

انقلاب په یو ظلم باندې اوښتی دی.


سفیره! تاسو ځوان یاستئ، خو تاسو باید یوه غمیزه وپېژنئ. اوس په افغانستان کې داسې غمیزه روانه ده. مجاهدین د شپې وژنه کوي، روسي عسکر سهار وژنه کوي. نتیجه یې دا ده، چې پښتون مري.

*Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban* ۳۰ مخ

# د بل فکر

مونږ همېشه پخپل خیال پسې ځو او د بل فکر نه کوو. دا یو لوی کمی دی، مونږ له پکار ده چې همېشه د خدای د مخلوق د تکلیف او آرام فکر او خیال وساتو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۵ مخ*



# په نورو اعتراضونه

زمونږ کار په چا اعتراضونه او نکته چیني نده.

او دا زمونږ کار ندی، چې په نورو جماعتونو او د هغوی په مشرانو نکته چیني او اعتراض وکړو.

زمونږ کار دا دی، چې مونږ خپل پروګرام خلکو ته پېش کړو، چې مونږ ستاسو پاره دا غواړو او دا کار یوازې نکېږي. دا به هله کېږي، چې تاسو راسره ملګري شئ. ملک ستاسو او زمونږ شریک دی، قوم هم شریک دی او کار هم شریک دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۶۵۱ مخ*

# د کلي تحریک

دا تحریک د خدای د مخلوق د خدمت او انسانیت تحریک ؤ.


دې تحریک په مسلمانانو، هندوانو، سکهانو کې د مینې، محبت او خدمت جذبه پیدا کړې وه، چې پخوا یې مثال نه ؤ.

دا تحریک کلیوال تحریک ؤ، مرکز یې هم په کلي کې ؤ، ځکه چې اکثریت قوم په کلي کې اوسي.

د دې تحریک فرق له نورو تحریکونو نه دا ؤ، چې نور تحریکونه له ښارونو نه شروع کېږي او په کلو کې خورېږي.

مګر دا تحریک له کلو نه شروع شو او په ښارونو کې خور شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۷۲۹ مخ*



## وېره

زه پدې نه پوهېږم، چې تاسو ولې له پیرنګیانو نه وېرېږئ، دوی خو ستاسو پشان بنیادم دي، ستاسو په شان یو قوم دی.

تاسو خو پرو جنبو او نفاق تباه کړئ، وېره درکې پیدا شوېده.

د چا په زړه کې چې د خدای وېره وي، نو د هغه په زړه کې د بل چا وېره نه راځـي او له چانه نه وېرېږي.

او د چا په زړه کې چې د خدای وېره نه وي، هغه له هر چا نه وېرېږي.

اې ورونړو تاسو په زړه کې د خدای وېره پیدا کړئ!

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۶ مخ*

## پټ کار

هغه کار چې سړی یې په ښکاره نشي کولی او پټ یې کوي، سړی کمزوری کوي او له خپلو اصولو نه یې وباسي او په سړي کې وېره او بې زړه توب پیدا کوي.

ځومره چې یو سړی خپل خواهشات او ضروریات کمولی شي، هغومره به آرام او خوشحاله وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*



# بدل

زمونږ د صبر جنګ دی. مونږ به د وهلو او ښکنځلو بدل نه اخلو. مونږ به صبر کوو او ځان به خدای ته سپارو.

مونږ خدايي خدمتګاران يو، خدای به زمونږ بدل اخلي.

د خپلو زړونو نه خود غرضي او نفاق لرې کړئ، ځکه چې د دې له لاسه برباد شوي يو، ځان کې ښه اخلاق پيدا کړئ.

ولې چې د ښو اخلاقو نه بغير څوک ترقي نشي کولی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳٦ مخ*

# صبر

زمونږ جنګ د عدم تشدد جنګ دی او پدې لاره کې چې هر قسم تکليفونه او مصيبتونه راځي نو په صبر به يې تېروو. مونږ به له چا نه بدل نه اخلو. مونږ خدايي خدمتګار يو، خدای به زمونږ بدله له ظالم نه اخلي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۹ مخ*



او څه وخت چې هغوی له سبق نه فارغې شي، نـو د هغـوی د مرضـا مطـابق دې پـه معاملاتو کې له هغوی سره هر قسم امداد وکړای شي.

*باچا خان ليکونه، لومړی برخه، ۱٦ مخ*

## دوه ملګري

خدای پاک نر او ښځه د دنيا د ابادۍ دوه ملګري پيدا کړي دي او د بشريت د ګاډي دوې پايې دي، دا ګاډی په يوه پايه نشي چلېدلای.

زمـونږ د پښـتنو ښـځې خـو ډېـرې پـاک لمنـې، مينـه نـاکې او وفـادارې دي او ډېـرې خدمتګارې دي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۰، ۲۱، ۲۲ مخونه.*

## د اسلام په نامه بې علمي

عجيبه خبره خو دا ده، چې ملايانو د دين په نامه خلک له علمه محروم کړل، پداسې حال کې چې اسلام داسې دين دی چې علم يې پر نر او ښـځو فـرض کـړی دی، خـو مونږ داسې بد قسمته قوم يو چې د اسلام په نامه له علم نه پاتې شو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۱۰ مخ*



# پښتنې

زمونږ پښتنې ښځې ډېرې پاک لمنې، حياناکې، وفادارې او خدمتگارې دي، زه تل دا هڅه کوم، چې د ښځو له مغزو نه د کمترۍ احساس لرې کړم، ځکه په دوی کې دا احساس خود غرضو او ناپوهو سړو پيدا کړی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۲ مخ*

❀

ښځې په پېروي ډېرې مَېنې وي. چا له يې نه ورکوي او پرې خفه کېږي، ولې چې بيا په کوچو کې نقصان راځي.

*لالونه مرغلرې، ۲۲مخ*

# د جينکو ورکول

هغوی چې جينکۍ په وړوکوالي ورکوي او جينکو له موقع نه ورکوي، چې هغوی په خپله خو ښه باندې واده وکړي او يا يې نه ورکوي. د دې متعلق زما دا رايه ده چې د دې رسم پرېښودل پکار دي او که چېرې ټول خلک يې پرېښودو ته تيار نه وي، نو کم از کم تعليم يافته خلکو له خو پرېښودل پکار دي او هغو له پکار دي، چې له ټولو نه اول خپلو بچو له تعليم ورکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۷ مخ*

❀

زمونږ په قوم کې دا يوه ډېره د نقص خبره ده، چې هغوی جينکۍ په وړوکوالي ورکوي او جينکو له دا موقع نه ورکوي چې هغوی پخپله خوښه واده وکړي او يا که نه غواړي، نو ندې کوي.

د دې متعلق زما دا رايه ده، چې دا رسم هم پرېښودل پکار دي.

او هغو له پکار دي، چې له ټولو نه اول خپلو بچو له تعليم ورکړي او د هغوی د اخلاقي تعليم او تربيت خاص خيال وساتي.

# ښځو ته

دا ملک چې څنګه د سړو دی، داسې ستاسو هم دی.

او دا ستاسو چې څنګه خیال دی چې سړي لوی دی او ښځه وړوکې ده، دا په اسلام کې نشته، لويي په عمل کې ده.

که ښځه بااخلاقه، نېکه او پاکه وي، نو هغه لويه ده او که دغه شان يو سړی وي نو هغه هم لوی دی او که دغه شان يوه ښځه بد عمله، بداخلاقه وي، نو هغه وړوکې ده او که يو سړی هم دغه شان وي، نو هغه هم وړوکی دی.

په دې ملک کې ستاسو له مونږ سره يو شان حصه ده.

ښځه او سړی د ګاډۍ دوه پايې دي، که يوه پنچر شي، نو ګاډۍ مخکې تلی نشي.

*زما ژوند او جدو جهد،۵۳۰ مخ*

❀

په دې ملک د ښځو او سړو يو هومره حق دی.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

# د قام ښځې

د کوم قام ښځې چې بيدارې شي او د ملک د آزادۍ لپاره ملا وتړي، نو هغه قوم څوک غلام نشي ساتلی او هغه قومونه به ډېر زر خپل منزل ته ورسېږي.

قامولي، ورورولي، مينه، محبت او اتفاق نشته.

پيسه چې يو قوم ته خوږه شي، نو هغه بيا اشنايۍ او دوستۍ ته نه ګوري.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۸ مخ*

❀

د پښتنو ښځې د نارينه وو نه ذهينې دي.

*لالونه مرغلرې،۴۳ مخ*

# زمونږ حکومت

دا ملک زمونږ د ټولو پښتنو دی، نو مونږ یو سړی نه خان کوو.

زمونږ به کوشش دا وي، چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړوو، چې په هغه کې مساوات وي او د ټولو خلکو په کې یو شان خیر او فایده وي.

که پوره وي او که سپوره وي، په شریکه به وي، امن وي، انصاف وي، زمونږ به د ټول قوم یوه جرگه وي او د هغې په خوښه به صدر وي.


*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۸ مخ*

# زما مذهب

زما مذهب رښتیا، مینه، محبت او د خدای د مخلوق خدمت دی.

مذهب همېشه دنیا ته د اخوت او محبت پیغام راوړی دی. د کومو خلکو په زړونو کې چې د بني نوع انسان لپاره رواداري، مینه او محبت نه وي او د کوم سړي په زړه کې چې نفرت، بغض، کینه وي، نو داسې سړی له مذهب نه ډېر لرې وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۶۸۶ مخ*



# بادشاهي

زمونږ حکومت به د جماعت تابع وي، جماعت به د حکومت تابع نه وي.

بادشاهي خراب شی دی او د قوم او ملک پکې ډېر نقصان دی.

او که چېرې، نن يو باچا هم ښه وي، نو سبا به يې زوی باچا وي، نو څوک ويلی شي چې ګوندې هغه به هم ښه وي او باچايان کله د قوم ترقي غواړي؟

ولې چې هر وخت دا خيال کوي چې که دا خلک پوه شول، نو ما به لرې کړي نو هغه هر وخت د قوم د پوهې په لاره کې خنډونه اچوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۸ مخ*


# خبرې او عمل

دا خبره زما ياده ولرئ!

چې په دنيا کې کوم قومونه چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر، نو هغه قامونه همېشه خپل منزل ته رسېدلي دي.

زه تقرير نکوم. زما په تجويز غور وکړئ!

*زما ژوند او جدو جهد،۳٦۷ مخ*



## زمونږ مشر

دا تاسو چې زما د بادشاهۍ چغې وهئ، نو چې دا تحریک مونږ شروع کړی دی، دا خو د باچایۍ لپاره ندی چې زه دې بادشاه شم.

او که چېرې تاسو ما بادشاه کړئ، نو اول خو په اسلام کې باچایي نشته او بله دا چې ستاسو به خاورې په سر شي او زما به مزې وي، نو تاسو پوه شئ چې نه ما او نه بل خپل باچا کړئ.

مونږ باچایان جوړول نه غواړو، باچایانو ته مو ضرورت نشته.

زمونږ به یو مشر وي او د قوم په رایه او مرضا او مشوره به وي او هغه سړی به وي، چې هغه نېک او ایماندار او د قوم او ملک خیرخواه وي، تکلیفونه او قرباني او ډېر خدمت یې د قام او ملک کړی وي.


او چې د دې مشرۍ اهلیت او پوهه هم پکې وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۷ مخ*

## د ملک تباهي

د افغانستا ن جنگ د امریکې او روس جنگ دی، پاکستان د امریکې د مفاداتو لپاره خپل ملک تباه کوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۱ مخ*



## د خپل ملک جامې او ژبه

د شپې د ټول کلي ښځې راجمع شوې، ما او حکيم صاحب ورته تقريرونه وکړل چې: تر کومې پورې چې تاسو قام لپاره ملا تړلې نه ده، قوم اوچتېدی نه شي او د خپل ملک د جامو اغوستو وعدې مې ترې واخيستې، چې د خپل ملک جامې به اغوندي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۶ مخ*

## د هزارې پښتنو!

زما دا خبره ياده ولرئ، چې له چا نه ژبه ورکه شوېده، هغه ورک شوی دی او چاته چې خپله ژبه سپکه شوېده، هغه سپک شوي دي.

تاسو خپله ژبه هېره کړېده او تشه ژبه درنه ورکه شوې نده، بلکې ورسره هغه پښتو درنه هم ورکه شوېده.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۴ مخ*

## جنگ

د جنگ په وخت کې آسونه نه تيارېږي.

نو ځان ورته نمونه کړه چې ته روان شوې، دوی هم درپسې روانېږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*



## زمونږ ملاتړ

مونږ د خدای لپاره د خدای د مخلوق خدمت ته ملا تړلې ده.

که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول غواړئ او خدای رضا کوئ، نو مونږ سره په خدايي خدمتګارۍ کې زمونږ ملا وتړئ، چې دا دنیا مو هم جنت شي او اخرت کې هم د جنت حقدار شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۱ مخ*

## د ځان خاورې کول

کومه دانه چې په پټي کې ځان خاورې نکړي، هغه هم چېرې زرغونه شوېده؟ هغې نه هم چېرې بوټی شوی دی؟ او د هغې نه هم چېرې دانه پیدا شوېده؟

دانې همېشه له هغې دانې نه پیدا کېږي چې ځان خاورې کړي.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه،* ۴۶ مخ

## د بل لپاره

مونږ پښتانه د بل لپاره ولې ښه ښه کارونه کوو خو د ځان لپاره هېڅ نکوو؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،* ۱۵ مخ

## وړیا کتاب

زه هیڅ شی، خصوصاً کتاب او اخبار په وړیا توګه نه اخلم.

*د ستر خدايي خدمتګار ویاړلي یادونه*۹۶ مخ

## دعا او عمل

بې عمله دعا د خدای پاک په نزد نه قبلیږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۱ مخ*

غلامي د خدای لعنت دی او مونږ له دې لعنت نه ځان خلاصول پکار دي او دا به هله وشي چې مونږ کې قامولي، ورورولي، اتفاق او مینه محبت پیدا شي. زه امید کوم، چې تاسو به زما په دې خبرو غور او فکر وکړئ.

که دې کې یوازې زما فایده وي، نو مه یې کوئ او که دې کې ستاسو د دنیا او اخرت ګټه وي، نو عمل پرې وکړئ چې تاسو آباد شئ او ستاسو بچي آباد شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰۶ مخ*

## ترقي

زما عقیده ده چې یو قوم هله ترقي کولی شي، کله چې د هغه قوم ښځې د سړو سره اوږه په اوږه د قوم خدمت ته ودریږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*



## اصلي مطلب

مونږ هم يو قوم يو. مونږ له هم د خپلې آبادۍ او ترقۍ لپاره څه جدوجهد په کار دی او که ټول عمر په نېستۍ او غلامۍ کې پراته يو، نو ورک به شو.

زمونږ اصلي مطلب په قوم کې مينه، محبت، قامولي، وروروَلي او اتفاق دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۰ مخ*

## ستاسې ملک

ای ورونړو!

که يو قوم شوئ، نو تاسو ته خدای داسې ملک درکړی دی چې له دولتونو او نعمتونو نه ډک دی، خو ستاسو د بې اتفاقۍ په وجه پرې نور خلک مزې کوي او که تاسو يو قوم شوئ، نو ستاسو ملک بل څوک خوړی نشي.

ستاسو دنيا او اخرت به اباد شي او داسې ملک به مو په برخه شي، چې په هغه کې به يو سړی غريب پاتې نه شي، ټول به خانان شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ*



# خدايي خدمتګاري

خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی او د خدای مخلوق يوازې مسلمانان نه دي، ټول د هغه مخلوق دي.

که هندو دی، که سک دی، که عيسايي دی، زمونږ فرض له دنيا نه ظلم ورک کول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول دي.

مونږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو، چې څوک د خدای پر مخلوق ظلم کوي، که ظالم زمونږ ورور او مسلمان هم وي.

بله دا چې زمونږ خدمت به د خدای د پاره وي، د څه غرض د پاره به نه وي. مونږ له چې څوک څومره تکليف راکوي، زور زياتی راباندې کوي، مونږ به بدل نه اخلو، بلکې صبر به کوو او د هغه سړي، قوم يا حکومت د پوهولو کوشش به کوو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۷ مخ*

❀

هر يو کار چې د خدای دپاره وي، د هغې مخه څوک نيوی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*

# د تحريک مقصد

دا تحريک زمونږ د وروولۍ او قامولۍ تحريک دی او مونږ دا کوشش کوو چې د ټولو پښتنو يوه وروولي او قامولي جوړه کړو او د دوی له زړونو نه بغض، کينه، تربګني او دښمني لرې کړو.

چې اتفاق پکې پيدا شي، محبت او همدردي پکې پيدا شي او يو قوم شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ*

# د قام آبادي

په کوم قام کې چې د خدای لپاره د خدمت خلک پاته نه شي نو هغه قام په دنیا کې چېرې هم ترقي نشي کولای.
او چې په کوم قام کې د خدمت قدر نه وي، هغه ملک چېرې آبادېدلی نشي.

*د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۴۷ مخ*

# ښځې

بغیر له ښځو نه یو قوم ترقي نشي کولی.

ولې چې زمونږ د کور او بچو ټول پرورش د هغوی په لاس کې دی.

او زمونږ د ګاډي چې کومې دوه پایې دي، یو سړی او بله ښځه ده.

نو تاسو په خپله خیال وکړئ چې یوه پایه پنچر وي، نو ګاډی به څنګه لاړ شي؟

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۷ مخ*

تر کومه وخته چې د یو قوم ښځې رابېدارې شوې نه وي، هغه قوم بېدار شوی نه دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۰ مخ*





# پښتنو يو شئ!

مونږ يو قوم يو او د يو بابا اولاد يو.

زمونږ مثال د يوې ونې دی، چې ډېرې څانگې پکې وي، خو مونډه يې يـو وي او چـې څوک د هغې ونې يوه څانگه پرې کوي، نو د هغې ونې سيوري ته نقصان رسي او کـه د هغې ونې مونډه وچ شي، نو ټولې څانگې يې وچې شي، نو نـن ورځ پېرنگيـان لگيـا دي، دغه څانگې ورو ورو پرې کوي.

تاسو وېښ شئ! که دغه څانگې ختمې شي، نو ستاسو بچي به نور پـاتې نـه شي او د سر سيوری به يې ورک شي او که چېرې دغه مونډه وچ شو، نو دغه ټـولې څـانگې بـه يې وچې شي، يوه به هم پاتې نه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۵ مخ*

❀

زه تاسو ته وايم، چې دښمن لگيا دی، تاسو ورکوي او په دې کوشش کې دی چـې دا مونډه وچ شي.

که له تاسو نه دا مونډه وچ شو، نو بيا به ورک شئ.

پاڅئ!

دا خپل کور جوړ کړئ، دا ببل ببلوالی پرېږدئ، يو قوم شئ.

که يو قوم شوئ، نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او اخرت هم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵٦ مخ*

❀

زما خو يو پيغام او يوه خبره ده، چې پښتنو تاسو يو شئ، خپل کور جوړ کړئ، دا پـرې جمبې، ذاتيات او دشمنۍ پرېږدئ، نو دين به هم ښه شي او پـه دنيـا بـه هـم ابـاد او اسوده شئ.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

# قامولي

ای وروڼو! نن د قامولۍ دنيا ده. تاسې وينئ چې په کومو قومونو کې قامولي او ورورولي راغلې ده، نو هغه آسمان ته وختل او اباد شول. دا مونږ هم يو قوم يو، نو مونږ ولې پاتې شو؟

دا مونږ ځکه پاتې شو، چې مونږ کې قامولي، ورورولي، مينه، محبت او اتفاق نشته، نو زه تاسو له ځکه راغلی يم، چې تاسو زما قام ياست، خو تاسو خپله ژبه، پښتونولي، تمدن او ټول څيزونه پرېښې دي، تر دې چې لنگونه مو وهلي دي.

د ا هم درته وايم چې يوه مرغۍ له سيل نه جدا شي، نو هغه ورکه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۳۸ مخ*

# نفاق

زما يقين دی، چې کوم قوم کې نفاق او ډلې وي، هغه خپل منزل ته رسېدی نشي.

ا و نن چې مونږ غلامان يو، د دې وجه نفاق دی او پرې جنبې دي.

زما د ډله بازو او نفاق نه ډېره کرکه کېږي. *زما ژوند او جدو جهد، ۴۴۷ مخ*

❀

هره يوه ډله د نا اتفاقۍ له وجې ختمېږي. *لالونه مرغلرې، ۲۰مخ*

❀

- ترڅو چې پښتون د غلامۍ طوق له غاړې نه ايستی نه وي، پښتون د دنيا د نورو قومونو د سيالۍ لايق کېدی نه شي. *لالونه مرغلرې، ۱۷مخ*

❀

د غلامۍ نه لوی لعنت بل نه شته. *لالونه مرغلرې، ۲۱مخ*

❀

د غلام هيڅ دين او مذهب نه وي. *لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

# صابران

خدای پاک وايي: چې زما نه امداد په صبر او اتفاق سره غواړئ.

او خدای پاک ويلي: چې څوک زما په لاره کې مړ شي، نو هغه مړ نه دی، ژوندی دی، خو تاسو پر دې نه پوهېږئ. او خدای پاک وايي: چې زه د صابرانو ملګری يم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۱ مخ*

# سياسي شعور

سياسي شعور په يو قوم کې له اسمانه نه راځي.

او چې په کومو قومونو کې د سياسي شعور خلک پيدا شي، نو پخپل قوم پسې وګرځي، په هغوی کې سياسي شعور پيدا کړي.

مسلمانان ډېر ښه قوم دی، خو په هغوی کې داسې خلک تر اوسه پورې پيدا شوي ندي. تاسې د هندوانو او مسلمانانو دې لېډرانو ته فکر وکړئ.

د هندوانو مشران او لېډران قوم پرست دي.

خو د مسلمانانو مشران او لېډران، خان بهادران او خان صاحبان وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۲۷ مخ*



# په دورو کې د باچا خان لومړنی تقریر

پښتنو وروڼو! مونږ ستاسو وروڼه یو، ستاسو خدمتګاران یو، ستاسو خدمت له راغلي یو.


راځئ دا خپل وران کور جوړ کړو!

تاسو لږ دې دنیا ته وګورئ. که علم مو نشته، نو سترګې خو مو شته. د دنیا خلک او قومونه اسمانونو ته وختل او مونږ په مځکه پاتې شو.

هغوی چې زمونږ په شان بنیادم دي، مونږ ورته لاس نیولی دی، چانه دانې غواړو چانه پیسې غواړو. مونږ له خدای د جنت په شان ملک راکړی دی، د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی او زمونږ پکې څه حال دی؟ د جوارو ډوډی، نشته چې په مړه ګېډه یې وخورو.

هغوی ولې اباد شول؟ او مونږ ولې پاتې شو؟ هغوی کې وروروولي ده، قامولي ده او اتفاق دی. په مونږ کې پرې دي، جمبې دي، بغض دی، کینه ده، نفاق دی. دا نن دنیا د قامولۍ دنیا ده. که قوم شوئ، نو دنیا به مو هم آباده شي او آخرت به مو هم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۵۷ مخ*



# امان الله خان او انقلاب

په پښتنو کې ډېر بادشاهان تېر شوي دي، لېکن د پښتنو ښځو او نرو چې څومره مینه او محبت له امان الله خان سره ؤ، هغه له بل بادشاه سره نه ؤ.

امان الله خان به وې، چې زه د پښتنو انقلابي بادشاه یم او د هغه دا خبره بالکل رښتیا وه، چې هغه په پښتنو کې یو عجیبه انقلاب پیدا کړو.

انقلاب یو سیلاب وي چې راشي نو اوده خلک یوسي او ویښ ترې فایدې اوچتې کړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۴۱ مخ*

# لیډران او قوم

د کوم قوم لیډران چې زړور وي، هغه قوم کې زړورتیا پیدا شي او چې د کوم قوم لیډران بزدل وي، هغه قوم کې بزدلي پیدا شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۷۲۸ مخ*



# د قوم ترقي

په جېلخانه کې ما د خپل قوم پر حالاتو په ښه شان سره غور کړی ؤ.

زه په دې نتيجه ورسېدم، چې په دنيا کې هيڅ قوم بغير له خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي او په هغوی کې علوم او فنون پيدا کېدای نشي.

ما دا اراده کړې وه، چې ضرور به يوه رساله په پښتو کې د خپل قوم د پوهولو، د دنيا له حالاتو نه د خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مايل کولو (مخ کولو) پاره جاري کوم او د دې کوشش به هم کوم، چې انجمن پخپله ژبه کې د بچو لپاره د ابتدايي تعليم انتظام وکړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۳۳ مخ*

# بد نصيبه قوم

ما دې خپل بد نصيبه قوم ته کتل، چې اول خو د دوی د خدمت څوک نه وي او که څوک يو نيم پيدا هم شي، نو څوک د خدمت موقع نه ورکوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۳ مخ*

# مذهبونه

د ګاندي جي په زړه کې د ټولو مذهبونو يو شان احترام ؤ. هغه به دا ټول مذهبونه حق ګڼل او زما عقيده هم دغسې ده. خدای په قرآن کې وايي: چې ما هر قوم ته له هغوی نه يو هادي لېږلی دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦٨٦ مخ*

# یهود او فلسطینیان

په فلسطین کې یهودیانو ښکلي ښکلي نوي کلي، ښارونه او باغونه جوړ کړي دي او لګیا دي جوړوي یې، لېکن مسلمانان یې لا هغه شان په غفلت کې پراته دي او امام مهدي صاحب ته په انتظار دي، چې مونږ به پخپله څه نکوو، هغه به راشي او هغه به راله هرڅه وکړي.

دوی دومره بې علمه او بې خبره دي چې امام خو پرېږده چې پیغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملا تړلې نده، نو پیغمبر کامیابه شوی ندی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۲۷ مخ*


# زمونږ ملک

دا ملک خدای مونږ له راکړی دی او دغه شان خدای هر یو قوم له یو ملک ورکړی دی.

د دې لپاره چې هغوی او د هغوی بچي پرې آباد شي.

ملک خو زمونږ دی خو اختیار یې د بل دی او دغه وجه ده، چې زمونږ بچي وږي تږي او بربنډ دي او مزې پرې نور خلک کوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰٦ مخ*



# لار ښوونکی؟

خلک وايي پښتون ترقي ونه کړه، په ورانو لارو روان شـوی دی، لېکن حقيقت دا دی چې پښتنو ته چا سمه لار ښودلې ده؟

چا له ورانو نه منع کړي دي او دوی منع شوي ندي؟

هی افسوس! د نورو قومونو پشان د دوی غمخور نشته.

د دوی شپون نشته، ځکه خو يې شرمښان خوري او ماتوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۷ مخ*

# خدايي خدمت

مونږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وايو، چې بې له کومې تمې، غرض او اُجرت نه د خدای لپاره کېږي او خدای خو خدمت ته ضرورت نلري، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۵٦ مخ*

# بد قسمته قوم

هغه قوم په دنيا کې ډېر بد قسمته وي، چې په هغوی کې داسې خلک پيدا شي چې پخپله خو د قوم او ملک د خدمت لپاره تيار نه وي، خو چې څوک پکې د خدمت پاره پيدا شي، نو هغوی خدمت ته نه پرېږدي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰۰ مخ*



# ورور وژنه

ای پښتنو ورونړو!

یو کافر خپل کافر ورور نه وژني.

تاسو چې ځان ته مسلمان وایئ، بیا ولې یو پښتون بل پښتون وژنئ؟

او نه چېرې یو فرنګی پخپل قوم مخبري کوي او د هغوی ملګرتیا کوي او نه چېرې یو هندو د خپل هندو برخلاف نا حقه او د دروغو شاهدي ورکوي.

او نه د خپل هندو ورور د شرمولو او د بې عزتۍ کوشش کوي.

خو ای پښتنو ورونړو! بیا ولې تاسو په ناحقو شاهدیو د یو بل بې عزتي او شرمولو پسې روان یاست؟

لږ خو له خدای نه ووېرېږئ او شرم وکړئ.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۶ مخ*



# قوم او ژبه

حقيقت دا دی، چې دغه وخت په پښتو کې هيڅ نه وو او نه پښتو د چا ياده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نادانه ؤ چې دا خپله ژبه ورته سپکه ښکارېده او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي

او چې خپله ژبه ترې ورکه شي، نو ورک شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۳۴ مخ*

د هزارې خلق پښتانه دي، خو ژبه ترې ورکه شوې ده.

*لالونه مرغلرې، ۱۲ مخ*

## دعا

مونږ چې ځان ته مسلمانان وايو او پښتانه يو، مونږ دا خپل پښتون مسلمان ورور وژنو، شرموو او مخبري پرې کوو.

دعا وکړئ، چې مونږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي.

او زمونږ په زړونو کې الله تعالی مينه او محبت، وروروَلي، عزيزداري، قامولي او اتفاق پيدا کړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۷ مخ*



# عزت

د هر سړي خپل عزت پخپل لاس کې دی.

او که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات قابو کړي، نو همېشه به ارام، خوشحاله او عزتمند وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۰۰ مخ*

# ټوپک که قلم؟

نن ورځ د پښتنو لپاره د ټوپک ضرورت نشته دی، بلکې د قلم ضرورت دی. ولې چې زمونږ د ملک آزادي به په ټوپک نه وي، بلکې په قلم به وي.

*باچا خان ليکونه، لومړی برخه، ۴۳ مخ*



# خپل مذهب، په پردۍ ژبه

د هندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کې دی، د هندوانو مذهب په سانسکریت کې دی.

هندوان په هغه نه پوهیږي او زمونږ مذهب په عربي کې دی او مونږ په عربي نه پوهیږو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۳ مخ*

# دا کار کولی شم او دا نه!

نو چې هر کله مونږ خپلې کمزورۍ له خدای نه پټولی نشو، نو پکار ده چې له خلکو نه یې هم پټې نکړو.

او چې کوم کار کولی شو، په جار ووایو چې دا کولی شو او چې کوم کار نشو کولی، په جار ووایو چې دا نشو کولی.

او دا ونه کړو چې یو ښه کار دی، چې زما یو بل ورور لګیا دی کوي یې او هغه کار زه کولی نشم.

نو مونږ له د هغه امداد پکار دی، مخالفت یې پکار ندی.

او پخپله ډله او قوم کې اختلاف پیدا نه کړو او په ځای د ډاډ ورکولو په هغه قسماقسم الزام ونه لګوو او هغه ته مشکلات پیدا نکړو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۷ مخ*

# خراب عادت

افسوس په دې دی، چې مونږ سره څوک ښه سلوک کوي، هغه ته نېغ يو او چې څوک مو سر په ډنډه وهي، نو هغه ته ټيټېږو او دا ډېر خراب عادت دی.

او مونږ ته د داسې عادتونو پرېښوول پکار دي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۴۰ مخ*

# د خلکو پېغورونه

زما خپلوانو او دوستانو ډېر راته ووې، چې ولې پياده ځې، دا خلک به څه وايي؟

مونږ د خلکو د پېغورونو له کبله ډېر غلط کارونه کوو.

ما ورته ووېل: چې زه د خلکو خبرو ته نګورم، کار ته ګورم.

که کار درست وي، خلک چې هر څه وايي زه به يې کوم.

او که کار غلط وي، نو که خلک هر څه وايي، زه يې نکوم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۱۵۸ مخ*







## د انسان کمزوري

انسان هم يو عجيبه څيز دی، څه وخت چې کمزوری شي او همت بايلي، نو بيا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو لپاره قسما قسم حيلې او حوالې لټوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۵ مخ*

## د قومونو راويښول

پښتون يو ژوندی قوم دی، د قوميت او قربانۍ ماده هم پکې شته، خو راوېښول غواړي. قومونه خو تش په کُف او چُف نه رابيدارېږي.

د قومونو د ژوندي کولو او بيدارولو لپاره داسې کسان په کار دي چې بې غرضه وي، ديانتدار وي، ايماندار وي او د خدای لپاره د خپل قام خدمت ته تيار وي. چې داسې کسان په کوم قام کې پيدا شي، نو د هغوی په کوښښونو هغه قام کې مينه، محبت، همدردي، وروري او عزيزولي پيدا شي، هغه قام اباد شي.

مونږ بې همتو او خود غرضو خانانو، ملايانو او باباګانو تيارې ته کېنولي يو، ځکه خو زمونږ دا حال شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦٧ مخ*

## کمزورتيا

پښتنو کې دا ډېره لويه کمزورتيا ده چې چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي، نو خپله ژبه ترې پاتې شي.

زمونږ سره په سرحد کې په زرګونو هندوان اوسي، هغوی هغه خپله ژبه هېره کړې نه ده. پنجابي يې هم زده ده او زمونږ ژبه يې هم زده کړې ده.

دا کمزوري صرف په مونږ پښتنو کې ده.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۰۱ مخ*

## سخات، خیرات

زه د عربو په ټولو ملکونو کې ګرځېدلی یم. ما هلته حتی په مکه معظمه، مدینه منوره، نجف او کربلا کې هم چېرې دا د سخات او خیرات طریقه نده لیدلې.

حال دا چې هلته دا طریقه ده چې مړی وشي، خلک خبر شي، بیا جنازه جومات ته راوړي هلته یې جنازه وشي. د دعا نه پس وارثان خپل مړی د ښخولو لپاره مقبرې ته یوسي او نور مسلمانان خواره شي.

دا اسلام خو مونږ ته د عربستان نه راغلی دی، خو خبره دا ده چې دا قسم عادتونه په مونږ کې خود غرضو خلکو پیدا کړل.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۰ مخ*

## خیرات او ذکات

اسلام چې خیراتونه او ذکاتونه واجب کړي او لازم کړي دي، په هغې کې لوی راز دی، دا چې زمونږ خوږ رسول (ص) وایي چې: صدقه بلا رد کوي.

دا بلا تاسو پېژنئ! دا خو د غریب او امیر ترمنځ له نفرت نه بلا ولاړېږي.

نو چې شتمن خلک د بېوزلو پوښتنه وکړي، له هغوی سره د مصیبت په وخت کې مرسته وکړي، نو د غریبانو له خپلو امیرانو سره مینه محبت پیدا شي او د بلا مخه ونیول شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۲ مخ*

## سیالي

پښتانه خو داسې قوم دی، که یو کلی څه وکړي نو بل کلی د هغوی د سیالۍ نه ضرور هغه کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۱ مخ*

# کامیابي

د کامیابۍ لپاره اجتماعي تحریک او قرباني په کار وي. نـو د چا پـه زړه کـې چـې دا قسم جذبات او احساس پیداکېږي، هغوی له پکار دي چـې پـه قـام وگرځـي او ځـان سره د دې قسم د احساس خاوندان ملگري پیدا کړي او په گډه د ظلم، زیـاتي او بـې عزتۍ مقابله وکړي.

چې په قام کې داسې ډله پیدا شي او قوم تنظیم کړي!


نو کامیابي حاصلېدی شي او هغه قام بیا څوک غلام ساتلی نه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸ مخ*

# بُزدل قوم

په دنیا کې د هیڅ یو بُز دل قوم هستي پاتې کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۷ مخ*



## د ماشوموالي عادتونه

په ماشوموالي کې چې څه عادتونه په بچو کې پيدا شي، نو چې بيا غټ شي. بيا هم پکې وي. او په ډېره مشکله له هغو بدو عادتونو نه خلاصېدی شي.


*زما ژوند او جدو جهد، ۱۸ مخ*

## د حکومتونو نړېدل

زه دلته تاريخ نه بيانوم. صرف دا خبره ښکاره کوم چې د دې څه وجه ده چې پښتون لوی لوی حکومتونه جوړولی شول، خو ټينګولی يې نه شول؟

د دې وجه دا وه چې په پښتنو کې اجتماعي ژوند، قوميت او اتفاق نه ؤ.

*زما ژوند او جدو جهد، ۹ مخ*



# صبر

زه تاسو ته یوه داسې وسله درکول غواړم، چې پولیس او پوځ به له ستاسو سره څه کولی نشي.


دا زمونږ د پیغمبر وسله ده. دا د صبر او استقلال او په نېغه لاره د تلو وسله ده. د دنیا یو قوت هم د دې طاقت مخه نه شي نیولی.

چې تاسو کله خپلو کلیو ته ورځئ، نو خپلو کلیوالو ته ووایئ چې دلته یو د الله تعالی پوځ دی، چې وسله یې صبر ده.

خپلو وروڼو، تربورانو او کلیوالو ته ووایئ چې د الله تعالی په دې پوځ کې شامل شئ او په دې لاره کې ټول تکلیفونه وزغمئ.

که تاسو صبر خپل کړو، نو تاسو به بریالي وئ.

*ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه،* ۲۲۳ مخ



# کار کول

له دې ټولو خبرو نه مونږ له سبق اخستل پکار دي او هر کار چې کوو، نو باید چې محض په جوش او جذباتو یې ونکړو، بلکې د هغې پر هر اړخ چې په ښه شان سوچ او غور وکړو.

او که چېرې د هغو لپاره هر قسم قربانیو او تکلیفونو ته تیار نه یو، نوباید شروع یې نه کړو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸٦ مخ*

# ظالمان

رښتیا خبره دا ده چې ظالمان بهادران نه وي، ډېر بزدله او بې ایمانه وي.

بهادر سړی هیچېري پر چا ظلم نه کوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸ مخ*



# زما د ولس کمی

زما د ولس تاریخ د ګټو او میړانې له کیسو څخه ډک دی.

ولې دلته کمي هم شته، هغه دا چې د ډېرو قربانیو له ورکولو وروسته هغه څه چې تر لاسه شوي دي، هغه خپلو کې د دښمنیو او ذاتي حسد په وجه بایلل شوي دي.

دوی ته تل پخپلو کې د بې اتفاقۍ په وجه تاوان رسېدلی دی.

بهرنی قوت په دوی بریالی شوی نه دی.

ایا څوک د جنګ په میدان کې د دوی مخه وهلی شي؟

*ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۵۵ مخ*

# مایوسي

زه نه مایوسه کېږم.

مایوسي پر هغو کسانو راځي چې د ځان لپاره کار کوي، څوک چې د خپل غرض او خپل مطلب لپاره کار کوي.

زه خو د پښتون خدمت د خدايي خدمتګار په حیث کوم.

زه به ولې مایوسه کېږم؟

*- له باچاخان سره د غني خټک مرکه: حضرت باچا خان، ژوند او فلسفه کتاب، ۳٤۱ مخ*

# مونږ څه غواړو؟

مونږ یو نوم غواړو، په دې کور کې یوه خونه غواړو او دا هم غواړو چې مونږ پخپله د دې خونې څښتن او جوړوونکي وو.

*Rajmohan GandhiGhaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns* مخ ۲۴۳

# مشال

پښتانه ډېر مضبوط قوم دی او ګټه کولی شي.

خو په پښتنو کې دوه کمزورتیاوي موجودې دي:

- یو، دا چې بې اتفاقه دي.

- او دوېم دا چې پیسې ته ټینګ نه دي.

که دا دوې کمزورتیاوې ترې ووځي، نو د دنیا هیڅ طاقت پرې غلبه نشي کولی.

*پښتون مجله، اتمه ګڼه، ۱۹۹۲ م، پېښور، ۷۳ مخ*

پښتون ژوندی قوم دی. خو چې د ژوندي کولو خلق په کې پیدا شي. ترڅو چې په یو قام کې د ژوندي کولو دپاره خلق پیدا نه شي، هغه قوم ژوندی کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۲٦ مخ*

# خپل کور ودان کړئ

ای پښتنو!

ستاسو کور وران شوی دی. را پاځئ او دا وران کور بیا ودان کړئ!

او دا خبره یاده لرئ چې تاسو له یو باتور نسل سره تعلق لرئ.

*ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۴۰ مخ*



# د قوم ملګرتیا

مونږ خو د خدای لپاره لګیا یو، د دې قوم خدمت کوو.

که قوم زمونږ ملګرتیا وکړه، نو دوی به آزاد شي او که زمونږ مخالفت یې وکړو، نـو دوی به برباد شي.

ولې چې بغیر د قوم له امداد نه مونږ خپل منزل ته نه شو رسېدی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۹ مخ*

# ډیموکراسي

ولې چې زما دا عقیده وه، چې یو قوم ترڅـو پـورې اجتماعـي طـور بیـدار او مـنظم نـه شي، ترهغې پورې په هاغه کې سیاسي شعور هم نه راځي. او په کـوم قـوم کـې چـې سیاسي شعور نه وي، په هاغه ډیموکراسي نه شي راتللی.

خدایي خدمتګاري، ۱۹ مخ



## عدم تشدد، یوه نوې عقیده؟

زما په خبر د پښتون یا مسلمان لپاره د عدم تشدد د فلسفې خپلول کومه د حیرانتیا خبره نده.

دغه خو یوه نوې عقیده نده.

دا خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر لخوا تل په مکه کې تطبیق شوې او له هغه وخت څخه را پدېخوا د هغو ټولو لخوا په کار اچول شوې، چې ځان له ظلم څخه خلاص کړئ.

خو مونږ هېره کړې وه او کله چې ګاندي جي زمونږ په مخکې واچوله، مونږ فکر کوو، دغه یوه نوې عقیده ده.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam*، ۱۰۳ مخ

❀

بابا: د تشویش خبره نه ده. زه پدې خپه یم، چې ما څومره په وار وار هلته او دلته، تاسو پښتنو ته ویلي دي چې د تشدد سامان مه استعمالوئ.

که ما خوشحالوئ، زما په خبره غور وکړئ.

*د ستر خدایي خدمتګار وياړلي يادونه ۵۹ مخ*

## فساد

زه دلته د خدایي خدمتګاری د تحریک اشاعت له راغلی یم، زما کار اشاعت دی او بیا منل او نه منل ددې خلقو کار دی. پاتې شو فساد، نو زمونږ نظریه د عدم تشدد ده که چرې څوک مونږ سره فساد کوي هم، مونږ ورسره فساد نه کوو.

*لالونه مرغلرې، ۱۲ مخ*

## له تشدد نه ډک دماغ

زمونږ دماغ له تشدد نه ډک شوي دي،

نو ځکه دا خبره په آسانه سره زمونږ په پوهه کې نه راځي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۶ مخ*

# د باچا خان ارمان

زه يو خوب وينم، يو لوی ارمان لرم.

زما د ولس حالت د صحرا د هغو ګلونو په څېر دی چې په صحرا کې زرغون شي، څوک يې غم نه خوري، يو څو ورځې پس مړاوی شي او بيا خاورو سره خاورې شي.

زه غواړم، زما ولس له يو بل سره په غمونو او ښاديو کې شريک وي.

زه غواړم، زما ولس د قام د خوشحالۍ لپاره د برابرۍ په بنياد له يو بل سره اوږه په اوږه کار وکړي. زه غواړم چې دوی خپل ملي رول ولوبوي او الله تعالی او بشريت ته د خدمت له لارې، د نړۍ د نورو ولسونو په قطار کې خپل مناسب ځای ونيسي.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam ،۷۷مخ*

# اســلام

دا زما پخه عقيده او باور دی چې:

اسلام عمل، يقين او محبت دی.

مسلماني بې مطلبه شي، قرآن دا خبره ښه صفا کړېده، چې په يو الله باور لرل او نېک عمل، د انسان د نجات لپاره کافي دي.

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ١١ مخ*

# رښتينی مسلمان

رسول الله (ص) مونږ ته دا سبق راکړو چې هغه کس رښتينی مسلمان دی، څوک چې د الله تعالی د مخلوق د خوشحالۍ او ګټې لپاره کار کوي.

په خدای پاک د عقيدې دا غوښتنه ده چې سړی له انسانانو سره مينه وکړي.

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۹۹ مخ*

که داسې وي، نو خدای دې وکړي چې په عملي کولو سره یې د خپل ځان، خپلو خلکو او خپل ملک په ګټه ترې کار واخلو.

د دغه کتاب د لیکلو لپاره زه له دغو ښاغلو څخه ډېره مننه کوم، چې خپل کتابونه یې ماته په اختیار کې راکړل: ښاغلی مبارز څاپی، ښاغلی ډاکټر رمضان سعادت، ښاغلی هدایت الله بنګش ، ښاغلی شاه جهان کاکاخیل .
له ښاغلی محمد رضا خان نه مننه، چې یو زیات شمېر عکسونه یې راکړل او له ښاغلي نسیم صابر څخه هم منندوی یم، چې په لیکدود کې یې زما لاسنیوی وکړ.

زما هیله دا ده چې د باچا خان نورې خبرې او د ده په هکله د نورو خبرې هم راټولې او هېوادوالو ته یې وړاندې کړم.

ډاکټر یحیی وردک

بن ښار، جرمني، نوامبر ۲۰۰۸ م کال

# د لومړي چاپ سريزه

تاسې د افغانستان او سيمې په تاريخ کې داسې يو ځوک نومولی شئ، چې ستاسو لپاره سرمشق او د مثال نمونه وي؟

اته کاله مخکې يو ژورنالست د خپلې مجلې لپاره په يوه مرکه کې له ما څخه پورتنۍ پوښتنه وکړه. ★

ما د دې پوښتنې په ځواب کې د عبدالغفار خان (باچا خان) نوم واخيست، که څه هم په هماغه وخت کې ما باچاخان ډېر نه پېژانده او نه مې د ده ليکنې او نه مې ډېر څه د ده په هکله لوستلي وو، هغه هم د مهاتما گاندي په هکله د کتابونو له لارې، خو په دې وروستيو کلونو کې هر څومره چې زما معلومات او مطالعه د دغه سړي په هکله زياتېږي، هغومره زما علاقه او مينه ورسره زياته شوې او لانوره هم ډېرېږي.

زما په نظر د غفار خان د شخصيت لويوالی او ارزښت هم په دې کې دی، چې دی زمونږ د خلکو بنسټيزو ستونزو لکه تشدد، بدل، بې تعليمي، افراط، بېځايه سيالي او پخپل دين ناخبري ته ځير او له هغو سره يې عملي مبارزه کوله.

څرنگه چې په مونږ کې لا هم دغه شيان له منځه نه دي تللي، نو له همدې کبله د باچا خان لارښوونې او ژوند نه يوازې تاريخي ارزښت لري، بلکې زمونږ د نن ورځې د ستونزو د حل غوره لار هم ده .

ځکه نو د ده خبرې زما د زړه خبرې هم دي، له همدې کبله دغه خبرې تاسو ته هم وړاندې کوم، کېدای شي چې لږ تر لږه ځينې خبرې به ستاسو د زړونو خبرې هم وي.

---

★ *دغه لنډه مرکه د*Ost-Westliches Journal, 3/2000 *کې چاپ شوې ده .*

هیله مند یم یو څو لوستونکي د ده د آرمانونو، هیلو او کارنامو څخه خبر شي او هغه به ان شاء الله نور هم خبر کړي. د نومړي په قدمونو به پل واخلي او نور به هم وهڅوي. د دغې هیلې لپاره تاسو قدرمنو لوستونکو ته دغه کتاب رسوم.“

زمونږ د باچا خبرې” او د باچا خان د نورو کتابونو له چاپ څخه زمونږ یو هدف همدا د عدم تشدد مسئله ده، هیله مند یم چې ګران لوستونکي به “زمونږ د باچا خبرې” د زړه په سترګو ولولي، ځان پرې پوه کړي، فکر پرې وکړي او پخپل شخصي او ټولنیز ژوند کې ترې ګټه واخلي.

په پای کې له ټولو هغو دوستانو څخه چې د دغه کتاب په دربیم چاپ کې یې له ما سره مرسته کړې، لکه هر یو ښاغلي آصف صمیم په کامه کې له خپل کتابتون څخه ماته کتابونه راکړي. ښاغلي جاوید کوټوال په ایډیټ کې زما لاسنیوی کړی، د زړه له کومې مننه کوم.

په همدې هیله

ډاکټر یحیی وردک

استانبول، اکتوبر ۲۰۱۴

هم همدا دی.

زمونږ باچا سل کاله مخکې دغه حیاتي مسئلې ته متوجه او د هغه د حل لپاره یې عملي گامونه ایښي وو، خو له بده مرغه چې د دومره وخت په تېرېدو سره لاهم ډېر افغانان پخپلو سرونو او زړونو کې د تشدد په موجودیت یا پوه نه دي او یا یې هم د هغه د لرې کولو لپاره هیڅ کوم بنسټیز او عملي گامونه نه دی پورته کړی.

د ترکیې د مذهبي چارو ریاست (دیانت) مشرپروفیسور *ډاکتر محمد گورش* وایی:
*«د مسلمانانو تر ټولو لویه ستونزه دا ده، چې دوی نه شي کولای د خپل دین او ورځنی ژوند ترمنځ صحیح رابطه تینگه کړي، ډېر اسلامي مشران او عالمان د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي، دوی پخپله ستونزې جوړوي.»*

له بده مرغه افغانان، نور مسلمانان او هم نور خلک د باچا خان د فکر او عمل څخه بې خبره دي. غفار خان سل کاله مخکې افغاني او اسلامي ټولنه ډېره ښه تحلیل، تشخیص او پېژندلې وه او په تداوي کې یې عملي او بریالي گامونه اخیستي وو.

باچا خان ټول ژوند د خپلو خلکو د ستونزو په حل کولو کې جد و جهد کړی دی. ده هر چېرته د سولې، ورورولی، مینې او عدم تشدد غږ پورته کړی دی.

له بده مرغه دا زمونږ د مشرانو او زمونږ خپله ملامتي ده چې د غفار خان د فکر او جد و جهد نه مو ځانونه نه دي خبر کړي، او د ده لار مو نه ده تعقیب کړې.

# د دریم چاپ سریزه

۲۰۰۸ کال کې مونږ د باچا خان خبرې کتابګوټی له بېلابېلو کتابونو او مجلو څخه راټول او د کتاب په ډول په آلمان کې چاپ کړ.

د اړتیا له مخې هماغه کتاب یو کال وروسته په ۲۰۰۹ کال کې کټ مټ په کابل کې په زرو ټوکو کې مینه والو ته وړاندې شو، خو اوس دغه کتاب په بازار کې نه پیدا کېږي او بیا چاپول یې یوه اړتیا ده.

په دغو وروستیو کلونو کې ما د باچا خان نور کتابونه هم ترلاسه او د پخوا په شان مې د دغو کتابونو څخه هم ځینې خبرې نوټ او بیا په دغه کتاب کې ور زیاتې کړې، چې په دې توګه د لومړي او دوهم چاپ په پرتله پکې تقریبا دوه چنده زیاتوالی راغلی.

سربېره پر دې ما د غفار خان ژوند لیک کرونولوژي هم د کتاب په وروستۍ برخه کې راوړې ده، چې دا به هم لوستونکو ته د ده د ژوند بېلابېلې پېښې او وختونه وروپېژني.

په افغانستان کې د دېرشو کلونو راهیسې څه ناڅه هره ورځ په خبرونو، ورځپاڼو او رسنیو کې ذکر کېږي چې دلته او هلته چاودنه، جګړه او ځانمرګي حمله وشوه او پکې دومره کسان ژوبل او دومره کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د دغه حالت یو اصلي عامل زمونږ د خلکو په سرونو او زړونو کې د خپلو هیلو، غوښتنو، ټولنیزو او سیاسي هدفونو ته د تشدد له لارې رسېدل دي. چې په افغانستان کې د دریو لسیزو جګړو او افراطي ډلو راتګ یو مهم علت

په دې برخه کې د نومـوړي اتوبیوگرافي *«زما ژوند او مبارزه»* په یـو وخـت کـې په پښتو او دري ژبـو د کابـل پوهنتـون د مـلي تحقیقـاتو او پالیسـی مرکـز (NCPR)او د جـي ای زیـډ د سـولې لپـاره د مـدني خـدمتونو (GIZ-ZFD) په مـالي ملاتړ په ۲۰۱٦ کال کې چاپ شو.
دغه کتـاب (*زمـوږ د باچـا خـبرې*) چـې اوس ستاسـې پـه لاس کـې دی، راټولونـه یـې لـه مختلفـو داخـلي او خـارجي ژبـو څخـه ده چـې جـی ای زیـډ د سـولې لپـاره د مدني خدمتونو موسسې لخوا چاپ شوی.
یـو کـال مخکښـې همـدا کتـاب د یـادې موسسـې پـه مرسـته پـه دری ژبـه (سـخنان ناب غفار خان) هم چاپ شوی دی.

د جـی ای زیـت د سـولې لپـاره د مـدني خـدمتونو موسسـې (GIZ-ZFD) مسـوول او هڅانـد ځـوان ښـاغلي عبیداللـه تنهـا څخـه مننـه کـوم چـې د دې اثـر پـه چـاپ کې یې مرسته کړې ده.

همدارنگـه پـه پـای کـې لـه خپلـو همکـارانو حکمـت اللـه عزیـز، فضـل الـرحیم بریـال او خالـد خپلـواک څخـه مننـه کـوم چـې د دغـه کتـاب پـه ایـډیټ کـې یـې همکاري کړې ده .
هیلـه لـرم چـې دغـه د لـویې محتـوا درلـودونکی کتـاب ولـولئ، ورڅخـه زده کـړه وکړئ او زموږ د خلکو او هېواد لپاره ترې مؤثره استفاده وکړئ.

یحیی وردک، کابل/ بون ۲۰۱۹

# سريزه

ګرانه لوستونکيه!

غفار خان يوه پېړۍ مخکې ژوند کاوه، خو د هغه افکار او کارونه زمونږ د ټولنې د نن او راتلونکي لپاره با ارزښته او حتی له پرون ورځې څخه لا مهم ښکاري.

غفار خان او ګاندي وکولای شول چې د تاوتريخوالي له مبارزې پرته د هند نيمه قاره ازاده کړي او همدارنګه يې د هندوانو او مسلمانانو په يوځای کولو کې مهم رول درلود. د عبدالغفار خان کتابونه په دې وروستيو کلونو کې په انګلېسی، ترکي، عربي، الماني او ايتالوي ژبو چاپ شوي دي او په نړيوالو مطبوعاتو کې تل د نوموړي ياودونه کېږي.

*پاپ فرانچسکوس* د ۲۰۱۷ کال د سولې په پيغام کې داسې وويل:

*»د عدم تشدد واقعي او قاطع کړنو لويې نتيجې منځته راوړې، د مهاتما ګاندي او غفار خان کاميابۍ نه هېرېدونکې دي.«*

زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې زمونږ د خلکو د بدبختۍ، فقر او په وروستيو څلوېښتو کلونو کې د ورانۍ يو اساسي لامل تاوتريخوالی دی.

کېدای شي د غفارخان له نظرياتو او کړنو څخه د جنګ، خشونت او اوسنيو ستونزو په حلولو کې الهام واخلو او له هغو څخه په ګډه اخيستنې سره سولې، سوکالۍ او د يو بل تر څنګ اوسېدو ته يو قدم نيږدې شو. همدا دليل دی چې زه د غفار خان د کتابونو په خپرولو، ژباړه، چاپ او زياتولو کې هڅه او کوښښ کوم.

د ناپوهه پوهول ............ ۹۷
د نفاق اور؛ اختیار ............ ۹۸
فتح به زمونږ وي............... ۹۸
خراب ځیز ................... ۹۹
قومي خدمت ................. ۹۹
غلطي نه منل ................ ۹۹
د غلام قوم بچی.............. ۱۰۰
وطني جامه.................... ۱۰۰
د ترقۍ اسباب ............... ۱۰۱
نوی شی ...................... ۱۰۱
د تعمیر مینه وال.............. ۱۰۱
تباهي ......................... ۱۰۱
طاقت او جبر ................ ۱۰۲
د پیرنگیانو چلونه ............ ۱۰۲
اعتماد......................... ۱۰۲
تحمل او صبر ................. ۱۰۳
د ښیگڼې عمل................ ۱۰۳
زړې طریقې .................. ۱۰۳
تعلیم په مورنۍ ژبه .......... ۱۰۴
ولور؛ بهادر قومونه............. ۱۰۴
تعلیم یافته؛ تغیر .............. ۱۰۵
د ناکامۍ غم ................. ۱۰۶
کنډواله کورونه ............... ۱۰۷
زمونږ تاریخ ................... ۱۰۷
د هند دروازه ................... ۱۰۸
واقعی مسلمان ................. ۱۰۸
اسلام ........................... ۱۰۹
ستره هیله....................... ۱۰۹
ستخی که هوسا ژوند؟......... ۱۱۰
خوښه او زور .................. ۱۱۰
د عدم تشدد عقیده ........... ۱۱۱
د پیغمبر وسله ................. ۱۱۲
پېژندنه ......................... ۱۱۲
د ژوند بدلون.................... ۱۱۲
د گاندي پرېکړه ............... ۱۱۳
د پیغمبر درسونه................ ۱۱۳
د آزادۍ هڅې ................. ۱۱۳
د قوم ضرورت، دعا ........... ۱۱٦
کرونولوژي....................... ۱۱۷
عکسونه......................... ۱۲۳
ماخذونه ........................ ۱۳۳
نور کتابونه ...................... ۱۳۵
افغانیک ......................... ۱۳۸
د I. چاپ انگلیسي سریزه ..... ۱۴۱
د III. چاپ انگلیسي سریزه.... ۱۴۳
د IV. چاپ انگلیسي سریزه ... ۱۴۵
انگلیسي ابسترکت ............ ۱۴٦

ساده او وطني جامه .......... ۸۱
زور او ظلم .................... ۸۱
دروغ.............................. ۸۲
ازمېښت ........................ ۸۳
د بربادۍ وجوهات............ ۸۳
ښکاره کار........................ ۸۳
د قانون استعمال ............ ۸۳
سختې فیصلې ................ ۸۳
حرکتونه ........................ ۸۴
اجتماعي ژوند ................ ۸۵
دیني استاد ..................... ۸۵
نصب العین ..................... ۸٦
تعلیم یافته ..................... ۸٦
غاصب حکومتونه............. ۸٦
پستي او بلندي ............... ۸٦
وران کور ........................ ۸۷
د مذهب منل.................... ۸۷
جنت وطن ...................... ۸۷
سیاسي غرض .................. ۸۸
د سرمایه دارو مذهب ......... ۸۸
مذهبي جنگونه ................ ۸۹
سپاهي........................... ۸۹
غلامی ........................... ۸۹
زما کار ........................... ۹۰
د مذهب مطالعه................ ۹۰
مذهب د خدمت نوم دی ..... ۹۰
د بې عزتۍ احساس .......... ۹۱
پر کلتور او ثقافت فخر ......... ۹۱
رحمت او عذاب.................. ۹۱
جابر حکمران ................... ۹۲
د دنیا بادشاهان................ ۹۲
تجربه ............................ ۹۲
ملایان ........................... ۹۲
میراث............................ ۹۳
دلوستلو شوق.................. ۹۳
ورور وژنه؛ کنجوسي .......... ۹۳
نکته چیني....................... ۹۳
عزم............................... ۹۴
د قربانۍ حقیقت............... ۹۴
حکومت کول .................. ۹۴
روزانه کار....................... ۹۵
د غلامانو بچي ................. ۹۵
د انسان فرض.................. ۹۵
زړه ته نږدې؛ چای ښنبل ...... ۹٦
ظاهر بین؛ ځانځاني .......... ۹٦
د خلکو خدمتگار .............. ۹۷

په قوم مین خلک ............. ٦٠
خواران ...................... ٦٠
ښه والی او بدوالی ............ ٦١
ښه او بد سړی.................. ٦٢
بېځایه بحث ................... ٦٢
د تحریک غرض ................ ٦٢
ولي خان ته.................... ٦٣
حساب کتاب .................. ٦٣
غلط فهمي .................... ٦٣
پر وعده وفا ................... ٦٤
د قوم ابادي .................. ٦٤
زمونږ کار ..................... ٦٤
د خدای د مخلوق خدمت..... ٦٥
خدایي کار.................... ٦٥
د خلکو بدلیدل ............... ٦٦
اسماني مذهبونه ............ ٦٦
د ملک او مذهب خدمت ...... ٦٧
د امان الله خان ژبه .......... ٦٧
ژبې ته پام ................... ٦٨
انقلاب......................... ٦٩
بد رواجونه .................. ٧٠
قرباني......................... ٧١
امتحان، گرفتاري، د وطن درد.... ٧٢
ستاسو خدمت .................. ٧٣
اخلاصمن قوم ................ ٧٣
زه خدایي خدمتگار یم ......... ٧٣
مصیبتونه..................... ٧۴
د خبرو او د کار قامونه ......... ٧۵
د ښو بدو فرق.................. ٧۵
رواجي ډوډۍ .................. ٧۵
اثر والا خلق..................... ٧۵
د خوشال خان دوې خبرې.... ٧٦
خپل ملک...................... ٧٦
د کامیابۍ راز.................. ٧٧
د فایدې خبره، منافق ......... ٧٧
قومبازي ....................... ٧٨
زمونږ ملایان.................... ٧٨
شپون .......................... ٧٨
خپله ژبه........................ ٧٩
د خدای د پاره .................. ٧٩
د قوم وینه..................... ٧٩
لویه سینه ...................... ٧٩
د حق مقابله ................... ٨٠
جدا جدا ځانگې................ ٨٠
مدد ............................. ٨٠
د قوم او ملک خدمت ......... ٨١

د بل فکر ........................ ۴۰
د پاچاخان لیک تره کي ته ... ۴۱
د پاچاخان لیک کارمل ته..... ۴۲
د لړم بچی ........................ ۴۲
اندرا گاندي ته پیغام ......... ۴۳
د بد کارو ملگرتیا.............. ۴۳
دین او زړه ...................... ۴۴
بېځایه مصرف .................. ۴۴
انقلاب........................... ۴۴
تشدد او عدم تشدد........... ۴۵
زغم او صبر ..................... ۴۶
مسلمانان ........................ ۴۶
د جینکو تعلیم او تربیت....... ۴۷
خپله اراده ...................... ۴۷
اختلاف رای ..................... ۴۸
اخلاقي جرئت.................. ۴۸
د اوسنۍ نړۍ ساتل.......... ۴۹
دعا ............................... ۴۹
د خدایي خدمتگارۍ قسم.... ۵۰
ابن الوقت کسان............... ۵۰
حق او جمهوریت............... ۵۱
د میدان نه تیښته............. ۵۱
باغواني.......................... ۵۱
ځان وپېژنئ!....................۵۲
راشه درشه .......................۵۲
مذهب ...........................۵۳
وینا او عمل .....................۵۳
د ظالم ورکول....................۵۳
اشرف المخلوقات .............۵۴
اصلاح او قدرت .................۵۴
د انسان کرامت.................۵۴
نور او مونږ........................۵۵
بل چا ته، که ځان ته گوته ....۵۵
قاعده او قانون...................۵۵
د ځوانانو کار.......................۵۶
د خپلې کمزورۍ پېژنول ........۵۶
غني ته ..............................۵۶
رازداري..............................۵۷
د خبرو اثر..........................۵۷
آزادي او آبادي ...................۵۸
د قومونو عزت ....................۵۸
خپل کور جوړول ................۵۸
خپل مدد پخپله کوئ..........۵۹
احمد آباد جیل ...................۵۹
د وخت ارزښت................. ٦۰

زمونږ ملک ........................ ۱۸
د قوم ترقي ........................ ۱۹
بد نصیبه قوم ........................ ۱۹
مذهبونه........................ ۱۹
امان الله خان او انقلاب ...... ۲۰
لیډران او قوم........................ ۲۰
د باچاخان لومړنی تقدیر ...... ۲۱
صابران ........................ ۲۲
سیاسي شعور........................ ۲۲
قاموللي ........................ ۲۳
نفاق ........................ ۲۳
پښتنو یو شئ!........................ ۲۴
د قام ابادي........................ ۲۵
ښځې ........................ ۲۵
خدایي خدمتگاري............ ۲۶
د تحریک مقصد............... ۲۶
اصلي مطلب........................ ۲۷
ستاسې ملک ........................ ۲۷
دعا او عمل ........................ ۲۸
ترقي........................ ۲۸
زمونږ ملاتړ ........................ ۲۹
د ځان خاورې کول ............ ۲۹
د بل لپاره........................ ۲۹
وړیا کتاب ........................ ۲۹
د خپل ملک جامې او ژبه...... ۳۰
د هزاري پښتنو! ............... ۳۰
جنګ ........................ ۳۰
زمونږ مشر ........................ ۳۱
د ملک تباهي........................ ۳۱
بادشاهي ........................ ۳۲
خبرې او عمل ........................ ۳۲
زمونږ حکومت........................ ۳۳
زما مذهب ........................ ۳۳
ښځو ته ........................ ۳۴
د قام ښځې ........................ ۳۴
پښتنې........................ ۳۵
د جینکو ورکول ............... ۳۵
دوه ملګري ........................ ۳۶
د اسلام په نامه بې علمي ..... ۳۶
بدل........................ ۳۷
صبر ........................ ۳۷
ویره ........................ ۳۸
پټ کار ........................ ۳۸
په نورو اعتراضونه............... ۳۹
د کلي تحریک ............... ۳۹
په کابل کې د هند سفیرته .... ۴۰

# فهرست


سریزه............................. الف
د درېیم چاپ سریزه .......... ج
د لومړي چاپ سریزه ......... و
د باچا خان ارمان ............ ۱
اســلام ............................. ۱
رښتینی مسلمان .............. ۱
عدم تشدد، یوه نوې عقیده ... ۲
فساد .............................. ۲
له تشدد نه ډک دماغ.......... ۲
د قوم ملگرتیا ..................... ۳
ډیموکراسي ....................... ۳
مشال ............................... ۴
خپل کور ودان کړئ ........... ۴
زما د ولس کمی.................. ۵
مایوسي ........................... ۵
مونږ څه غواړو؟.................. ۵
کار کول............................ ۶
ظالمان.............................. ۶
صبر ................................ ۷
د ماشوموالي عادتونه .......... ۸
د حکومتونو نړېدل............... ۸
کامیابي ......................... ۹
بُزدل قوم ........................ ۹
سخات، خیرات .................. ۱۰
خیرات او ذکات ................. ۱۰
سیالي ............................. ۱۰
د انسان کمزوري................ ۱۱
د قومونو راوینبول............... ۱۱
کمزورتیا .......................... ۱۱
خراب عادت ...................... ۱۲
د خلکو پېغورونه ................ ۱۲
خپل مذهب، په پردۍ ژبه ..... ۱۳
دا کار کولی شم او دا نه! ..... ۱۳
عزت ............................... ۱۴
ټوپک که قلم؟ ................... ۱۴
قوم او ژبه ....................... ۱۵
دعا.................................. ۱۵
ورور وژنه ....................... ۱۶
لار ښوونکی؟ .................... ۱۷
خدایي خدمت.................... ۱۷
بد قسمته قوم ................... ۱۷
یهود او فلسطینیان.............. ۱۸

اقرأ باسم ربك

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | زمور د باچا خبرې |
| ټولونه | یحیی وردک |
| خپرندوی | افغانیک |
| تیراژ | ۲۰۰۰ |
| ۱ ، ۲ ، ۳، ۴چاپ | ۲۰۰۸ م، ۲۰۰۹ م، ۲۰۱٦ م، ۲۰۱۹ (۱۳۹۸ ل) |
| د کتاب پوښ انځور | احمدالله ارباب |
| چاپځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |
| ډاونلوډ | www.afghanic.de/downloads |

د غه کتاب د جی آی زیت د سولې لپاره د مدني خدمتونو (GIZ-ZFD)

په مالی مرسته چاپ شوی دی.



© د خپرندویې ادارې او یا راټولوونکی له لیکلې موافقې وروسته

دغه کتاب بیا چاپېدلی شي.



ISBN 978-9936-620-65-0

# زموږ د باچا خبرې

ټولونه **یحیی وردک**

کابل، ۱۳۹۸ ل

## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | زموږ د باچا خبرې |
| ټولونه | یحیی وردک |
| خپرندوی | افغانیک |
| تیراژ | ۲۰۰۰ |
| ۱ ، ۲ ، ۳، ۴چاپ | ۲۰۰۸ م، ۲۰۰۹ م، ۲۰۱٦ م، ۲۰۱۹ (۱۳۹۸ ل) |
| د کتاب پوښ انځور | احمدالله ارباب |
| چاپځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |
| ډاونلوډ | www.afghanic.de/downloads |

د غه کتاب د جی آی زیت د سولې لپاره د مدني خدمتونو (GIZ-ZFD)

په مالی مرسته چاپ شوی دی.

© د خپرندویې ادارې او یا راټولوونکی له لیکلې موافقې وروسته

دغه کتاب بیا چاپېدلی شي.

ISBN 978-9936-620-65-0

# فهرست


سریزه............................ الف

د درېیم چاپ سریزه .......... ج

د لومړي چاپ سریزه ......... و

د باچا خان ارمان ............ ۱

اســلام .............................. ۱

رښتینی مسلمان ............... ۱

عدم تشدد، یوه نوې عقیده ... ۲

فساد .............................. ۲

له تشدد نه ډک دماغ.......... ۲

د قوم ملگرتیا .................. ۳

ډیموکراسي ...................... ۳

مشال ............................. ۴

خپل کور ودان کړئ .......... ۴

زما د ولس کمی............... ۵

مایوسي ........................... ۵

مونږ څه غواړو؟ .............. ۵

کار کول.......................... ۶

ظالمان.............................. ۶

صبر ................................. ۷

د ماشوموالي عادتونه .......... ۸

د حکومتونو نړېدل............. ۸

کامیابي ........................۹

بُزدل قوم .........................۹

سخات، خیرات ...................۱۰

خیرات او ذکات ..................۱۰

سیالي ...............................۱۰

د انسان کمزوري.................۱۱

د قومونو راویښول.................۱۱

کمزورتیا ............................۱۱

خراب عادت .......................۱۲

د خلکو پېغورونه .................۱۲

خپل مذهب، په پردۍ ژبه ....۱۳

دا کار کولی شم او دا نه! .....۱۳

عزت ................................۱۴

ټوپک که قلم؟ ...................۱۴

قوم او ژبه ........................۱۵

دعا...................................۱۵

ورور وژنه .........................۱۶

لار ښوونکی؟ ....................۱۷

خدایي خدمت.....................۱۷

بد قسمته قوم ....................۱۷

یهود او فلسطینیان...............۱۸

زمونږ ملک ........................ ۱۸
د قوم ترقي ......................... ۱۹
بد نصیبه قوم ...................... ۱۹
مذهبونه............................ ۱۹
امان الله خان او انقلاب ....... ۲۰
لیډران او قوم ...................... ۲۰
د باچاخان لومړنی تقدیر ...... ۲۱
صابران ............................. ۲۲
سیاسي شعور ..................... ۲۲
قامولي ............................. ۲۳
نفاق ............................... ۲۳
پښتنو یو شئ!..................... ۲۴
د قام ابادي........................ ۲۵
ښځې ............................... ۲۵
خدايي خدمتګاري............. ۲۶
د تحریک مقصد................ ۲۶
اصلي مطلب...................... ۲۷
ستاسې ملک ..................... ۲۷
دعا او عمل ....................... ۲۸
ترقي................................ ۲۸
زمونږ ملاتړ ........................ ۲۹
د ځان خاورې کول .......... ۲۹
د بل لپاره ......................... ۲۹
وړیا کتاب ........................ ۲۹
د خپل ملک جامې او ژبه...... ۳۰
د هزاري پښتنو! ................ ۳۰
جنګ .............................. ۳۰
زمونږ مشر ........................ ۳۱
د ملک تباهي.................... ۳۱
بادشاهي ......................... ۳۲
خبرې او عمل ................... ۳۲
زمونږ حکومت .................. ۳۳
زما مذهب ....................... ۳۳
ښځو ته ........................... ۳۴
د قام ښځې ....................... ۳۴
پښتنې............................... ۳۵
د جینکو ورکول .................. ۳۵
دوه ملګري ...................... ۳۶
د اسلام په نامه بې علمي ..... ۳۶
بدل.................................. ۳۷
صبر.................................. ۳۷
ویره ................................. ۳۸
پټ کار ............................ ۳۸
په نورو اعتراضونه............... ۳۹
د کلي تحریک ................... ۳۹
په کابل کې د هند سفیرته .... ۴۰

د بل فکر........................ ۴۰
د پاچاخان لیک تره کي ته ... ۴۱
د پاچاخان لیک کارمل ته..... ۴۲
د لړم بچی ..................... ۴۲
اندرا ګاندي ته پیغام ......... ۴۳
د بد کارو ملګرتیا.............. ۴۳
دین او زړه ...................... ۴۴
بېځایه مصرف .................. ۴۴
انقلاب............................ ۴۴
تشدد او عدم تشدد............ ۴۵
زغم او صبر .................... ۴۶
مسلمانان ...................... ۴۶
د جینکو تعلیم او تربیت....... ۴۷
خپله اراده ...................... ۴۷
اختلاف رای ................... ۴۸
اخلاقي جرئت.................. ۴۸
د اوسنۍ نړۍ ساتل........... ۴۹
دعا .............................. ۴۹
د خدایي خدمتګارۍ قسم.... ۵۰
ابن الوقت کسان............... ۵۰
حق او جمهوریت............... ۵۱
د میدان نه تیښته............... ۵۱
باغواني.......................... ۵۱
ځان وپېژنئ!.................. ۵۲
راشه درشه ...................... ۵۲
مذهب ........................... ۵۳
وینا او عمل ...................... ۵۳
د ظالم ورکول..................... ۵۳
اشرف المخلوقات ............. ۵۴
اصلاح او قدرت ................ ۵۴
د انسان کرامت................. ۵۴
نور او مونږ........................ ۵۵
بل چا ته، که ځان ته ګوته .... ۵۵
قاعده او قانون.................. ۵۵
د ځوانانو کار..................... ۵۶
د خپلې کمزورۍ پټول ....... ۵۶
غني ته ............................ ۵۶
رازداري.......................... ۵۷
د خبرو اثر........................ ۵۷
آزادي او آبادي.................. ۵۸
د قومونو عزت .................. ۵۸
خپل کور جوړول .............. ۵۸
خپل مدد پخپله کوئ.......... ۵۹
احمد آباد جیل ................. ۵۹
د وخت ارزښت................. ۶۰

په قوم مین خلک ............ ٦٠
خواران ..................... ٦٠
ښه والی او بدوالی ............ ٦١
ښه او بد سړی.................. ٦٢
بېځایه بحث ................ ٦٢
د تحریک غرض ............... ٦٢
ولي خان ته.................... ٦٣
حساب کتاب ................. ٦٣
غلط فهمي ..................... ٦٣
پر وعده وفا ................... ٦۴
د قوم ابادي .................... ٦۴
زمونږ کار ...................... ٦۴
د خدای د مخلوق خدمت..... ٦٥
خدايي کار.................... ٦٥
د خلکو بدليدل ............... ٦٦
اسماني مذهبونه ............ ٦٦
د ملک او مذهب خدمت ...... ٦٧
د امان الله خان ژبه .......... ٦٧
ژبې ته پام ...................... ٦٨
انقلاب........................ ٦٩
بد رواجونه .................... ٧٠
قرباني......................... ٧١
امتحان، گرفتاري، د وطن درد.... ٧٢
ستاسو خدمت ................. ٧٣
اخلاصمن قوم ................. ٧٣
زه خدايي خدمتگار يم ......... ٧٣
مصيبتونه....................... ٧۴
د خبرو او د کار قامونه ......... ٧٥
د ښو بدو فرق................. ٧٥
رواجي ډوډی .................. ٧٥
اثر والا خلق..................... ٧٥
د خوشال خان دوې خبرې.... ٧٦
خپل ملک....................... ٧٦
د کاميابی راز.................. ٧٧
د فايدې خبره، منافق ......... ٧٧
قومبازي ........................ ٧٨
زمونږ ملايان.................... ٧٨
شپون ............................ ٧٨
خپله ژبه......................... ٧٩
د خدای د پاره.................. ٧٩
د قوم وينه....................... ٧٩
لويه سينه ...................... ٧٩
د حق مقابله .................. ٨٠
جدا جدا څانگې................ ٨٠
مدد ............................... ٨٠
د قوم او ملک خدمت .......... ٨١

ساده او وطني جامه ........... ۸۱
زور او ظلم ..................... ۸۱
دروغ.............................. ۸۲
ازمیښت ........................... ۸۳
د بربادۍ وجوهات............. ۸۳
ښکاره کار....................... ۸۳
د قانون استعمال ............. ۸۳
سختې فیصلې ................ ۸۳
حرکتونه........................... ۸۴
اجتماعي ژوند ................. ۸۵
دیني استاد....................... ۸۵
نصب العین ....................... ۸۶
تعلیم یافته........................ ۸۶
غاصب حکومتونه............... ۸۶
پستي او بلندي ................ ۸۶
وران کور ......................... ۸۷
د مذهب منل...................... ۸۷
جنت وطن ......................... ۸۷
سیاسي غرض .................. ۸۸
د سرمایه دارو مذهب .......... ۸۸
مذهبي جنگونه ................. ۸۹
سپاهي.............................. ۸۹
غلامی .............................. ۸۹
زما کار ........................... ۹۰
د مذهب مطالعه................ ۹۰
مذهب د خدمت نوم دی ..... ۹۰
د بې عزتۍ احساس .......... ۹۱
پر کلتور او ثقافت فخر ......... ۹۱
رحمت او عذاب................. ۹۱
جابر حکمران .................. ۹۲
د دنیا بادشاهان................ ۹۲
تجربه............................. ۹۲
ملایان ............................. ۹۲
میراث.............................. ۹۳
دلوستلو شوق................... ۹۳
ورور وژنه؛ کنجوسي ........... ۹۳
نکته چیني........................ ۹۳
عزم................................. ۹۴
د قربانۍ حقیقت............... ۹۴
حکومت کول ................... ۹۴
روزانه کار........................ ۹۵
د غلامانو بچي .................. ۹۵
د انسان فرض.................. ۹۵
زړه ته نږدې؛ چای څښل...... ۹۶
ظاهر بین؛ ځانځاني .......... ۹۶
د خلکو خدمتگار .............. ۹۷

د ناپوهه پوهول ............... ۹۷
د نفاق اور؛ اختیار ............ ۹۸
فتح به زمونږ وي.............. ۹۸
خراب ځیز ................ ۹۹
قومي خدمت ................. ۹۹
غلطي نه منل ................ ۹۹
د غلام قوم بچی.............. ۱۰۰
وطني جامه................... ۱۰۰
د ترقۍ اسباب ............... ۱۰۱
نوی شی .................... ۱۰۱
د تعمیر مینه وال.............. ۱۰۱
تباهي....................... ۱۰۱
طاقت او جبر ................ ۱۰۲
د پیرنګیانو چلونه ............ ۱۰۲
اعتماد....................... ۱۰۲
تحمل او صبر................ ۱۰۳
د ښیګڼې عمل............... ۱۰۳
زړې طریقې ................. ۱۰۳
تعلیم په مورنۍ ژبه ........... ۱۰۴
ولور؛ بهادر قومونه............. ۱۰۴
تعلیم یافته؛ تغیر ............. ۱۰۵
د ناکامۍ غم ................ ۱۰۶
کنډواله کورونه ................ ۱۰۷
زمونږ تاریخ ................. ۱۰۷
د هند دروازه ...................۱۰۸
واقعی مسلمان ...............۱۰۸
اسلام ............................۱۰۹
ستره هیله........................۱۰۹
ستخی که هوسا ژوند؟.........۱۱۰
خوښه او زور ...................۱۱۰
د عدم تشدد عقیده ............۱۱۱
د پیغمبر وسله .................۱۱۲
پېژندنه ............................۱۱۲
د ژوند بدلون.....................۱۱۲
د ګاندي پرېکړه .................۱۱۳
د پیغمبر درسونه.................۱۱۳
د آزادۍ هڅې ...................۱۱۳
د قوم ضرورت، دعا ............۱۱٦
کرونولوژي........................۱۱۷
عکسونه...........................۱۲۳
ماخذونه ..........................۱۳۳
نور کتابونه .......................۱۳۵
افغانیک ..........................۱۳۸
د I. چاپ انګلیسي سریزه .....۱۴۱
د III. چاپ انګلیسي سریزه....۱۴۳
د IV. چاپ انګلیسي سریزه ...۱۴۵
انګلیسي ابسترکت ............۱۴٦

# سریزه

گرانه لوستونکیه!

غفار خان یوه پېړۍ مخکې ژوند کاوه، خو د هغه افکار او کارونه زمونږ د ټولنې د نن او راتلونکي لپاره با ارزښته او حتی له پرون ورځې څخه لا مهم ښکاري.

غفار خان او گاندي وکولای شول چې د تاوتریخوالي له مبارزې پرته د هند نیمه قاره ازاده کړي او همدارنگه یې د هندوانو او مسلمانانو په یوځاي کولو کې مهم رول درلود. د عبدالغفار خان کتابونه په دې وروستیو کلونو کې په انگلیسي، ترکي، عربي، الماني او ایتالوي ژبو چاپ شوي دي او په نړیوالو مطبوعاتو کې تل د نوموړي یادونه کېږي.

*پاپ فرانچسکوس* د ۲۰۱۷ کال د سولې په پیغام کې داسې وویل:

»*د عدم تشدد واقعي او قاطع کړنو لویې نتیجې منځته راوړې، د مهاتما گاندي او غفار خان کامیابۍ نه هېرېدونکې دي.*«

زمونږ په گران هېواد افغانستان کې زمونږ د خلکو د بدبختۍ، فقر او په وروستیو څلوېښتو کلونو کې د ورانۍ یو اساسي لامل تاوتریخوالی دی.

کېدای شي د غفارخان له نظریاتو او کړنو څخه د جنگ، خشونت او اوسنیو ستونزو په حلولو کې الهام واخلو او له هغو څخه په گټه اخیستنې سره سولې، سوکالۍ او د یو بل تر څنگ اوسېدو ته یو قدم نیږدې شو. همدا دلیل دی چې زه د غفار خان د کتابونو په خپرولو، ژباړه، چاپ او زیاتولو کې هڅه او کوښښ کوم.

په دې برخه کې د نومورې اتوبيوگرافي *«زما ژوند او مبارزه»* په يو وخت کې په پښتو او دري ژبو د کابل پوهنتون د ملي تحقيقاتو او پاليسی مرکز (NCPR)او د جي ای زيډ د سولې لپاره د مدني خدمتونو (GIZ-ZFD) په مالي ملاتړ په ۲۰۱۶ کال کې چاپ شو.

دغه کتاب (*زمونږ د باچا خبرې*) چې اوس ستاسې په لاس کې دی، راټولونه يې له مختلفو داخلي او خارجي ژبو څخه ده چې جی ای زيډ د سولې لپاره د مدني خدمتونو موسسې لخوا چاپ شوی.

يو کال مخکښې همدا کتاب د يادې موسسې په مرسته په دری ژبه (سخنان ناب غفار خان) هم چاپ شوی دی.

د جی ای زيت د سولې لپاره د مدني خدمتونو موسسې (GIZ-ZFD) مسوول او هڅاند ځوان ښاغلي عبيدالله تنها څخه مننه کوم چې د دې اثر په چاپ کې يې مرسته کړې ده.

همدارنگه په پای کې له خپلو همکارانو حکمت الله عزيز، فضل الرحيم بريال او خالد خپلواک څخه مننه کوم چې د دغه کتاب په ايډېټ کې يې همکاري کړې ده .

هيله لرم چې دغه د لويې محتوا درلودونکی کتاب ولولئ، ورڅخه زده کړه وکړئ او زمونږ د خلکو او هېواد لپاره ترې مؤثره استفاده وکړئ.

يحيی وردک، کابل/ بون ۲۰۱۹

# د درېيم چاپ سرېزه

۲۰۰۸ کـال کـې مـا د باچـا خـان خـبرې کتـابګوټی لـه بېلابېلـو کتـابونو او مجلـو څخه راټول او د کتاب په ډول په آلمان کې چاپ کړ.
د اړتيا لـه مخـې هماغـه کتـاب يـو کـال وروسـته پـه ۲۰۰۹ کـال کـې کـټ مـټ پـه کابـل کـې پـه زرو ټوکـو کـې مينـه والـو تـه وړانـدې شـو، خـو اوس دغـه کتـاب پـه بازار کې نه پيدا کېږي او بيا چاپول يې يوه اړتيا ده.
پـه دغـو وروسـتيو کلونـو کـې مـا د باچـا خـان نـور کتابونـه هـم ترلاسـه او د پخـوا پـه شـان مـې د دغـو کتـابونو څخـه هـم ځينـې خـبرې نـوټ او بيـا پـه دغـه کتـاب کـې ور زيـاتې کـړې، چـې پـه دې توګـه د لـومړي او دوهـم چـاپ پـه پرتلـه پکـې تقريبـا دوه چنده زياتوالی راغلی.
سربېـره پـر دې مـا د غفـار خـان ژونـد ليـک کرونولـوژي هـم د کتـاب پـه وروسـتۍ برخـه کـې راوړې ده، چـې دا بـه هـم لوسـتونکو تـه د ده د ژونـد بېلابېلـې پېښـې او وختونه وروپېژني.
پـه افغانسـتان کـې د دېرشـو کلونـو راهيسـې څـه ناڅـه هـره ورځ پـه خبرونـو، ورځپـاڼو او رسـنيو کـې ذکـر کېـږي چـې دلتـه او هلتـه چاودنـه، جګـړه او ځـانمرګې حملـه وشـوه او پکـې دومـره کسـان ژوبـل او دومـره کسـانو خپـل ژونـد لـه لاسه ورکړ.
د دغـه حالـت يـو اصـلي عامـل زمـونږ د خلکـو پـه سرونـو او زړونـو کـې د خپلـو هيلـو، غوښـتنو، ټـولنيزو او سـياسي هـدفونو تـه د تشـدد لـه لارې رسـېدل دي. چې په افغانستان کې د درېيو لسيزو جګړو او افراطي ډلو راتګ يو مهم علت

هم همدا دی.

زموږ باچا سل کاله مخکې دغه حیاتي مسئلې ته متوجه او د هغه د حل لپاره یې عملي ګامونه ایښي وو، خو له بده مرغه چې د دومره وخت په تېرېدو سره لاهم ډېر افغانان پخپلو سرونو او زړونو کې د تشدد په موجودیت یا پوه نه دي او یا یې هم د هغه د لرې کولو لپاره هیڅ کوم بنسټیز او عملي ګامونه نه دی پورته کړی.

د ترکیې د مذهبي چارو ریاست (دیانت) *مشرپروفیسور ډاکتر محمد ګورش* وایی: *«د مسلمانانو تر ټولو لویه ستونزه دا ده، چې دوی نه شي کولای د خپل دین او ورځني ژوند ترمنځ صحیح رابطه تینګه کړي، ډېر اسلامي مشران او عالمان د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي، دوی پخپله ستونزې جوړوي.»*

له بده مرغه افغانان، نور مسلمانان او هم نور خلک د باچا خان د فکر او عمل څخه بې خبره دي. غفار خان سل کاله مخکې افغاني او اسلامي ټولنه ډېره ښه تحلیل، تشخیص او پېژندلې وه او په تداوي کې یې عملي او بریالي ګامونه اخیستي وو.

باچا خان ټول ژوند د خپلو خلکو د ستونزو په حل کولو کې جد و جهد کړی دی. ده هر چېرته د سولې، ورورولی، مینې او عدم تشدد غږ پورته کړی دی.

له بده مرغه دا زموږ د مشرانو او زموږ خپله ملامتي ده چې د غفار خان د فکر او جد و جهد نه مو ځانونه نه دي خبر کړي، او د ده لار مو نه ده تعقیب کړې.

هیله مند یم یو څو لوستونکي د ده د آرمانونو، هیلو او کارنامو څخه خبر شي او هغه به ان شاء الله نور هم خبر کړي. د نوموړي په قدمونو به پل واخلي او نور به هم وهڅوي. د دغې هیلې لپاره تاسو قدرمنو لوستونکو ته دغه کتاب رسوم.“

زمونږ د باچا خبرې” او د باچا خان د نورو کتابونو له چاپ څخه زمونږ یو هدف همدا د عدم تشدد مسئله ده، هیله مند یم چې ګران لوستونکي به “زمونږ د باچا خبرې” د زړه په سترګو ولولي، ځان پرې پوه کړي، فکر پرې وکړي او پخپل شخصي او ټولنیز ژوند کې ترې ګټه واخلي.

په پای کې له ټولو هغو دوستانو څخه چې د دغه کتاب په دربیم چاپ کې یې له ما سره مرسته کړې، لکه هر یو ښاغلي آصف صمیم په کامه کې له خپل کتابتون څخه ماته کتابونه راکړي. ښاغلي جاوید کوټوال په ایډیټ کې زما لاسنیوی کړی، د زړه له کومې مننه کوم.

په همدې هیله

ډاکټر یحیی وردک

استانبول، اکتوبر ۲۰۱۴

# د لومړي چاپ سريزه

تاسې د افغانستان او سيمې په تاريخ کې داسې يو څوک نومولی شئ، چې ستاسو لپاره سرمشق او د مثال نمونه وي؟
اته کاله مخکې يو ژورنالست د خپلې مجلې لپاره په يوه مرکه کې له ما څخه پورتنۍ پوښتنه وکړه. ★
ما د دې پوښتنې په ځواب کې د عبدالغفار خان (باچا خان) نوم واخيست، که څه هم په هماغه وخت کې ما باچاخان ډېر نه پېژانده او نه مې د ده ليکنې او نه مې ډېر څه د ده په هکله لوستلي وو، هغه هم د مهاتما گاندي په هکله د کتابونو له لارې، خو په دې وروستيو کلونو کې هر څومره چې زما معلومات او مطالعه د دغه سړي په هکله زياتېږي، هغومره زما علاقه او مينه ورسره زياته شوې او لانوره هم ډېرېږي.

زما په نظر د غفار خان د شخصيت لويوالی او ارزښت هم په دې کې دی، چې دی زمونږ د خلکو بنسټيزو ستونزو لکه تشدد، بدل، بې تعليمي، افراط، بېځايه سيالي او پخپل دين ناخبري ته ځير او له هغو سره يې عملي مبارزه کوله.
څرنگه چې په موږ کې لا هم دغه شيان له منځه نه دي تللي، نو له همدې کبله د باچا خان لارښوونې او ژوند نه يوازې تاريخي ارزښت لري، بلکې زمونږ د نن ورځې د ستونزو د حل غوره لار هم ده .

ځکه نو د ده خبرې زما د زړه خبرې هم دي، له همدې کبله دغه خبرې تاسو ته هم وړاندې کوم، کېدای شي چې لږ تر لږه ځينې خبرې به ستاسو د زړونو خبرې هم وي.

---

★ دغه لنډه مرکه د *Ost-Westliches Journal, 3/2000* کې چاپ شوې ده .

که داسې وي، نو خدای دې وکړي چې په عملي کولو سره يې د خپل ځان، خپلو خلکو او خپل ملک په ګټه ترې کار واخلو.

د دغه کتاب د ليکلو لپاره زه له دغو ښاغلو څخه ډېره مننه کوم، چې خپل کتابونه يې ماته په اختيار کې راکړل: ښاغلی مبارز څاپی، ښاغلی ډاکټر رمضان سعادت، ښاغلی هدايت الله بنګش ، ښاغلی شاه جهان کاکاخيل .
له ښاغلی محمد رضا خان نه مننه، چې يو زيات شمېر عکسونه يې راکړل او له ښاغلي نسيم صابر څخه هم منندوی يم، چې په ليکدود کې يې زما لاسنيوی وکړ.

زما هيله دا ده چې د باچا خان نورې خبرې او د ده په هکله د نورو خبرې هم راټولې او هېوادوالو ته يې وړاندې کړم.

ډاکټر يحيی وردک

بن ښار، جرمني، نوامبر ۲۰۰۸ م کال



# د باچا خان ارمان

زه يو خوب وينم، يو لوی ارمان لرم.

زما د ولس حالت د صحرا د هغو گلونو په څېر دی چې په صحرا کې زرغون شي، څوک يې غم نه خوري، يو څو ورځې پس مړاوی شي او بيا خاورو سره خاورې شي.

زه غواړم، زما ولس له يو بل سره په غمونو او ښاديو کې شريک وي.

زه غواړم، زما ولس د قام د خوشحالۍ لپاره د برابرۍ په بنياد له يو بل سره اوږه په اوږه کار وکړي. زه غواړم چې دوی خپل ملي رول ولوبوي او الله تعالی او بشريت ته د خدمت له لارې، د نړۍ د نورو ولسونو په قطار کې خپل مناسب ځای ونيسي.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam ،۷۷مخ*

# اســلام

دا زما پخه عقيده او باور دی چې:

اسلام عمل، يقين او محبت دی.

مسلماني بې مطلبه شي، قرآن دا خبره ښه صفا کړېده، چې په يو الله باور لرل او نېک عمل، د انسان د نجات لپاره کافي دي.

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۱۱ مخ*

# رښتينی مسلمان

رسول الله (ص) مونږ ته دا سبق راکړو چې هغه کس رښتينی مسلمان دی، څوک چې د الله تعالی د مخلوق د خوشحالۍ او گټې لپاره کار کوي.
په خدای پاک د عقيدې دا غوښتنه ده چې سړی له انسانانو سره مينه وکړي.

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۹۹ مخ*

# عدم تشدد، یوه نوې عقیده؟

زما په خبر د پښتون یا مسلمان لپاره د عدم تشدد د فلسفې خپلول کومه د حیرانتیا خبره نده.

دغه خو یوه نوې عقیده نده.

دا خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر لخوا تل په مکه کې تطبیق شوې او له هغه وخت څخه را پدېخوا د هغو ټولو لخوا په کار اچول شوې، چې ځان له ظلم څخه خلاص کړئ.

خو مونږ هېره کړې وه او کله چې ګاندي جي زمونږ په مخکې واچوله، مونږ فکر کوو، دغه یوه نوې عقیده ده.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam* ،۱۰۳ مخ

بابا: د تشویش خبره نه ده. زه پدې خپه یم، چې ما څومره په وار وار هلته او دلته، تاسو پښتنو ته ویلي دي چې د تشدد سامان مه استعمالوئ.

که ما خوشحالوئ، زما په خبره غور وکړئ.

*د ستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه ۵۹ مخ*

# فساد

زه دلته د خدایي خدمتګارۍ د تحریک اشاعت له راغلی یم، زما کار اشاعت دی او بیا منل او نه منل ددې خلقو کار دی. پاتې شو فساد، نو زمونږ نظریه د عدم تشدد ده که چرې څوک مونږ سره فساد کوي هم، مونږ ورسره فساد نه کوو.

*لالونه مرغلرې، ۱۲ مخ*

# له تشدد نه ډک دماغ

زمونږ دماغ له تشدد نه ډک شوي دي،

نو ځکه دا خبره په آسانه سره زمونږ په پوهه کې نه راځي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲٦ مخ*

# د قوم ملګرتیا

مونږ خو د خدای لپاره لګیا یو، د دې قوم خدمت کوو.

که قوم زمونږ ملګرتیا وکړه، نو دوی به آزاد شي او که زمونږ مخالفت یې وکړو، نـو دوی به برباد شي.

ولې چې بغیر د قوم له امداد نه مونږ خپل منزل ته نه شو رسېدی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۹ مخ*

# ډیموکراسي

ولې چې زما دا عقیده وه، چې یو قوم ترڅـو پـورې اجتماعـي طـور بیـدار او مـنظم نـه شي، ترهغې پورې په هاغه کې سیاسي شعور هم نه راځي. او په کـوم قـوم کـې چـې سیاسي شعور نه وي، په هاغه ډیموکراسي نه شي راتللی.

خدایي خدمتګاري، ۱۹ مخ



# مشال

پښتانه ډېر مضبوط قوم دی او ګټه کولی شي.

خو په پښتنو کې دوه کمزورتیاوي موجودې دي:

- یو، دا چې بې اتفاقه دي.

- او دوېم دا چې پیسې ته ټینګ نه دي.

که دا دوې کمزورتیاوې ترې ووځي، نو د دنیا هیڅ طاقت پرې غلبه نشي کولی.

*پښتون مجله، اتمه ګڼه، ۱۹۹۲ م، پېښور، ۷۳ مخ*

پښتون ژوندی قوم دی. خو چې د ژوندي کولو خلق په کې پیدا شي. ترڅو چې په یو قام کې د ژوندي کولو دپاره خلق پیدا نه شي، هغه قوم ژوندی کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۲٦ مخ*

# خپل کور ودان کړئ

ای پښتنو!

ستاسو کور وران شوی دی. را پاڅئ او دا وران کور بیا ودان کړئ!

او دا خبره یاده لرئ چې تاسو له یو باتور نسل سره تعلق لرئ.

*ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۴۰ مخ*



# زما د ولس کمۍ

زما د ولس تاريخ د ګټو او مېړانې له کيسو څخه ډک دی.

ولې دلته کمي هم شته، هغه دا چې د ډېرو قربانيو له ورکولو وروسته هغه څه چې تر لاسه شوي دي، هغه خپلو کې د دښمنيو او ذاتي حسد په وجه بايلل شوي دي.

دوی ته تل پخپلو کې د بې اتفاقۍ په وجه تاوان رسېدلی دی.

بهرنی قوت په دوی بريالی شوی نه دی.

ايا څوک د جنګ په ميدان کې د دوی مخه وهلی شي؟

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ۵۵ مخ*

# مايوسي

زه نه مايوسه کېږم.

مايوسي پر هغو کسانو راځي چې د ځان لپاره کار کوي، څوک چې د خپل غرض او خپل مطلب لپاره کار کوي.

زه خو د پښتون خدمت د خدايي خدمتګار په حيث کوم.

زه به ولې مايوسه کېږم؟

*- له باچاخان سره د غني ختک مرکه: حضرت باچا خان، ژوند او فلسفه کتاب، ۳٤۱ مخ*

# مونږ څه غواړو؟

مونږ يو نوم غواړو، په دې کور کې يوه خونه غواړو او دا هم غواړو چې مونږ پخپله د دې خونې څښتن او جوړوونکي وو.

*Rajmohan GandhiGhaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns* مخ ۲۴۳

# کار کول

له دې ټولو خبرو نه مونږ له سبق اخستل پکار دي او هر کار چې کوو، نو بايد چې محض په جوش او جذباتو يې ونکړو، بلکې د هغې پر هر اړخ چې په ښه شان سوچ او غور وکړو.

او که چېرې د هغو لپاره هر قسم قربانيو او تکليفونو ته تيار نه يو، نوبايد شروع يې نه کړو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸٦ مخ*

# ظالمان

رښتيا خبره دا ده چې ظالمان بهادران نه وي، ډېر بزدله او بې ايمانه وي.

بهادر سړی هيچېري پر چا ظلم نه کوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸ مخ*



# صبـر

زه تاسو ته يوه داسې وسله درکول غواړم، چې پـوليس او پـوځ بـه لـه ستاسـو سره څـه کولی نشي.


دا زمـــونږ د پيغمـــبر وســـله ده. دا د صـــبر او اســـتقلال او پـــه نېغـــه لاره د تلو وسله ده. د دنيا يو قوت هم د دې طاقت مخه نه شي نيولی.

چې تاسو کله خپلو کليو ته ورځئ، نو خپلو کليوالو ته ووايئ چې دلته يو د الله تعالی پوځ دی، چې وسله يې صبر ده.

خپلو ورونړو، تربورانو او کليوالو ته ووايئ چې د الله تعالی په دې پوځ کې شـامل شـئ او په دې لاره کې ټول تکليفونه وزغمئ.

که تاسو صبر خپل کړو، نو تاسو به بريالي وئ.

*ايکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه*، ۲۲۳ مخ



# د ماشوموالي عادتونه

په ماشوموالي کې چې څه عادتونه په بچو کې پيدا شي، نو چې بيا غټ شي. بيا هم پکې وي. او په ډېره مشکله له هغو بدو عادتونو نه خلاصېدی شي.


*زما ژوند او جدو جهد، ۱۸ مخ*

# د حکومتونو نړېدل

زه دلته تاريخ نه بيانوم. صرف دا خبره ښکاره کوم چې د دې څه وجه ده چې پښتون لوی لوی حکومتونه جوړولی شول، خو ټينګولی يې نه شول؟

د دې وجه دا وه چې په پښتنو کې اجتماعي ژوند، قوميت او اتفاق نه ؤ.

*زما ژوند او جدو جهد، ۹ مخ*



# کاميابي

د کاميابۍ لپاره اجتماعي تحريک او قرباني په کار وي. نو د چا په زړه کې چې دا قسم جذبات او احساس پيداکېږي، هغوی له پکار دي چې په قام وگرځي او ځان سره د دې قسم د احساس خاوندان ملگري پيدا کړي او په گډه د ظلم، زياتي او بې عزتۍ مقابله وکړي.

چې په قام کې داسې ډله پيدا شي او قوم تنظيم کړي!


نو کاميابي حاصلېدی شي او هغه قام بيا څوک غلام ساتلی نه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸ مخ*

# بُزدل قوم

په دنيا کې د هيڅ يو بُز دل قوم هستي پاتې کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۷ مخ*



# سخات، خیرات

زه د عربو په ټولو ملکونو کې ګرځېدلی یم. ما هلته حتی په مکه معظمه، مدینه منوره، نجف او کربلا کې هم چېرې دا د سخات او خیرات طریقه نده لیدلې.
حال دا چې هلته دا طریقه ده چې مړی وشي، خلک خبر شي، بیا جنازه جومات ته راوړي هلته یې جنازه وشي. د دعا نه پس وارثان خپل مړی د ښخولو لپاره مقبرې ته یوسي او نور مسلمانان خواره شي.
دا اسلام خو مونږ ته د عربستان نه راغلی دی، خو خبره دا ده چې دا قسم عادتونه په مونږ کې خود غرضو خلکو پیدا کړل.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۰ مخ*

# خیرات او ذکات

اسلام چې خیراتونه او ذکاتونه واجب کړي او لازم کړي دي، په هغې کې لوی راز دی، دا چې زمونږ خوږ رسول (ص) وایي چې: صدقه بلا رد کوي.
دا بلا تاسو پېژنئ! دا خو د غریب او امیر ترمنځ له نفرت نه بلا ولاړېږي.
نو چې شتمن خلک د بېوزلو پوښتنه وکړي، له هغوی سره د مصیبت په وخت کې مرسته وکړي، نو د غریبانو له خپلو امیرانو سره مینه محبت پیدا شي او د بلا مخه ونیول شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۲ مخ*

# سیالي

پښتانه خو داسې قوم دی، که یو کلی څه وکړي نو بل کلی د هغوی د سیالۍ نه ضرور هغه کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۱ مخ*

# د انسان کمزوري

انسان هم یو عجیبه څیز دی، څه وخت چې کمزوری شي او همت بایلي، نو بیا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو لپاره قسما قسم حیلې او حوالې لټوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۵ مخ*

# د قومونو راویښول

پښتون یو ژوندی قوم دی، د قومیت او قربانۍ ماده هم پکې شته، خو راوېښول غواړي. قومونه خو تش په کُف او چُف نه رابیدارېږي.

د قومونو د ژوندي کولو او بیدارولو لپاره داسې کسان په کار دي چې بې غرضه وي، دیانتدار وي، ایماندار وي او د خدای لپاره د خپل قام خدمت ته تیار وي. چې داسې کسان په کوم قام کې پیدا شي، نو د هغوی په کوښښونو هغه قام کې مینه، محبت، همدردي، وروري او عزیزولي پیدا شي، هغه قام اباد شي.

مونږ بې همتو او خود غرضو خانانو، ملایانو او باباګانو تیارې ته کېنولي یو، ځکه خو زمونږ دا حال شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦٧ مخ*

# کمزورتیا

پښتنو کې دا ډېره لویه کمزورتیا ده چې چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي، نو خپله ژبه ترې پاتې شي.

زمونږ سره په سرحد کې په زرګونو هندوان اوسي، هغوی هغه خپله ژبه هېره کړې نه ده. پنجابي یې هم زده ده او زمونږ ژبه یې هم زده کړې ده.

دا کمزوري صرف په مونږ پښتنو کې ده.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۰۱ مخ*

## خراب عادت

افسوس په دې دی، چې مونږ سره څوک ښه سلوک کوي، هغه ته نېغ یو او چې څوک مو سر په ډنډه وهي، نو هغه ته ټیټېږو او دا ډېر خراب عادت دی.

او مونږ ته د داسې عادتونو پرېښوول پکار دي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۴۰ مخ*

## د خلکو پېغورونه

زما خپلوانو او دوستانو ډېر راته ووې، چې ولې پیاده ځې، دا خلک به څه وایي؟


مونږ د خلکو د پېغورونو له کبله ډېر غلط کارونه کوو.

ما ورته وویل: چې زه د خلکو خبرو ته نګورم، کار ته ګورم.

که کار درست وي، خلک چې هر څه وایي زه به یې کوم.

او که کار غلط وي، نو که خلک هر څه وایي، زه یې نکوم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۱۵۸ مخ*



# خپل مذهب، په پردۍ ژبه

د هندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کې دی، د هندوانو مذهب په سانسکريت کې دی.

هندوان په هغه نه پوهېږي او زمونږ مذهب په عربي کې دی او مونږ په عربي نه پوهېږو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۳ مخ*

# دا کار کولی شم او دا نه!

نو چې هر کله مونږ خپلې کمزورۍ له خدای نه پټولی نشو، نو پکار ده چې له خلکو نه يې هم پټې نکړو.

او چې کوم کار کولی شو، په جار ووايو چې دا کولی شو او چې کوم کار نشو کولی، په جار ووايو چې دا نشو کولی.

او دا ونه کړو چې يو ښه کار دی، چې زما يو بل ورور لگيا دی کوي يې او هغه کار زه کولی نشم.

نو مونږ له د هغه امداد پکار دی، مخالفت يې پکار ندی.

او پخپله ډله او قوم کې اختلاف پيدا نه کړو او په ځای د ډاډ ورکولو په هغه قسماقسم الزام ونه لگوو او هغه ته مشکلات پيدا نکړو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۷ مخ*

## عزت

د هر سړي خپل عزت پخپل لاس کې دی.

او که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات قابو کړي، نو همېشه به ارام، خوشحاله او عزتمند وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۰۰ مخ*

## ټوپک که قلم؟

نن ورځ د پښتنو لپاره د ټوپک ضرورت نشته دی، بلکې د قلم ضرورت دی. ولې چې زمونږ د ملک آزادي به په ټوپک نه وي، بلکې په قلم به وي.

*باچا خان ليکونه، لومړی برخه، ۴۳ مخ*



# قوم او ژبه

حقیقت دا دی، چې دغه وخت په پښتو کې هیڅ نه وو او نه پښتو د چا یاده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نادانه ؤ چې دا خپله ژبه ورته سپکه ښکارېده او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي

او چې خپله ژبه ترې ورکه شي، نو ورک شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۳۴ مخ*

د هزارې خلق پښتانه دي، خو ژبه ترې ورکه شوې ده.

*لالونه مرغلرې، ۱۲ مخ*


# دعا

مونږ چې ځان ته مسلمانان وایو او پښتانه یو، مونږ دا خپل پښتون مسلمان ورور وژنو، شرموو او مخبرې پرې کوو.

دعا وکړئ، چې مونږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي.

او زمونږ په زړونو کې الله تعالی مینه او محبت، وروروليي، عزیزداري، قامولي او اتفاق پیدا کړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۷ مخ*



# ورور وژنه

اى پښتنو وروڼو!

يو كافر خپل كافر ورور نه وژني.

تاسو چې ځان ته مسلمان وايئ، بيا ولې يو پښتون بل پښتون وژنئ؟

او نه چېرې يو فرنگى پخپل قوم مخبري كوي او د هغوى ملگرتيا كوي او نه چېرې يو هندو د خپل هندو برخلاف نا حقه او د دروغو شاهدي وركوي.

او نه د خپل هندو ورور د شرمولو او د بې عزتۍ كوشش كوي.

خو اى پښتنو وروڼو! بيا ولې تاسو په ناحقو شاهديو د يو بل بې عزتي او شرمولو پسې روان ياست؟

لږ خو له خداى نه ووېرېږئ او شرم وكړئ.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۶ مخ*



## لار ښوونکی؟

خلک وايي پښتون ترقي ونه کړه، په ورانو لارو روان شوی دی، لېکن حقیقت دا دی چې پښتنو ته چا سمه لار ښودلې ده؟

چا له ورانو نه منع کړي دي او دوی منع شوي ندي؟

هی افسوس! د نورو قومونو پشان د دوی غمخور نشته.

د دوی شپون نشته، ځکه خو يې شرمښان خوري او ماتوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۱۷ مخ*

## خدايي خدمت

مونږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وايو، چې بې له کومې تمې، غرض او اُجرت نه د خدای لپاره کېږي او خدای خو خدمت ته ضرورت نلري، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۵٦ مخ*

## بد قسمته قوم

هغه قوم په دنیا کې ډېر بد قسمته وي، چې په هغوی کې داسې خلک پیدا شي چې پخپله خو د قوم او ملک د خدمت لپاره تیار نه وي، خو چې څوک پکې د خدمت پاره پیدا شي، نو هغوی خدمت ته نه پرېږدي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰۰ مخ*





# يهود او فلسطينيان

په فلسطين کې يهوديانو ښکلي ښکلي نوي کلي، ښارونه او باغونه جوړ کړي دي او لګيا دي جوړوي يې، لېکن مسلمانان يې لا هغه شان په غفلت کې پراته دي او امام مهدي صاحب ته په انتظار دي، چې مونږ به پخپله څه نکوو، هغه به راشي او هغه به راله هرڅه وکړي.

دوی دومره بې علمه او بې خبره دي چې امام خو پرېږده چې پيغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملا تړلې نده، نو پيغمبر کاميابه شوی ندی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۲۷ مخ*


# زمونږ ملک

دا ملک خدای مونږ له راکړی دی او دغه شان خدای هر يو قوم له يو ملک ورکړی دی.

د دې لپاره چې هغوی او د هغوی بچي پرې آباد شي.

ملک خو زمونږ دی خو اختيار يې د بل دی او دغه وجه ده، چې زمونږ بچي وږي تږي او بربنډ دي او مزې پرې نور خلک کوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰٦ مخ*



# د قوم ترقي

په جېلخانه کې ما د خپل قوم پر حالاتو په ښه شان سره غور کړی ؤ.

زه په دې نتيجه ورسېدم، چې په دنيا کې هيڅ قوم بغير له خپلې ژبې نه ترقي کـولی نه شي او په هغوی کې علوم او فنون پيدا کېدای نشي.

ما دا اراده کړې وه، چې ضرور به يوه رساله په پښتو کې د خپل قوم د پوهولو، د دنيـا له حالاتو نه د خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مايل کولو (مخ کولو) پاره جاري کوم او د دې کوشش به هم کوم، چې انجمن پخپله ژبه کې د بچو لپاره د ابتـدايي تعلـيم انتظام وکړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۳۳ مخ*

# بد نصيبه قوم

ما دې خپل بد نصيبه قوم ته کتل، چې اول خو د دوی د خدمت څوک نـه وي او کـه څوک يو نيم پيدا هم شي، نو څوک د خدمت موقع نه ورکوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۳ مخ*

# مذهبونه

د ګاندي جي په زړه کې د ټولو مذهبونو يو شان احترام ؤ. هغـه بـه دا ټـول مذهبونـه حق ګڼل او زما عقيده هم دغسې ده. خدای په قرآن کې وايي: چې ما هر قوم تـه لـه هغوی نه يو هادي لېږلی دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦٨٦ مخ*

# امان الله خان او انقلاب

په پښتنو کې ډېر بادشاهان تېر شوي دي، لېکن د پښتنو ښځو او نرو چې څومره مینه او محبت له امان الله خان سره ؤ، هغه له بل بادشاه سره نه ؤ.

امان الله خان به وې، چې زه د پښتنو انقلابي بادشاه یم او د هغه دا خبره بالکل رښتیا وه، چې هغه په پښتنو کې یو عجیبه انقلاب پیدا کړو.

انقلاب یو سیلاب وي چې راشي نو اوده خلک یوسي او ویښ ترې فایدې اوچتې کړي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۴۱ مخ*

# لیډران او قوم

د کوم قوم لیډران چې زړور وي، هغه قوم کې زړورتیا پیدا شي او چې د کوم قوم لیډران بزدل وي، هغه قوم کې بزدلي پیدا شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۷۲۸ مخ*



# په دورو کې د باچا خان لومړنی تقریر

پښتنو وروڼو! مونږ ستاسو وروڼه يو، ستاسو خدمتګاران يو، ستاسو خدمت له راغلي يو.


راځئ دا خپل وران کور جوړ کړو!

تاسو لږ دې دنيا ته وګورئ. که علم مو نشته، نو سترګې خو مو شته. د دنيا خلک او قومونه اسمانونو ته وختل او مونږ په مځکه پاتې شو.

هغوی چې زمونږ په شان بنيادم دي، مونږ ورته لاس نيولی دی، چانه دانې غواړو چانه پيسې غواړو. مونږ له خدای د جنت په شان ملک راکړی دی، د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی او زمونږ پکې څه حال دی؟ د جوارو ډوډی، نشته چې په مړه ګېډه يې وخورو.

هغوی ولې اباد شول؟ او مونږ ولې پاتې شو؟ هغوی کې ورورولي ده، قامولي ده او اتفاق دی. په مونږ کې پرې دي، جمبې دي، بغض دی، کينه ده، نفاق دی. دا نن دنيا د قامولۍ دنيا ده. که قوم شوئ، نو دنيا به مو هم آباده شي او آخرت به مو هم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۳۵۷ مخ*



# صابران

خدای پاک وايي: چې زما نه امداد په صبر او اتفاق سره غواړئ.

او خدای پاک ويلي: چې څوک زما په لاره کې مړ شي، نو هغه مړ نه دی، ژوندی دی، خو تاسو پر دې نه پوهېږئ. او خدای پاک وايي: چې زه د صابرانو ملګری يم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۱ مخ*

# سياسي شعور

سياسي شعور په يو قوم کې له اسمانه نه راځي.

او چې په کومو قومونو کې د سياسي شعور خلک پيدا شي، نو پخپل قوم پسې وګرځي، په هغوی کې سياسي شعور پيدا کړي.

مسلمانان ډېر ښه قوم دی، خو په هغوی کې داسې خلک تر اوسه پورې پيدا شوي ندي. تاسې د هندوانو او مسلمانانو دې لېډرانو ته فکر وکړئ.

د هندوانو مشران او لېډران قوم پرست دي.

خو د مسلمانانو مشران او لېډران، خان بهادران او خان صاحبان وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۲۷ مخ*



## قامولي

اې وروڼو! نن د قامولۍ دنيا ده. تاسې وينئ چې په کومو قومونو کې قامولي او ورورولي راغلې ده، نو هغه آسمان ته وختل او اباد شول. دا مونږ هم يو قوم يو، نو مونږ ولې پاتې شو؟

دا مونږ ځکه پاتې شو، چې مونږ کې قامولي، ورورولي، مينه، محبت او اتفاق نشته، نو زه تاسو له ځکه راغلی يم، چې تاسو زما قام ياست، خو تاسو خپله ژبه، پښتونولي، تمدن او ټول څيزونه پرېيښي دي، تر دې چې لنګونه مو وهلي دي.

د ا هم درته وايم چې يوه مرغۍ له سيل نه جدا شي، نو هغه ورکه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۳۸ مخ*

## نفاق

زما يقين دی، چې کوم قوم کې نفاق او ډلې وي، هغه خپل منزل ته رسېدی نشي.

ا و نن چې مونږ غلامان يو، د دې وجه نفاق دی او پرې جنبې دي.

زما د ډله بازو او نفاق نه ډېره کرکه کېږي. *زما ژوند او جدو جهد، ۴۴۷ مخ*

هره يوه ډله د نا اتفاقۍ له وجې ختمېږي. *لالونه مرغلرې، ۲۰مخ*

- ترڅو چې پښتون د غلامۍ طوق له غاړې نه ايستی نه وي، پښتون د دنيا د نورو قومونو د سيالۍ لايق کېدی نه شي. *لالونه مرغلرې، ۱۷مخ*

د غلامۍ نه لوی لعنت بل نه شته. *لالونه مرغلرې، ۲۱مخ*

د غلام هيڅ دين او مذهب نه وي. *لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*





# پښتنو يو شئ!

مونږ يو قوم يو او د يو بابا اولاد يو.

زمونږ مثال د يوې ونې دی، چې ډېرې ځانګې پکې وي، خو مونږه يې يو وي او چې ځوک د هغې ونې يوه ځانګه پرې کوي، نو د هغې ونې سيوري ته نقصان رسي او که د هغې ونې مونډه وچ شي، نو ټولې ځانګې يې وچې شي، نو نن ورځ پېرنګيان لګيا دي، دغه ځانګې ورو ورو پرې کوي.

تاسو وېښ شئ! که دغه ځانګې ختمې شي، نو ستاسو بچي به نور پاتې نه شي او د سر سيوری به يې ورک شي او که چېرې دغه مونډه وچ شو، نو دغه ټولې ځانګې به يې وچې شي، يوه به هم پاتې نه شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۵ مخ*

زه تاسو ته وايم، چې دښمن لګيا دی، تاسو ورکوي او په دې کوشش کې دی چې دا مونډه وچ شي.

که له تاسو نه دا مونډه وچ شو، نو بيا به ورک شئ.

پاڅئ!

دا خپل کور جوړ کړئ، دا بېل بېلوالی پرېږدئ، يو قوم شئ.

که يو قوم شوئ، نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او اخرت هم.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵٦ مخ*

زما خو يو پيغام او يوه خبره ده، چې پښتنو تاسو يو شئ، خپل کور جوړ کړئ، دا پرې جمبې، ذاتيات او دشمنۍ پرېږدئ، نو دين به هم ښه شي او په دنيا به هم اباد او اسوده شئ.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

# د قام آبادي

په کوم قام کې چې د خدای لپاره د خدمت خلک پاته نه شي نو هغه قام په دنیا کې چېرې هم ترقي نشي کولای.

او چې په کوم قام کې د خدمت قدر نه وي، هغه ملک چېرې آبادېدلی نشي.

*د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۴۷ مخ*

# ښځې

بغیر له ښځو نه یو قوم ترقي نشي کولی.

ولې چې زمونږ د کور او بچو ټول پرورش د هغوی په لاس کې دی.

او زمونږ د گاډي چې کومې دوه پایې دي، یو سړی او بله ښځه ده.

نو تاسو په خپله خیال وکړئ چې یوه پایه پنچر وي، نو گاډی به څنگه لاړ شي؟

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۷ مخ*

تر کومه وخته چې د یو قوم ښځې رابېدارې شوې نه وي، هغه قوم بېدار شوی نه دی.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*



# خدايي خدمتګاري

خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی او د خدای مخلوق يوازې مسلمانان نه دي، ټول د هغه مخلوق دي.

که هندو دی، که سک دی، که عيسايي دی، زمونږ فرض له دنيا نه ظلم ورک کول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول دي.

مونږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو، چې څوک د خدای پر مخلوق ظلم کوي، که ظالم زمونږ ورور او مسلمان هم وي.

بله دا چې زمونږ خدمت به د خدای د پاره وي، د څه غرض د پاره به نه وي. مونږ له چې څوک څومره تکليف راکوي، زور زياتی راباندې کوي، مونږ به بدل نه اخلو، بلکې صبر به کوو او د هغه سړي، قوم يا حکومت د پوهولو کوشش به کوو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۷ مخ*

هر يو کار چې د خدای دپاره وي، د هغې مخه څوک نيوی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*

# د تحريک مقصد

دا تحريک زمونږ د ورورولۍ او قامولۍ تحريک دی او مونږ دا کوشش کوو چې د ټولو پښتنو يوه ورورولي او قامولي جوړه کړو او د دوی له زړونو نه بغض، کينه، تربګنـي او دښمني لرې کړو.

چې اتفاق پکې پيدا شي، محبت او همدردي پکې پيدا شي او يو قوم شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ*

# اصلي مطلب

مونږ هم يو قوم يو. مونږ له هم د خپلې آبادۍ او ترقۍ لپاره څه جدوجهد په کار دی او که ټول عمر په نېستۍ او غلامۍ کې پراته يو، نو ورک به شو.

زمونږ اصلي مطلب په قوم کې مينه، محبت، قامولي، ورورولي او اتفاق دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۰ مخ*

# ستاسې ملک

ای ورونړو!

که يو قوم شوئ، نو تاسو ته خدای داسې ملک درکړی دی چې له دولتونو او نعمتونو نه ډک دی، خو ستاسو د بې اتفاقۍ په وجه پرې نور خلک مزې کوي او که تاسو يو قوم شوئ، نو ستاسو ملک بل څوک خوړی نشي.

ستاسو دنيا او اخرت به اباد شي او داسې ملک به مو په برخه شي، چې په هغه کې به يو سړی غريب پاتې نه شي، ټول به خانان شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ*





## دعا او عمل

بې عمله دعا د خدای پاک په نزد نه قبلیږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۱ مخ*

غلامي د خدای لعنت دی او مونږ له دې لعنت نه ځان خلاصول پکار دي او دا به هله وشي چې مونږ کې قامولي، ورورولي، اتفاق او مینه محبت پیدا شي. زه امید کوم، چې تاسو به زما په دې خبرو غور او فکر وکړئ.

که دې کې یوازې زما فایده وي، نو مه یې کوئ او که دې کې ستاسو د دنیا او اخرت ګټه وي، نو عمل پرې وکړئ چې تاسو آباد شئ او ستاسو بچي آباد شي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۰٦ مخ*

## ترقي

زما عقیده ده چې یو قوم هله ترقي کولی شي، کله چې د هغه قوم ښځې د سړو سره اوږه په اوږه د قوم خدمت ته ودریږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*



# زمونږ ملاتړ

مونږ د خدای لپاره د خدای د مخلوق خدمت ته ملا تړلې ده.

که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول غواړئ او خدای رضا کوئ، نو مونږ سره په خدايي خدمتګارۍ کې زمونږ ملا وتړئ، چې دا دنيا مو هم جنت شي او اخرت کې هم د جنت حقدار شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۱ مخ*

# د ځان خاورې کول

کومه دانه چې په پټي کې ځان خاورې نکړي، هغه هم چېرې زرغونه شوېده؟ هغې نه هم چېرې بوټی شوی دی؟ او د هغې نه هم چېرې دانه پيدا شوېده؟

دانې همېشه له هغې دانې نه پيدا کېږي چې ځان خاورې کړي.

*باچا خان ليکونه، لومړی برخه*، ۴٦ مخ

# د بل لپاره

مونږ پښتانه د بل لپاره ولې ښه ښه کارونه کوو خو د ځان لپاره هېڅ نکوو؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۵ مخ*

# وړيا کتاب

زه هيڅ شی، خصوصاً کتاب او اخبار په وړيا توګه نه اخلم.

*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه*۹٦ مخ

# د خپل ملک جامې او ژبه

د شپې د ټول کلي ښځې راجمع شوې، ما او حکیم صاحب ورته تقریرونه وکړل چې: تر کومې پورې چې تاسو قام لپاره ملا تړلې نـه ده، قـوم اوچتېـدی نـه شي او د خپـل ملک د جامو اغوستو وعدې مې ترې واخیستې، چې د خپل ملک جامې به اغوندي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۶ مخ*

# د هزاري پښتنو!

زما دا خبره یاده ولرئ، چې له چا نه ژبه ورکـه شـوېده، هغـه ورک شـوی دی او چاتـه چې خپله ژبه سپکه شوېده، هغه سپک شوي دي.

تاسو خپله ژبه هېره کړېده او تشه ژبه درنه ورکـه شـوې نـده، بلکـې ورسره هغـه پښـتو درنه هم ورکه شوېده.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۴ مخ*

# جنګ

د جنګ په وخت کې آسونه نه تیاربږي.

نو ځان ورته نمونه کړه چې ته روان شوې، دوی هم درپسې روانېږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*



# زمونږ مشر

دا تاسو چې زما د بادشاهۍ چغې وهئ، نو چې دا تحریک مونږ شروع کړی دی، دا خو د باچایۍ لپاره ندی چې زه دې بادشاه شم.

او که چېرې تاسو ما بادشاه کړئ، نو اول خو په اسلام کې باچايي نشته او بله دا چې ستاسو به خاورې په سر شي او زما به مزې وي، نو تاسو پوه شئ چې نه ما او نه بل خپل باچا کړئ.

مونږ باچایان جوړول نه غواړو، باچایانو ته مو ضرورت نشته.

زمونږ به یو مشر وي او د قوم په رایه او مرضا او مشوره به وي او هغه سړی به وي، چې هغه نېک او ایماندار او د قوم او ملک خیرخواه وي، تکلیفونه او قرباني او ډېر خدمت یې د قام او ملک کړی وي.


او چې د دې مشرۍ اهلیت او پوهه هم پکې وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۷ مخ*

# د ملک تباهي

د افغانستا ن جنګ د امریکې او روس جنګ دی، پاکستان د امریکې د مفاداتو لپاره خپل ملک تباه کوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۱ مخ*



# بادشاهي

زمونږ حکومت به د جماعت تابع وي، جماعت به د حکومت تابع نه وي.

بادشاهي خراب شی دی او د قوم او ملک پکې ډېر نقصان دی.

او که چېرې، نن یو باچا هم ښه وي، نو سبا به يې زوی باچا وي، نو څوک ويلی شي چې ګوندې هغه به هم ښه وي او باچايان کله د قوم ترقي غواړي؟

ولې چې هر وخت دا خيال کوي چې که دا خلک پوه شول، نو ما به لرې کړي نو هغه هر وخت د قوم د پوهې په لاره کې خنډونه اچوي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۸ مخ*


# خبرې او عمل

دا خبره زما ياده ولرئ!

چې په دنيا کې کوم قومونه چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر، نو هغه قامونه همېشه خپل منزل ته رسېدلي دي.

زه تقرير نکوم. زما په تجويز غور وکړئ!

*زما ژوند او جدو جهد،۳٦۷ مخ*



# زمونږ حکومت

دا ملک زمونږ د ټولو پښتنو دی، نو مونږ یو سړی نه خان کوو.

زمونږ به کوشش دا وي، چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړوو، چې په هغه کې مساوات وي او د ټولو خلکو په کې یو شان خیر او فایده وي.

که پوره وي او که سپوره وي، په شریکه به وي، امن وي، انصاف وي، زمونږ به د ټول قوم یوه جرگه وي او د هغې په خوښه به صدر وي.


*زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۸ مخ*

# زما مذهب

زما مذهب رښتیا، مینه، محبت او د خدای د مخلوق خدمت دی.

مذهب همېشه دنیا ته د اخوت او محبت پیغام راوړی دی. د کومو خلکو په زړونو کې چې د بني نوع انسان لپاره رواداري، مینه او محبت نه وي او د کوم سړي په زړه کې چې نفرت، بغض، کینه وي، نو داسې سړی له مذهب نه ډېر لرې وي.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦٨٦ مخ*



# ښځو ته

دا ملک چې څنګه د سړو دی، داسې ستاسو هم دی.

او دا ستاسو چې څنګه خیال دی چې سړي لوی دی او ښځه وړوکې ده، دا په اسلام کې نشته، لویي په عمل کې ده.

که ښځه بااخلاقه، نېکه او پاکه وي، نو هغه لویه ده او که دغه شان یو سړی وي نو هغه هم لوی دی او که دغه شان یوه ښځه بد عمله، بداخلاقه وي، نو هغه وړوکې ده او که یو سړی هم دغه شان وي، نو هغه هم وړوکی دی.

په دې ملک کې ستاسو له مونږ سره یو شان حصه ده.

ښځه او سړی د ګاډۍ دوه پایې دي، که یوه پنچر شي، نو ګاډۍ مخکې تلی نشي.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۰ مخ*

❀

په دې ملک د ښځو او سړو یو هومره حق دی.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

# د قام ښځې

د کوم قام ښځې چې بیدارې شي او د ملک د آزادۍ لپاره ملا وتړي، نو هغه قوم څوک غلام نشي ساتلی او هغه قومونه به ډېر زر خپل منزل ته ورسېږي.

قامولي، ورورولي، مینه، محبت او اتفاق نشته.

پیسه چې یو قوم ته خوږه شي، نو هغه بیا اشنایۍ او دوستۍ ته نه ګوري.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۸ مخ*

❀

د پښتنو ښځې د نارینه وو نه ذهینې دي.

*لالونه مرغلرې، ۴۳ مخ*

# پښتنې

زمونږ پښتنې ښځې ډېرې پاک لمنې، حیاناکې، وفادارې او خدمتګارې دي، زه تل دا هڅه کوم، چې د ښځو له مغزو نه د کمترۍ احساس لرې کړم، ځکه په دوی کې دا احساس خود غرضو او ناپوهو سړو پیدا کړی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۲ مخ*

❀

ښځې په پېروي ډېرې مَېنې وي. چا له يې نه ورکوي او پرې خفه کېږي، ولې چې بیا په کوچو کې نقصان راځي.

*لالونه مرغلرې، ۲۲مخ*

# د جینکو ورکول

هغوی چې جینکۍ په وړوکوالي ورکوي او جینکو له موقع نه ورکوي، چې هغوی په خپله خو ښه باندې واده وکړي او یا يې نه ورکوي. د دې متعلق زما دا رایه ده چې د دې رسم پرېښودل پکار دي او که چېرې ټول خلک يې پرېښودو ته تیار نه وي، نو کم از کم تعلیم یافته خلکو له خو پرېښودل پکار دي او هغو له پکار دي، چې له ټولو نه اول خپلو بچو له تعلیم ورکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۷ مخ*

❀

زمونږ په قوم کې دا یوه ډېره د نقص خبره ده، چې هغوی جینکۍ په وړوکوالي ورکوي او جینکو له دا موقع نه ورکوي چې هغوی پخپله خوښه واده وکړي او یا که نه غواړي، نو ندې کوي.

د دې متعلق زما دا رایه ده، چې دا رسم هم پرېښودل پکار دي.

او هغو له پکار دي، چې له ټولو نه اول خپلو بچو له تعلیم ورکړي او د هغوی د اخلاقي تعلیم او تربیت خاص خیال وساتي.

او څه وخت چې هغوی له سبق نه فارغې شي، نو د هغوی د مرضا مطابق دې په معاملاتو کې له هغوی سره هر قسم امداد وکړای شي.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱٦ مخ*

## دوه ملگري

خدای پاک نر او ښځه د دنیا د ابادۍ دوه ملگري پيدا کړي دي او د بشريت د گاډي دوې پايې دي، دا گاډی په يوه پايه نشي چلېدلای.


زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاک لمنې، مينه ناکې او وفادارې دي او ډېرې خدمتگارې دي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۰، ۲۱، ۲۲ مخونه.*

## د اسلام په نامه بې علمي

عجيبه خبره خو دا ده، چې ملايانو د دين په نامه خلک له علمه محروم کړل، پداسې حال کې چې اسلام داسې دين دی چې علم يې پر نر او ښځو فرض کړی دی، خو مونږ داسې بد قسمته قوم يو چې د اسلام په نامه له علم نه پاتې شو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۱۰ مخ*



# بدل

زمونږ د صبر جنګ دی. مونږ به د وهلو او ښکنځلو بدل نه اخلو. مونږ به صبر کوو او ځان به خدای ته سپارو.

مونږ خدايي خدمتګاران يو، خدای به زمونږ بدل اخلي.

د خپلو زړونو نه خود غرضي او نفاق لرې کړئ، ځکه چې د دې له لاسه برباد شوي يو، ځان کې ښه اخلاق پيدا کړئ.

ولې چې د ښو اخلاقو نه بغير څوک ترقي نشي کولی.

*زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۶ مخ*

# صبر

زمونږ جنګ د عدم تشدد جنګ دی او پدې لاره کې چې هر قسم تکليفونه او مصيبتونه راځي نو په صبر به يې تېروو. مونږ به له چا نه بدل نه اخلو. مونږ خدايي خدمتګار يو، خدای به زمونږ بدله له ظالم نه اخلي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۹ مخ*



# وېره

زه پدې نه پوهېږم، چې تاسو ولې له پيرنگيانو نه وېرېږئ، دوی خو ستاسو پشان بنيادم دي، ستاسو په شان يو قوم دی.

تاسو خو پرو جنبو او نفاق تباه کړئ، وېره درکې پيدا شوېده.

د چا په زړه کې چې د خدای وېره وي، نو د هغه په زړه کې د بل چا وېره نه راځي او له چانه نه وېرېږي.

او د چا په زړه کې چې د خدای وېره نه وي، هغه له هر چا نه وېرېږي.

اې ورونړو تاسو په زړه کې د خدای وېره پيدا کړئ!


*زما ژوند او جدو جهد*، ٥٣٦ مخ

# پټ کار

هغه کار چې سړی يې په ښکاره نشي کولی او پټ يې کوي، سړی کمزوری کوي او له خپلو اصولو نه يې وباسي او په سړي کې وېره او بې زړه توب پيدا کوي.

څومره چې يو سړی خپل خواهشات او ضروريات کمولی شي، هغومره به آرام او خوشحاله وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۱۴ مخ



# په نورو اعتراضونه


زمونږ کار په چا اعتراضونه او نکته چیني نده.
او دا زمونږ کار ندی، چې په نورو جماعتونو او د هغوی په مشرانو نکته چیني او اعتراض وکړو.
زمونږ کار دا دی، چې مونږ خپل پروگرام خلکو ته پېش کړو، چې مونږ ستاسو پاره دا غواړو او دا کار یوازې نکېږي. دا به هله کېږي، چې تاسو راسره ملگري شئ. ملک ستاسو او زمونږ شریک دی، قوم هم شریک دی او کار هم شریک دی.

*زما ژوند او جدو جهد، ٦۵١ مخ*

# د کلي تحریک

دا تحریک د خدای د مخلوق د خدمت او انسانیت تحریک ؤ.
دې تحریک په مسلمانانو، هندوانو، سکهانو کې د مینې، محبت او خدمت جذبه پیدا کړې وه، چې پخوا یې مثال نه ؤ.
دا تحریک کلیوال تحریک ؤ، مرکز یې هم په کلي کې ؤ، ځکه چې اکثریت قوم په کلي کې اوسي.
د دې تحریک فرق له نورو تحریکونو نه دا ؤ، چې نور تحریکونه له ښارونو نه شروع کېږي او په کلو کې خورېږي.
مگر دا تحریک له کلو نه شروع شو او په ښارونو کې خور شو.

*زما ژوند او جدو جهد، ۷۲۹ مخ*



# په کابل کې د هند سفير ته

افغانان، پښتانه به هېڅکله کمونيزم يا روسيه ونه مني. دوی به مړه کېږي. څوک چې کولای شي، وطن به پرېږدي.

زه بايد له برژنيف سره خبرې وکړم، زه به هغه ته ووايم: «رحم وکړه».

زه به ريګن ته هم ووايم: «رحم وکړه».

کمونستان نه يوازې خلک، بلکې ونې هم په افغانستان کې له منځه وړي.

انقلاب په يو ظلم باندې اوښتی دی.


سفيره! تاسو ځوان ياستئ، خو تاسو بايد يوه غميزه وپېژنئ. اوس په افغانستان کې داسې غميزه روانه ده. مجاهدين د شپې وژنه کوي، روسي عسکر سهار وژنه کوي. نتيجه يې دا ده، چې پښتون مري.

*Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban* ۳۰ مخ

# د بل فکر

مونږ همېشه پخپل خيال پسې ځو او د بل فکر نه کوو. دا يو لوی کمی دی، مونږ له پکار ده چې همېشه د خدای د مخلوق د تکليف او آرام فکر او خيال وساتو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۱۵ مخ



# د نور محمد تره کي په نامه د باچا خان لیک

**((د نور محمد تره کي په نامه!**

وروسته د القابو، دعا، سلام، نېکو هیلو او تعارفاتو...

لېنن چې په روسیه کې انقلاب وکړلو، په لومړیو ورځو کې یې د خپلې پارټۍ لیډران، د حکومت وزیران او ذمه دار کسان ځانته راوبلل، له هغو نه یې جرگه جوړه کړه او ورته یې وویل: تر اوسه پورې دلته بادشاه ناست وه او پدې ملک کې شاهي نظام چلېده، هغوی له خلکو سره بد سلوک کاوه، خلکو د هغه تخته واړوله او اوس پرې بد وایي او زمونږ او ستاسو په راتگ خوشحاله دي، نو مونږ او تاسو باید له دې واقعې نه د عبرت درس واخلو.

خلکو سره ښه وچلېږو، ورته خدمت وکړو او خوشحاله یې وساتو چې د تل لپاره زمونږ شاته ودرېږي.

خیال ساتئ چې مونږ باید داسې ونکړو چې خلک زمونږ د بد چلند، ظلم او ستم په سبب بېرته د هماغو بادشاهانو په ارمان شي دا به هم زمونږ او هم ددې وطن ډېره لویه بدبختي وي.

نور تره کي صاحب!

ته هم دا د خپلې پارټۍ لیډران او د حکومت لوی ذمه وار کسان ځان له وغواړه، هغوی ځان سره کېنوه او ورته ووایه، چې پام چې داسې بد کارونه، ظلمونه او ناروا ونه کړئ چې سبا به بیا هم تاسې پښېمانه یئ او هم به خلک بېرته د بادشاهانو او شاهي نظام په ارمان شي...))

*نگاه مختصر به افکار و مبارزات تاریخي خان عبدالغفار خان (باچا خان)، ۸۵-۸۴ مخ*

# د ببرک کارمل په نامه د باچا خان لیک

**((د ببرک کارمل په نامه!**

خوږه ببرک کارمله! عمر دې ډېر، پام دې په ښه، روغ جوړ او خوشحاله اوسې.

ته اوس هغه کارمل نه یې چې ما لیدلی وې. ستا خو له دې ملک سره ډېره مینه وه، ډېر محبت او همدردي دې وه، ته خو دې خپل ملک او قوم ته وګوره. اباد شو او که برباد شو. په دنیا کې چې په هر ملک کې انقلاب شوی دی یا کمونېزم راغلی دی، هغه ملک اباد شوی دی، خو مونږ پرې برباد شو. انقلاب بدلون ته وایي، دا انقلاب ندی او نه کمونېزم دی، دا د دوو ډلو په منځ کې جنګ دی. یوې ډلې سره امریکا او بلې ډلې سره روس امداد کوي او له دواړو خواوو نه تباه کېږو مونږ. تا له پکار دي چې ته پدې مسئله غور او فکر وکړې او علاج یې وسنجوې او د خپلې ډلې او قوم سره مشوره وکړې او دا مسئله حل کړې چې پدې وطن کې امن راشي. هم به ستا د نېکنامۍ سبب شي او هم به د قوم د ابادۍ او ترقۍ لپاره میدان هوار شي، که زما خبره دې ونه منله او وخت تېر شي، بیا به ارمان کوې.))

*نګاه مختصر به افکار و مبارزات تاریخي*

*خان عبدالغفار خان (باچا خان)، ۸۶-۸۷ مخ*

# د لړم بچی

خدای دې پښتون ته د بدۍ وس نه ورکوي او چې وس وومومي، لکه د لړم د بچو په شان خپله مور خوري.

د کامیابۍ لپاره اجتماعي تحریک او قرباني پکار وي.

د ګناه او ثواب پر حقیقت د بېعلمه عالمانو په وجه څوک پوه نشول.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۰ مخ*

# اندرا گاندي ته پيغام

ما تا ته په څرگنده توگه تشريح کړل چې ټول افغانان د کمونستانو پر ضد دي.

ما تا ته هم ويلي دي چې په افغانستان کې هيڅ وخت کمونيزم حاکم کېدلای نشي.

که جگړه دوام وکړي، د افغانستان خلک به له منځه ولاړ شي.

ته د نهرو لور يې او هم دې د گاندي جي او د هغو له ملگرو سره ژوند کړی دی. ته ماته هم د لور پشان يې.

په افغانستان کې ماشومان، ښځې او سړي مري.

ته پخپل زړه کې هيڅ رحم نه لرې؟

*Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban*، ۹۳ مخ

*Ghaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns: Gandhi.R*، ۲۵۵ او ۲۵٦ مخ

# د بدکارو ملگرتيا

د بدکارو او بد چلندو خلکو ملگرتيا پکار نده، که هغه زمونږ ورور هم وي، ځکه چې د دوی له لاسه قوم او ټولنې ته نقصان رسېږي او همدا خلک قام تباه کوي.

دا نن چې پښتانه په بدو لارو روان دي، وجه يې دا ده چې مونږ د ښو او بدو فرق نه کوو او نه ځوک شته، چې په ښو او بدو مو پوه کړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۱۵ مخ



# دين او زړه

زمونږ ملک ته اسلام د اسلام په لاره رانغی، د سياست په لاره راغی، د ملک گيرۍ په لاره راغی، د زور او تشدد په لاره راغی.

او په دين کې زور نشته، بلکې هغه د زور مخالف دی.

لااکراه فی الدين، ولې چې د دين تعلق له زړه سره دی او زړه په زور يو شی نه قبلوي، بلکې په پوهه يې قبلوي، نو د دين لار زور ندی، تبليغ دی.

*د باچا خان ليکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ*

# بېځايه مصرف

زمونږ د پښتنو يوه لويه بد قسمتي او ناپوهي داده چې مونږ په رسمونو او رواجونو کې په زرگونو روپۍ بېځايه خرچ کوو، خو د قام، وطن او اجتماعي ښېگڼو لپاره د يوې پيسې خرڅ کولو ته تيار نه يو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۹ مخ*

# انقلاب

انقلاب د منډې کار او دومره اسان څيز ندی. انقلاب د سړې سينې کار دی. انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې له پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته يې اماده کړي.

انقلاب يو سېلاب وي چې راشي، نو ويده خلک يوسي او ويښ ترې فايده اوچته کړي.

د انقلابي اصلاحاتو پواسطه دا معاشره پاکېږي او د دغو اصلاحاتو لپاره انقلابي ذهنيت او انقلابي اراده او اخلاص پکار دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۱۰ مخ*

# تشدد او عدم تشدد

د تشدد وسله ټوپک ده.

عدم تشدد محبت دی، په خلقو کې محبت پیدا کوي. صبر او همت پیدا کوي. جرئت پیدا کوي.

تشدد په خلقو کې نفرت پیدا کوي، وېره او قهر پیدا کوي او تاسې د اسلام ابتدايي او د مکې زندگي وگورئ، چې هغه خو د تشدد زندگي وه.

او دا څومره لوی صحابه چې په اسلام کې وو او دا لوی لوی کارونه یې کړي دي. هغه ټول مکي وو او عدم تشدد یې پیدا کړی دی.

*د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ*

بابا: خیر دی بچیه! زما په خبرو غور وکړه، له تشدد څخه نفرت او له عدم تشدد څخه محبت پیداکیږي.

پښتانه خو په خپل کور او خپل ورور باندې تشدد کوي، له همدې نه دوی ځانونه تباه کړیدي.

*د ستر خدايي خدمتگار وياړلي يادونه ۵۹ مخ*



# زغم او صبر

در اصل عدم تشدد يو طاقت دی څرنګه چې تشدد يو طاقت دی، د عدم تشدد هم دغه شان فوج دی لکه څنګه چې د تشدد دی، خو د عدم تشدد وسله تبليغ دی او د تشدد وسله ټوپک دی. عدم تشدد په خلقو کې محبت پيدا کوي، همت پيدا کوي او جرئت پيدا کوي او تشدد په خلقو کې نفرت پيدا کوي او ويره پيدا کوي او بزدلي پيدا کوي. بعضې خلق وايي چې د دفاع دپاره خو تشدد په کار دی، دوی دې ته فکر نه کوي چې تشدد دې وکړو، نو د عدم تشدد لاره دې پرېښوده.


حالانکه عدم تشدد کې خپله دفاع شته. عدم تشدد کې شکست نه شته او تشدد کې شکست شته، څنګه چې د تشدد يو نظام دی دغه شان د عدم تشدد هم مکمل نظام دی. تشدد اسان دی او په دې لاره تلل هم اسان دي او عدم تشدد ډېر ګران دی او په دې لاره تلل هم ډېر ګران دي. يو سړي له د پړق جواب کې پړق ورکول اسان کار دی، خو پړق زغمل ګران کار دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

# مسلمانان

مسلمانانو اسلام هېر کړی دی؛ ځکه خو ورور د ورور دښمن دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،* ۲۱ مخ



# د جینکو تعلیم او تربیت

زما خیال ورځ په ورځ د جینکو د تعلیم او تربیت طرف ته زیاتیږي.

ولې چې زه دا خبره د قوم لپاره خطرناکه ګنم، چې هلکانو له دې تعلیم ورکړی شي او جینکۍ دې له علم نه محرومې پاته شي.

د دې نتیجه به دا وي چې زمونږ هلکان خو به اول له جاهلانو ښځو سره ودونه نه کوي او که چېرې ویې هم کړي، نو اکثر به یې کور سمون نه خوري او همېشه به پکې کش مکش وي.


چې له دې نه زمونږ ملک او قوم ته د یو لوی نقصان د رسېدو اندېښنه ده.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۵ مخ*

## خپله اداره

د سرحد ولایت دپښتنو ملک دی او باید پخپله د پښتنو له خوا اداره شي.

*د ستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه ۲۸ مخ*



# اختلاف رای

اختلاف رای همېشه په خلقو کې وي. اختلاف رای څه بد څيز ندی.

رسول اکرم (ص) خو د امت اختلاف رای ته رحمت ويلی دی. لېکن په موجوده وخت کې زمونږ د مسلمانانو او بيا خاص زمونږ د پښتنو اختلاف رای زحمت دی.

زمونږ له اختلاف رای نه همېشه ذاتيات جوړېږي او د دې ذاتياتو په وجه که چېرې د پښتنو تاريخ وګورئ، نو همېشه تباه شوي او برباد شويدي.


*باچا خان ليکونه، لومړی برخه، ۵٦ مخ*

# اخلاقي جرئت

رسم و رواج پرېښودل ډېر ګران کار دی، خو اخلاقي جرئت غواړي.

د غلطې پراپيګنډې مقابله کول پکار وي، چې سړی پاڅېږي، ملا وتړي او خلق په حقيقت پوه کړي. دا هله کېدای شي، چې د بېغرضو هم خيالو ملګرو مضبوطه ډله وي چې د خلکو اعتماد يې حاصل کړی وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*



# د اوسنۍ نړۍ ساتل

اوسنۍ نړۍ په يوازې صورت يوازې کولی شي چې د اتومي اسلحو له شر څخه د عدم تشدد په پيروۍ ځان وساتي.

نړۍ د گاندي جي غوندې کسانو ته ضرورت لري چې د دوستۍ، محبت او سولې پيغام له پخوا څخه لا زيات خلکو (نړيوالو) ته ورسوي.


پدې شرط سره، که واقعاً هغوی نه غواړي چې مدنيت او بشريت د نړۍ له مخ څخه ومينځل شي.

*Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam ،اووم مخ*

## دعا

دعا کوئ چې الله تعالی ماته د خدمت لپاره همت، طاقت او صحت راکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۳ مخ*



# د خدايي خدمتگارۍ قسم

- زه خدايي خدمتگار يم او ځنګه چې الله تعالی خدمت ته ضرورت نلري، خو د ده مخلوق ته خدمت، ده ته خدمت دی. زه تعهد کوم چې بشريت ته د الله تعالی په نامه سره خدمت وکړم.

- زه ژمنه کوم چې د تشدد او همدارنګه د بدل له اخيستلو څخه ځان وساتم.

- زه تعهد کوم چې هغه څوک چې پر ما تېری او ظلم کوي، عفوه کړم.

- زه ژمنه کوم چې خپل ځان د تربګنۍ، جدل او شخړې څخه وساتم او په دښمنيو کې ورګډ نشم.

- زه وعده کوم چې د هر پښتون سره لکه ورور او ملګري چلند ولرم.

- زه وعده کوم چې د ټولنيز رسم او رواجونو، دود او دستور پر ضد و نه اوسم.

- زه وعده کوم چې ساده ژوند ولرم، ښېګڼې عملي، د شيطانت او بدو اعمالو څخه ځان وساتم.

- زه ژمنه کوم چې ښه سلوک، خوی او خاصيت ولرم. له ټنبلۍ څخه ځان وساتم او وعده کوم چې د ورځې کم له کمه دوه ساعته اجتماعي (ټولنيز) کار ته وقف کړم.

*My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang,* ۹۷ مخ

# ابن الوقت کسان

تماش بين، خود غرضه او ابن الوقت کسان په جماعت کې اخيستل نه دي پکار، تحقق پکار وي چې داسې خلک واخيستل شي چې هغوی په حقيقت کې د خپل غرض لپاره نه، بلکې د قام د خدمت لپاره پارټۍ ته راځي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۲۰ مخ

# حق او جمهوريت

امام حسين هم د حـق او جمهوريـت لپـاره راپاڅېـدلی و او مـونږ هـم د خپـل حـق او جمهوريت لپاره راپاڅېدلي يو. هغه هم مظلوم و او مونږ هم مظلومـان يـو. هغـه هـم د ظلم سره د مقابلې لپاره را اوچت شـوی وو او مـونږ هـم د ظلـم سره د مقـابلې لپـاره را اوچت شوي يو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۱ مخ*

# د ميدان نه تېښته


سياسي قيديانو له په کـار دي چـې هـر يـو قـدم پخپـل خيـال اوچتـوي او نـور څـوک مجبوروي نه. مجبور کسان چې رؤ بياموميِ، نو د ميدان نه بيا تښتي.

*لالونه مرغلرې، ۴۴ مخ*

# باغواني

هوا خوري اجازت دی. زما مشقت باغواني ده، دا کار زما ډېر خوښ دی، ما له يې يـو لوی پټی راکړی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۱ مخ*



# ځان وپېژنئ!

خپل ځان وپېژنئ!

خپل خدای وپېژنئ!

او خپل دوست او دښمن وپېژنئ!

بس نور څه ولیکم؟

الله تعالی دې مونږ ټولو له صبر او استقلال راکړي.


او د خپل مخلوق د خدمت توفیق او طاقت دې راته عطا کړي.

*باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۲۵ مخ*

# راشه درشه

دا خدمت پدې نه کېږي چې زه دې ځای پر ځای ناست یم او خلک دې ماتـه راشي. زه هم باید دوی ته ورشم.

*د ستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه۷۳ مخ*



# مذهب

د هر یو مذهب د پیروانو دا فرض دی چې د خدای د مخلوق له منځه کرکه او نفرت لرې کړي، مینه محبت پکې پیداکړي او له یو بل سره امداد وکړي، خو مونږ له دې حقیقت نه چا خبر کړي یو؟

په خلکو کې مذهب شته، خو په نوم مذهب دی.

مذهب د نفرت نه، بلکې د مینې او محبت علمبردار دی.

مونږ ته به طاقت خدای پاک راکوي، ځکه چې د طاقت اصل مالک د خدای پاک ذات دی.

په خپل ملک کې له خپل قام سره وږی تږی او په تکلیف کې خوشحال یم.

نه په پاکستان دی او نه په اسلام، بلکې د قام او غریب اولس په حق دی.

چې په ځان دې څه پېرزو نه وي، په بل یې هم مه پېرزو کوه.

بله دا چې که په مونږ پښتنو کې یو سړی بدکار وي، نو د هغه ملګرتیا پکار نده.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۷ مخ*

# وینا او عمل

غني یو عجیبه هلک دی خو مستقل مزاج نه دی، خبرې ډېرې کوي، خو عمل کم. امید دی چې ستاسو په توجه به یې اصلاح وشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۷ مخ*

# د ظالم ورکول

زمونږ فرض له دنیا نه ظلم ورکول دي او مظلوم له ظالم نه خلاصول دي، که ظالم زمونږ ورور او مسلمان هم وي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۴ مخ*

## اشرف المخلوقات

انسان د خدای په ټول مخلوق کې اشرف ګڼلی شي، نو پدې وجه یې له نـور مخلـوق نه ذمه داري ډېره ده، خو زه چې دې خپل قوم ته ګورم، ماته پـه دوی او څنـاورو کـې فرق نه ښکاري. له دوی سره هم د خپلې ګېډې غم وي او له څناورو سره هـم د خپـل کور غم وي، دوی هم بچي راوړي او د خپلو بچو غم خوري او څناور هم بچـي زېـږوي او لويوي یې، نو دوی په څه اشرف المخلوق بللی شي؟ دوی هم لکه د څناورو پشـان یو بل وژني.

دوی بـه هلـه اشرف المخلوقـات وبللـی شي چـې پـه دوی کـې اجتماعیـت ورورولي، عزيزولي، مینه او محبت پیدا شي. تش پدې چې نور څناور په څلـورو پښـو ګرځـي او انسان په دوه پښو ګرځي، اشرف کېدای نشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۲ -۱۳ مخونه*

## اصلاح او قدرت

د دومره بهادر او لوی قوم پخپله ژبه کې یو قامي اخبار نشته.

د دنیا تاریخ ګواه دی چې په کوم قام کـې داسـې اشـخاص پیـداشي، چـې هغـوی د خپل قام د اصلاح لپاره پاڅېدلي دي، د اقتدار خاوندانو یې مخالفت کړی دی؛ ځکه چې هغوی خپل اقتدار په خطره کې لیدلی دی. تاسو دې خپل د خدایي خـدمتګارو تحریک ته وګـورئ، څـومره چـې پـه قـام کـې پوهـه راغلـې ده، هماغـومره د اقتـدار د خاوندانو قدرت کم شوی دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۳ مخ*

## د انسان کرامت

زه خدایي خدمتګار یم، رکشه کې نه ځم؛ ځکه چې سړی یې راکاږي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

# نور او مونږ

دا د دنیا قومونه چې آباد شوي دي، ترقي یې کړې او آسمانونو ته وختل او مونږ چې د هغوی ژوند او اسودګی ته ګورو، ورته پسخېږو.

دا زمونږ پشان خلک دي، له مونږ نه بهتر پیدا شوي ندي. خو په هغوی کې ملیت، قامولي، عزتولي، علم، پوهه، مینه او محبت پیدا شو، ترقي یې وکړه

او په مونږ کې دا صفات نشته، په خاورو کې توغږېږو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*

# بل چا ته، که ځان ته ګوته نیول؟

زمونږ په خلکو کې دا یو لوی کمی او نقص دی چې مونږ همېشه د بل د کمزوریو او عیبونو د راوښکلو او لټولو په غم او فکر کې یو او خپلو کمزوریو او عیبونو ته فکر نکوو. پدې وجه خو نن په دنیا کې برباد او نېستمن یو.

د دې پر ځای چې مونږ بل ته ګوته نیسو، ځان ته ګوته نیول پکار ده او د نورو اصلاح نه ړومبی د ځان اصلاح فرض ده اول ځان دی بیا جهان دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۵ مخ*

# قاعده او قانون

چې په کوم ځای کې انصاف نه وي او نه څه قاعده او قانون وي، د یو سړي وینا قانون وي، له هغه سره بحث کول څه فایده نلري.

بل هله خوشحالولی شې چې پر ځان تکلیف تېر کړې.

چې یو سړی کار نشي کولی نو هغې ته دې ملا نه تړي او له داسې کولو نه، نه کول بهتر دي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱٦ مخ*



# د ځوانانو کار

ځوانانو ته پکار دي چې هر يو کار شروع کوي، چې په هغو ډېر فکر کوي، د هغې پر ټولو تکليفونو غور کوي،

که چېرې هغه ټولو تکليفونو ته تيار وي، نو هله دې هغه کار ته ملا وتړي او که چېرې دا تکليفونه نشي تېرولی، نو ښه به دا وي چې په کور کې آرام کېني او دعا وکړي؛ ځکه چې د ده دا بزدلي قومي مقصد ته نقصان رسوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ١٦ مخ*

# د خپلې کمزورۍ پتهول

مونږ خو به خپلې کمزورۍ له خلکو نه پټې کړو، خو له خدای نه خو يې پټولی نشو، هغه له به څه ځواب ورکوو؟

نو هر کله چې مونږ کمزوري له خدای نه پټولی نشو نو پکار دي چې له خلکو نه يې هم پټې نکړو او چې کوم کار کولی شو، نو په جار دې ووايو چې دا کولی شم او چې کوم کار کولی نشو، په جار دې ووايو چې دا نشم کولی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ١٦ مخ*

# غني ته

نور کتابونه ترجمه کړه.

ستا کوم مضمونونه، چې په اخباراتو کې شايع شويدي، د هغې تا له مبارکي درکوم.

شکر دی چې ته پخپلو ارادو کې کامياب شوې، هغوی تاله څه جرئت هم درکوي او کنه؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ٦٥*

# راز داري

مونږ ته پکار نه ده چې له چا نه نفرت وکړو، پکار ده چې لـه هـر چـا سره ښـه سـلوک وکړو، خو دا مه کوئ چې د خپل جماعت خلاف د بـل چـا ملگـري، رازدار او مـددگار شئ. مـونږ لـه پکـار دي، چـې پـه هـر حالـت کـې د خپـل جماعـت د خلکـو رازدار او مددگار و اوسو.
*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ١٦ مخ*

هر سړی د خپل راز او ارادې نه خبرول نه دي په کار.

*لالونه مرغلرې، ۴۴ مخ*

# د خبرو اثر

چې سړی خبرې یو شان کوي او عمل یې بل شان وي، نو هغـه خـبرې پـه خلکـو اثـر نکوي. د قومونو ضمانت په یو بل اعتماد او اعتبار دی.

ډيپلوميسي منافقت دی او زه خو منافق نه یم چې په خوله مو یوه وي او په زړه مو بله وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۷ مخ*

د دروغو مزل لنډ وي او تر هغه وخته پورې وي چې رښتیا ښکاره شوي نه وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۷ مخ*

# آزادي او آبادي

آزادي د قوم د آبادۍ ذريعه ده. آزادي اسانه خو ابادي گرانه وي. ابادي صرف د خدای لپاره د خدمت په جذبه کېږي.

په مونږ مسلمانانو کې دا لويه کمزوري ده چې خبره اورو، خو تحقق يې نکوو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۲۱ مخ

د آزادۍ بوټی د ځوانانو د وينو په اوبه خور لويېږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۱۷ مخ

# د قومونو عزت

زه چې تر څو ژوندی يم، زه به په ملک کې د شرافت جمهوريت او د انصاف د حصول لپاره کار کوم.

پښتون د گټې زمری دی، خو د سنبالولو ندی.

د هيچا لپاره خپل اصول پرېښودل ندي پکار.

که د ظالم او مظلوم مقابله راشي نو مونږ به د مظلوم ملگري يو.

په لويو لويو جلسو، جلوسونو او اوږدو تقريرونو کې د قومونو عزت دلېگي(له منځه ځي).

*ارشادات و مکتوبات باچه خان*، ۲۲ مخ

# خپل کور جوړول

که خپل ځان آزادول غواړئ، غريبي لېرې کول غواړئ، بربنډ پټول غواړئ او وږي مړول غواړئ، نو خپل کور جوړ کړئ، دښمني او بې اتفاقي پرېږدئ، دوست او دښمن





کې تميز وکړئ.

بې تعليمه خلک د مذهب په نوم ډېر زر دوکه کېږي.

دانې هميشه له هغه دانې نه پيدا کېږي چې ځان خاورې کړي.

له تربيت نه پاتې خلکو نه هېڅ کار مکمل کېداى نشي.

زه د اخلاص او محبت داعي او قائل يم.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۳ مخ*

## خپل مدد پخپله کوئ

د هندوستان د قومونو د خوارۍ او ذلت وجه همدا ده چې هغوی پخپله کار نکوي، بلکې د نورو په تمه ناست وي. څوک وايي چې امام راتلونکی دی او څوک د اوتار په انتظار کې دی، خو دا بدبخت نه پوهېږي، که چېرې هغوی هم راشي نو بيا خو به هم د هغو خلکو مدد کوي چې څوک خپل مدد پخپله کوي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۰ مخ*

## احمد آباد جېل

احمد آباد کې د ملاقات په وخت کې ما له تا سره د څرخې ذکر کړی وو او مهاديوجي راسره هم دا ذکر وکړو.

او س زه د څرخ لپاره وخت وښکی (وباسلی) شم، مهرباني وکړئ تاسو زما هغه څرخه يا بله څرخه سره د پوڼولي راولېږئ.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۲ مخ*

# د وخت ارزښت

انسان کمزوری دی او د غلطو نه ډک دی چې دی د خپلو کمزوريو احساس ولري او د هغې د اصلاح کوشش وکړي. او د دې لپاره له جېل خانې نه بل ښه او موزون ځای نشته دی. نو پکار دي چې مونږ خپل ځان او ملګري پوه کړو او خپل وخت په عبثو او فضولو خبرو کې ضايع نه کړو او څه ليک زده کړو. جېل خانه کې انتظام شته. څه سبق ووايو، ښه اخلاق، ښه خويونه، صبر او استقامت په ځان کې پيدا کړو. چې د خدای د مخلوق خدمت د خدای د رضا لپاره وکړای شو او په کور کې مينه او محبت پيداکړو.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۵ مخ*

# په قوم مَين خلک

نو اول خو دا خپل کور جور کړئ او که دغه کېدی نشي، نو بيا دا دومره خبره خو زما ومنئ، چې په اليکشن کې د يو بل مخالفت ونکړئ.

زما دا عقيده ده چې په قوم کې داسې ببغرضه، په قوم او تحريک مَين خلک پيدا شي نو هغه ملک او قوم ابادېږي. خدای دې داسې خلک نور هم پدې قام کې پيدا کړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۳۹ مخ*

❀

خدای پاک دې تاسو ته د خپل قوم او ملک د خدمت لپاره ښه صحت درکړي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۲ مخ*

# خواران

وطن مو خوار دی، تاسو خواران ياست. دا مېلمستياوې او دا بېځايه لګښتونه ستاسې او ستاسې د وطن له اقتصاد سره سمون نلري، تاسې ځان او وطن ته لږ پام وکړئ.

*دستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه ۴۷ مخ*



# ښه والی او بدوالی

د هر چا ښه والی او بدوالی د ځان لپاره دی، که چېرې یو سړی ښه شي نو هغه ته به فایده وي، او که چېرې بد شي نو هغه به په تکلیف کې وي.


د قرض عادت ډېر بد دی او بیا د هغه د خلاصي کوشش نه کول ډېر بد دي.

زه در خلاص شوم چې د دنیا سیاحت ته لاړ شو.

میم صاحبې ته ځما له طرف نه ډېر سلامونه وایه او ورته وایه چې زه ستا د صحت لپاره دعا کوم.

مریم او تاجو ته زما له طرف نه مینه او محبت، هغوی ته پښتو لیکل او لوستل شروع کړه هغوی او میم صاحبې ته وایه چې دواړه جینکۍ زما دي، پر دوی به زه د غریبانو پښتنو خدمت کوم، زما دوی ته ډېر امیدونه دي، هغوی هم زما دې خبرې منلو ته تیارې دي اوکه نه؟

*ارشادات و مکتوبات باچه خان،۴۴ مخ*





## ښه او بد سړی

اوس د مقامي کار کوونکو لپاره پکار دي چې درې ډوله اعتماد پیدا کړي. دا پیدا کېدای شي، خو په خبرو نه، بلکې په عمل باید دا چاره ترسره کړو، که خلک له مونږ سره بد کوي نو مونږ له ښه کول پکار دي، که چېرې یو سړی مونږ سره بد وکړي او مونږ هم د هغه بدو په مقابل کې ورسره بد وکړو نو بیا زمونږ او هغه څه فرق وشو؟ چې څنګه هغه بد، دغه شان زه بد.

خو ښه سړی به هغه وي چې خلک ورسره بد کوي خو دی ورسره ښه کوي او دغه ته به رښتینی خدایي خدمتګار وویلی شي. خدای ته د رسېدو ذریعه د هغه د مخلوق خدمت وي او د هغه خوشحالي د هغه د مخلوق خوشحالي ده.

په ضبطي باندې خپګان وي، زه د هغه پر ځای هغه ته دا خپل قلم ورلېږم، نن سبا د پښتنو لپاره د ټوپک ضرورت نشته، بلکې د قلم ضرورت دی، ولې چې زمونږ د ملک آزادي به په ټوپک نه وي، بلکې په قلم به وي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۴۸ – ۴۹ مخونه*

## بېځایه بحث

په دنیا کې د یوې خبرې یو ځل ظاهرول پکار دي، که چا ومنله خو ډېره ښه او که چا ونه منله نو بیا په هغه بحث کول پکار ندي، ولې چې د بحثونو تصفیه شوې نده.

یو ځل بیا کارخانې ته لاړ شه او په دې کار کې ښه لیاقت حاصل کړه، خو چې دا ځل لاړ شې نو خپل ځان یو طالب العلم فرض کړه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۱ مخ*

## د تحریک غرض

دا تحریک په دې غرض شروع شوی دی چې مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي او هرڅوک چې په دنیا کې ظالم وي، که مسلمان وي که هندو وي او که پېرنګی وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

# ولي خان ته

تا یادوم، ته د خپل صحت او سترگو ډېر خیال ساته.
ستا ناسته دې همېشه د ښو خلقو سره وي او ښه کارونه کوه، د بدو خلقو لـه ناسـتې نه ځان ساته. ځان په خپلـه قبضـه کـې کـړه، هغـه خـو دې ماشـوم دی نـه پـوهېږي، هسې نه چې په هغه کې هم د غني پشان د فضول خرڅۍ عادت پیدا شي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۲ مخ*

زما او د ولي خان سوچ یو دی، فرق صرف دا دی چې زه اصلاحي او روحاني سړی یم او هغه سیاسي لېډر دی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۲۲ مخ*

# حساب کتاب

ازموده را ازمودن جهل است. ته غني ته ولیکه چې ماته دې د ټولو روپو حساب کتاب راولېږي.
د دوی لپاره د میاشتې له څلوېښـتو روپـو نـه زیـاتې مـه ورکـوه او د بـل دویمـه درجـه کرایه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۲ مخ*

# غلط فهمي

خو نقدې پیسې هغه له په لاس کې مه ورکوه، ولې چې هغه د پیسو په خرڅ کولو نـه پوهېږي. زما زړه په دې ډېر خفه کېږي چې غني ماته په خپل خط کـې لـیکلي چـې دروغ د ښو خلقو کار نـدی، زه پـدې خـبره ډېـر خوشـحاله یـم چـې ده کـومې خـبرې اورېدلي دي، هغه په زړه کې و نه ساتلې، بلکې ماته یې ولیکلې او امید ساتم چـې د آیندې لپاره به هم چې څه اوري نو په زړه کې به یې نـه سـاتي، ولـې چـې لـه دې نـه ډېرې غلط فهمۍ پیداکېږي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۳ مخ*

# پر وعده وفا

زه به میاشت په میاشت د خپل خرڅ د اخراجاتو فهرست درلېږم خو تر اوسه پورې تا خپله وعده پوره نکړه، دا ښه خبره نده، سړی چې وعده وکړي، هغه پوره کوي.
سبق کې کوښښ کوه، فضول خرڅي مه کوه، دروغ مه وایه، له خلقو نه قرض مه اخله، څه چې ستا لپاره مقرر دي په هغې گذاره کوه.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۵۴ مخ*

# د قوم ابادي

د قومونو د ژوندي کولو او بېدارولو لپاره داسې کسان پکار دي، چې بېغرضه وي، دیانتداره وي، ایماندار وي او د خدای لپاره د خپل قام خدمت ته تیار وي،
چې داسې کسان په کوم قام کې پیدا شي، نو د هغوی په کوښښونو، په هغه قام کې مینه، محبت، همدردي، وروروليي او عزیزولي پیدا شي. هغه قوم اباد شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲ مخ.*

# زمونږ کار

مونږ خدایي خدمتگاران یو. مونږ د مخلوق د فایدې او ارام لپاره پر ځانونو تکلیف تېروو.
زمونږ کار خدمت او نېکي ده، خو خلک چې له مونږ سره هر ډول چلند کوي، مونږ له چا نه د بدلې د اخیستو کوښښ نکوو.
زمونږ فرض بل ته تېرېدنه او صبر دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۳ مخ*

# د خدای د مخلوق خدمت

خدايي خدمتګار ځانته خدايي خدمتګار وايي، لېکن خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی. او د خدای مخلوق يوازې مسلمانان نه دي، ټول د هغه مخلوق دی که هندو دی، که سک دی، که عېسوي دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۵ مخ.*

❀

په خدمت کې اختلاف راتلی نشي.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱٦ مخ*

# خدايي کار

مونږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه ته وايو چې له کومې تمې، غرض او اجرت پرته د خدای لپاره وشي. خدای خو خدمت ته اړتیا نلري. د خدای د مخلوق خدمت، د خدای خدمت دی.

مونږ د خلکو د پوهولو او پکې د مينې، محبت، ورورۍ او قامولۍ د پيدا کولو، د تعليم د شوق د پيدا کولو او د قام نه د غلطو رسمونو او رواجونو د ورکولو او د قامي مدرسو لپاره د مرستو د حاصلولو په غرض کلي په کلي، کور په کور دورې شروع کړي او په خلکو کې مو ژوند او احساس را پيدا کړ. زما له دورو نه پيرنګي ته وېره پيدا شوه.

د خدای لپاره او د خپل مظلوم قوم په خاطر، خپلې سينې له بغضو او کينو نه پاکې کړئ؛ ځکه چې دې شيزونو مونږ تباه کړي او برباد کړي يو.

که چېرې تاسو په رښتيا سره د خپل قوم او ملک زرغونول غواړئ نو د غنم د دانې په شان خپل ځانونه خاورې کړئ؛ ځکه چې تر کومه پورې يوې دانې ځان خاورې کړی نه وي، زرغونېدلای نه شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ٦ ، ۹ ،۷،۸ مخونه.*

# د خلکو بدلېدل

حقیقت دا دی چې یوازې قانون د ملک اصلاح نه شي کولای او نه امن قایمولی شي. د خلکو د زړونو بدلولو ضرورت دی، تر کومه چې د خلکو زړونه بدل نه شي، جرمونه نه شي کمېدلای.

د خلکو زړونه صرف د خدایي خدمتګارۍ تحریک بدلولای شي، هر څومره چې دا تحریک خپور شي، هومره به د خلقو په زړونو کې بدلون راځي او لازمي نتیجه به یې په ملک کې امن او امان وي.کله چې په ډلو کې اختلاف پیدا شي، که د هغوی غړي ډېر ښه او زورور خلک هم وي، بېکاره شي او د هغوی توان د یو بل په غورځولو کې مصرف شي.په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف له خود غرضۍ څخه پیدا کېږي. زه چې هر څه د خپل ځان لپاره خوښوم، هغه د خپلو ملګرو لپاره هم خوښوم. زه ډېر وخت خپلو ملګرو ته وایم چې زما په تقریر، تحریر، خبرو، رویه او سلوک کې چې نیمګړتیا وینئ، له هغو نه به ما خبروئ او څه وخت چې هغوی ما له خپلو غلطیو نه خبر کړي، زه له هغوی نه مننه کوم او د هغې د اصلاح کوشش کوم.

له تشدد نه نفرت او له عدم تشدد نه محبت پیداکېږي.

انسان هم یو عجیبه څیز دی، څه وخت چې دی کمزوری شي او همت بایلي، نو بیا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو لپاره ډول ډول حیلې او حوالې لټوي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴ مخونه.*

# اسماني مذهبونه

حقیقت دادی چې دا ټول اسماني مذهبونه د خدای مذهبونه دي او دنیا ته د اتفاق، مینې، محبت او د خدای د مخلوق د ارام او خدمت لپاره راغلي دي.

د هر یو مذهب پر پیرو دا فرض دي چې د خدای د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لرې کړي او مینه او محبت پکې پیدا کړي. او یو له بل سره امداد وکړي، خو مونږ له دې حقیقت نه چا خبر کړي نه یو.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱۵ مخ.*

## د ملک او مذهب خدمت

د ملک او مذهب خدمت هغه سړی کولی شي چې اول خپله اصلاح وکړي، خپل اخلاق درست کړي، خپل اصول وپېژني. څوک چې خپل اصول نه پېژني، اخلاق يې خراب وي، هغه کله د خدای مخلوق ته فايده رسولی شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*


## د امان الله خان ژبه

زه يوه ورځ د امان الله خان ملاقات ته تللی وم. ډېرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبرو خبرو کې مې ورته دا ووېل: تا له ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي خو خپله ژبه نه درځي.

زما خبرو پر هغه ډېر تأثير وکړ او وعده يې راسره وکړه چې زده به يې کړم.

کله چې له افغانستان نه وايستل شو، زه په بمبيي کې د ده ليدلو ته ورغلم نو هلته يې له ما سره په پښتو کې خبرې وکړې.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۳ مخ.*



# ژبې ته پام

له تعليم يافته کسانو سره به مې چې د ژبې په اړه خبرې کولې، دوی به راته ويل: چې پښتو لا څه ژبه ده؟ په دې کې علم نشته.


ما ويل: چې هلکه دا نورې ژبې خو له اسمانه نه دي راکوزې شوي. د هرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده.

پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نه ده کړې، پدې کې د پښتو ژبې څه گناه ده؟ دا خو زما او ستا گناه ده.

چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي، نو ورک شي.

د ژبې په هېرېدو کې سړی له خپلو نه پردی شي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲۴، ۲۵ مخونه.*



# انقلاب

انقلاب د منډې کار او دومره آسان څیز نه دی.

انقلاب د سړې سینې کار دی.

انقلاب علم او پوهه غواړي.

انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې له پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته یې تیار کړي.

د انقلاب لپاره د اشخاصو ضرورت دی.

پاچاهي خراب شی دی او د قوم او ملک پکې ډېر نقصان دی.

که چېرې نن یو پاچا ښه هم وي نو سبا به یې زوی پاچا وي، نو څوک ویلای شي چې ګوندې هغه به هم ښه وي او پاچاهان کله د خپل قوم ترقي غواړي؟ ځکه چې هر وخت دا خیال کوي چې که دا خلک پوه شول، نو ما به لرې کوي او هر وخت د قوم د پوهې په لاره کې خنډ اچوي.

مونږ پاچاهان جوړول نه غواړو، پاچاهانو ته مو ضرورت نشته، زمونږ به یو مشر وي او د قوم په رایه، خوښه او مشوره به وي او هغه سړی به وي چې د قوم خدمتګار وي.

د خان، غریب او میا ملا فرق به نکوي، داسې یو سړی به وي چې نېک، ایماندار او د قوم او ملک خیرخواه وي. د قام او ملک خدمت یې کړی وي، په دې برخه کې یې ډېر تکلیفونه ګاللي او قرباني یې ورکړي وي، نو چې د دا رنګه مشرۍ اهلیت ولري، زمونږ حکومت به د جماعت د حزب تابع وي او جماعت به د حکومت تابع نه وي.

د پښتونخوا ملک زمونږ د ټولو پښتنو دی، نو مونږ یو سړی نه خان کوو، زمونږ کوښښ به دا وي چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړوو چې په هغه کې مساوات

وي او د ټولو خلکو پکې یو شان خیر او فایده وي.

که پوره وي او که سپوره، په شریکه به وي، امن او انصاف به وي، زمونږ به د ټول قوم یوه جرگه وي او د هغې په خوښه به یو صدر وي.

د خدای لپاره پښتنو!

تاسو یو شئ!

خپل کور جوړ کړئ!

دا پرې، جنبې او دښمنۍ پرېږدئ، نو دین به مو هم ښه شي او په دنیا به هم اباد او سوکاله شئ.


په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف له خود غرضۍ نه پیداکېږي.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۲٦، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱ مخونه.*

## بد رواجونه

زما مطلب د حکومت مخالفت نه دی. زه خو د پښتنو اصلاح کول غواړم چې د دوی دا بد رسمونه، رواجونه، پرې، جنبې لرې شي.


*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*



# قرباني

تر څو چې په یوه قوم کې د قربانۍ ورکولو مینه او شوق تـر انتهـایي درجـې قـوي نـه شي، تر هغه پوري د هغه قوم د کامیابۍ تصور نشي کېدای.
زه تاسو ټولو ته د وطن او قـوم د ترقـۍ لپـاره د قربـانۍ د شـوق او مینـې د پیداکېـدو سپارښتنه کوم او تر څو چې په مونږ کـې د قربـانۍ ورکولـو طاقـت موجـود وي، مـونږ پښتون قوم هیڅوک هم نشي ماتولی. او زه یقین لرم چې آخر به د پرنګیانو غونـدې د پاکستان حکومت هم پوه شي، چې دا ملک د پښتنو دی او حکومت یې باید د پښتنو په لاس کې وي.

*دستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه ۳۰ مخ*



# امتحان

نن پر پښتون قام د امتحان ورځ ده. دا د ډېر شکر ځای دی چې دغه قوم پدې امتحان کې لکه د غره غوندې مضبوط ولاړ دی.

که تاسو د ځان بدلون غواړئ او کنه، زمانه اوس بدله شوې ده او وخت هېچا ته نه گوري نو ځکه زه تاسو ته د دښمنۍ او تربگنۍ کولو پر ځای د مینې او یووالي توصیه کوم او وایم:

تاسې د مسلم لیگ، عوامي لیگ، اسلام لیگ او خدایي خدمتگارۍ د نومونو پر ځای د (پښتون) په کلمه راټول شئ!!

*دستر خدایي خدمتگار وياړلي يادونه ۳۱ مخ*

# گرفتاري

زه د گرفتارۍ نه نه وېرېږم؛ ځکه خو حکومت ته رښتیا وایم او څوک چې وېرېږي، هغوی حکومت ته رښتیا ویلی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*

# د وطن درد

بابا: بچیه! دلته چې ستاسو د سردارانو په سر درد شي، بیا نو لندن ته د علاج لپاره ځي.

عجیبه ده، زه له لندن نه کابل ته د علاج لپاره راځم.

هو! زما بل ډول ناروغي ده، د قوم او وطن درد دی، گوندې د دې درد درمل دلته ومومم.

*د ستر خدایي خدمتگار وياړلي يادونه ۴۸ مخ*





# ستاسو خدمت

بابا ویل: زه په جسمي لحاظ هم ناروغه یم.

د پاکستان په ۲۳ کاله حکومت کې، زما اتلس کاله په جېل کې تېر شوي دي، ورسره ډېر بېدرکه سترې یم، دلته به لږ څه دمه هم وکړم. تاسو عزیزانو ورونو سره به هم وګورم. د وروری، عزیزولی خبرې به درسره وکړم.

ما خو په ټول ژوند کې هلته هغو خلکو ته خدمت کړی دی، تاسې هم زما عزیزان یاست او راباندې حق لرئ، تر دې وروسته به ستاسو خدمت وکړم.

*د ستر خدایي خدمتګار ویاړلې یادونه۴۹ مخ*

# اخلاصمن قوم

پښتون قام ته څه ډېره ملامتیا نه شته، دا خوار قوم په زړه ساده او اخلاصمن قوم دی. د خپلو مشرانو سره یې مینه ده. خو هر څوک چې ورله د مشر په نامه را وړاندې شوی دی، نو ددې غریب قوم د ساده ګۍ او سپېڅلتوب نه یې ناجایزه ګټه اخستې ده او چې خپله یې پرې کړې ده، نو بیا یې همداسې لوڅ، بربنډ او بې اسرې پرېښې دي. چا ددې قوم حقیقي غم نه دی خوړلی او نه یې د ژوند سمه لاره ورته ښودلې ده.

*خدایي خدمتګاری، ۱۰ مخ*

# زه خدایي خدمتګار یم

تاسو خلک ماته (بابا) وایئ. دا خو ستاسو مهرباني ده، مګر زه مو بابا نه یم، باباګانو خوړلي یاست. زه مو خدمتګار یم، زه خدایي خدمتګار یم.

خدایي خدمتګار هغه دی چې د خدای د مخلوق خدمت د خدای لپاره کوي. څه مزد، اجوره، پیسه یا ټکه له چانه نه غواړي. خدای پاک خو زمونږ خدمت ته ضرورت نلري، د هغه د مخلوق خدمت د هغه خدمت دی.

تاسې د دنیا خلکو ته وګورئ چې د پوهې، کار او محنت په برکت کوم ځای ته رسېدلي دي؟ مګر مونږ؟ مونږ ته له امریکې څخه د کومک په ډول جوار راځي، مګر هغه هم ترخه وي.


مونږ ته الله پاک د جنت په شان وطن راکړی دی، مګر مونږ د ناپوهی، لټی، بې اتفاقی او تربګنیو په وجه خپل دې جنت وطن نه ځان ته دوزخ جوړ کړی دی.

وږي، تږي، لوڅ، بربنډ، خوار او زار یو، آخر ترڅو؟

*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه ۷۰ مخ*

زه خدايي خدمتګار يم او د خدای د مخلوق نه نفرت ګناه ګڼم او د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۴ مخ*



## مصیبتونه

په دنیا کې څوک د خدای د مخلوق د خدمت دپاره پاڅېدلي دي، نو په هغه مصیبتونه او تکلیفونه راغلي دي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*

# د خبرو او د کار قامونه

په دنيا کې په تشو خبرو قامونه اوچتېدی نشي، هغه قامونه چې ډېرې خبرې کوي، هغه زمونږ پشان خوار دي او چې خبرې نکوي او کار کوي هغه اباد دي.
د دنيا نور قومونه هم زمونږ پشان دي، خو هغوی اسمان ته ختلي دي.
پښتون خو لا تشه خبره نشي کولای، کوم قوم چې د بل خبره نشي زغملای هغه قوم په دنيا کې ترقي کولای نشي.

*د ستر خدايي خدمتگار وياړلي يادونه۸۳ مخ*

# د ښو بدو فرق

يو بد عمله سړی چې وينې چې زما په بد عملۍ کې ملاتړ کېږي، نو هغه به ولې د خپلې بد عملۍ نه لاس اخلي او که مونږ د ښو بدو فرق وکړو او لکه چې هر ماسختن په مانځه کې دخدای سره وعده کوو چې (و نخلع و نترک من يفجرک) يعنې څوک چې ستا نافرماني کوي، مونږ به هغوی پرېږدو. کور کلی به ورسره نه کوو. که دا وعده په ځای کړو، پښتون به يکدم بدل شي نو مونږ ته په کار دي چې په دې خبرو هر پښتون پوه کړو او دا خبرې د هر پښتون غوږ ته ورسوو.

*لالونه مرغلرې، ۱٦ مخ*

# رواجي دوډۍ

زمونږ پښتانه ورونه په رواجي دوډۍ زرگونه روپۍ لگوي. خو د قام بنيادي فنډ کې يوه پيسه نه ورکوي، دغه وجه ده چې مونږ د دنيا د تولو قومونو نه وروستو پاتې يو.

*لالونه مرغلرې، ۱۷ مخ*

# اثر والا خلق

يو قام هله د چا اثر قبلوي چې د اثر والا خلق په کې پيدا شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

# د خوشال خان دوې خبرې

د خوشال خان په باره کې دوی ډېرې خبرې وکړې، زه درته وايم تاسې د هغه خوشال له ډېرو خبرو نه يوازې په دوو خبرو عمل وکړئ!

اول دنيا سره مينه او بل د شخصي اقتدار شوق پرېږدئ!

مونږ دې ځيز تباه کړو، تاسې که د اسلام تاريخ ته وګورئ، د مسلمانانو خزانې ډکې شوې، شرق او غرب يې ونيو، مګر کله چې په مسلمانانو کې د دولت او پيسو مينه او د شخصي اقتدار شوق پيداشو، نتيجه يې نفاق، خانه جنګي او بربادي شوه.

که د خوشال خان په دغو دوو خبرو مو عمل وکړو نو له دې خوارۍ، زارۍ او بربادۍ نه هم تاسي او هم وطن خلاصېږي، زه د پيسو او اقتدار مخالف نه يم. ديوه قام لپاره دا ضروري ځيزونه دي.

ته دې موړ شې، خو چې ستا د غريب او تور سري قوم تعلق ورسره وي.

زه اقتدار غواړم، حکومت غواړم خو د دې لپاره نه چې زه دې حاکم شم.

زه که خوښوم، نو هغه پيسه خوښوم او هغه اقتدار خوښوم، چې د قوم او وطن د خدمت لپاره وي.

*د ستر خدايي خدمتګار وياړلي يادونه۴ ۸ مخ*

# خپل ملک

هر چا له چې خدای ملک ورکړی دی نو د هغې اختيار د هغې قوم دی. يو مونږ بدقسمته خلق يو، چې ملک زمونږ دی او مزې پرې نور خلق کوي. په کار دي چې مونږ ټول په شريکه ملا وتړو چې خپل ملک ازاد کړو. مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي.

*لالونه مرغلرې، ۱۳ مخ*



# د کامیابۍ راز

مونږ ټول پښتانه يو. يو قام او يو ورونړه يو. د يو بابا اولاد يو. زمونږ عزت او ذلت يو دی. که چېرې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حديث عمل وکړو: (چې په ځان دې څه پېرزو نه وي، په بل يې هم مه پېرزو کوه)، نو ډېر زر به کامياب شو.

*لالونه مرغلرې، ۱۳مخ*

❀

مونږ له د خپل دود او دستور اصلاح په کار ده. *لالونه مرغلرې، ۲۵مخ*

# د فايدې خبره

دا خو د قوم او ملک دپاره ډېره د فايدې خبره ده، چې ټول قوم په يو سړي متفق شي نو خپل منزل ته ورسي.

خو دې خبرې ته کتل په کار دي چې هغه سړی چې څه کوي، د ځان دپاره کوي او که د قوم دپاره؟ پخپله خوښه کوي که د ملگرو په صلاح؟ که د ځان دپاره کوي او پخپله خوښه يې کوي نو بيا هغه پسې تلل نه دي په کار او دغه ځای ته خلق په خدمت رسېږي، نه چې په مخالفت.

*لالونه مرغلرې، ۱۴مخ*

# منافق

زمونږ دا تحريک د رښتياوو تحريک دی. مونږ منافقان نه يو چې په خوله مو يوه وي او په زړه مو بله وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۴مخ*

❀

ډيپلوماسي منافقت دی او زه منافق نه يم.

*لالونه مرغلرې، ۱۴مخ*



## قومبازي

مونږ خو ټول پښتانه يو، که شيعه دی نو هم پښتون دی او که سُني دی نو هم پښتون دی. يو قوم يو او يو مو ملک دی، يو مو خدای دی، يو مو رسول دی. يو مو قرآن دی او حضرت علی رض تاسو هم منئ، مونږ يې هم منو نو بيا دا اختلاف په څه؟

د هر چا لاره بېله بېله ده، خو دا ملک خو مو شريک دی.

د دې ملک خدمت په شريکه په مونږ ټولو فرض دی.

*لالونه مرغلرې، ١٤ مخ*

## زمونږ ملايان

دا په اسلام کې نه شته، بلکې په اسلام کې علم په هر مسلمان او مسلمانې باندې فرض دی. زمونږ د ملايانو د دنيايي علومو او سياست خوا ته توجه نه شته

او زمونږ د دولتمنو خلقو د ديني علومو خوا ته توجه نه شته

نو ځکه مونږ په دنيا هم خوار يو او اخرت به مو هم خوار وي.

*لالونه مرغلرې، ١٧ مخ*

## شپون

غريب پښتون خو د ګډو يو ښه کنډک دی، ولې افسوس دی چې شپون نه لري.

دا ګډې خو هر چاته راغونډېږي، په دې تمه چې دا به زمونږ شپون وي او مونږ به د شرمخانو نه بچ کوي.

ولې چې چا ته راغونډې شي، هم هغه د بدې نه چاړه راوباسي د دوی مرۍ پرې کړي.

*لالونه مرغلرې، ١٨ مخ*



# خپله ژبه

پښتون هر څومره که يو بهادر قوم دی خو د ژبې په معامله کې ډېر کمزوری دی. چرته چې لاړ شي نو خپله ژبه پرېږدي. همېشه دوی د بل ژبه قبلوي او خپلې ژبې ته شا کوي.

نو زه تاسو ته وايم چې خپلو بچو ته پښتو زده کړئ، کوشش کوئ چې ستاسو خپلو کې خط و کتابت په پښتو کې وي، د دې مطلب دا نه دی چې نورې ژبې هډو زده کوئ مه، بالکل يې زده کړئ ولې هله چې خپله قومي ژبه پښتو مو زده وي.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# دخدای دپاره

پښتنو د خدای دپاره پاڅئ، خپل کور جوړ کړئ، اواز يو کړئ،

خپلې کورنۍ دښمنۍ ورکې کړئ، مقدمه بازۍ پرېږدئ،

ناحقه شهادتونه مه کوئ،

ورور ورور وګڼئ، خپل خپل وګڼئ.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# د قوم وينه

د قوم د ازادۍ بوټی د قوم په وينو لويېږي او چې دا بوټی لوی شي نو د دغه سرفروشو زلمو بچي بيا د هغې ونې د سيورې لاندې ناست وي ارام کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۸ مخ*

# لويه سينه

مونږ چې د کوم غرض دپاره ملا تړلې ميدان ته راوتي يو، د هغې دپاره د ډېرې لويې سينې ضرورت دی. د هغې دپاره ډېر صبر او ډېره لويه حوصله په کار ده.

لالونه مرغلرې، ۱۸مخ

## د حق مقابله

که چرې خدايي خدمتگار په ربښتوني معنو کې د خپلو فرضو ادا کولو کوشش وکړي نو د دې ټولو خبرو اصلاح کېدی شي، چې رښا راشي، نو تياره نه پاتې کېږي. د حق مقابله کې باطل نه شي ودرېدی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## جدا جدا څانگې

پښتون يو قوم دی، مومند دی که خليل، يوسفزی دی که محمدزی، خټک دی که بنگښ دی، وزير دی که مسعود، مروت دی که بېټنی، غلجی دی که شينواری، دا ټول يو پښتون دی، جدا جدا څانگې دي، مونږ يې يو دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*



## مدد

زما ورونو! که ددې خپل ذليل ژوند د ښه کولو څه ناڅه ارزو لرئ، نو رښتوني خدايي

خدمتگار شئ. خپلو غرضونو ته شا کړئ، نو امید دی، چې خدای پاک به زمونږ امداد وکړي او مونږ به پخپلو مقاصدو کې کامیاب شو او که همدغسې په قومي لباس کې خپل ذاتي غرضونه پوره کوو، نو یاد لرئ چې خدای د داسې ذلیل قوم هیچرې مدد نه کوي.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## د قوم او ملک خدمت

خویندو! د قوم او ملک خدمت یوازې په سړو فرض نه دی، په تاسو زنانه وو هم فرض دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## ساده او وطني جامه

زما خویندو او میندو! که تاسو په ساده او وطني جامه صبر وکړئ، نو ستاسو نارینه وو ته به ډېره فایده ورسي. د قرض نه به خلاص شي او عمر به یې د عزت شي. دا به ستاسو د خپل ملک یو لوی خدمت وي. ددې نه علاوه که تاسو د فرصت په وخت کې هره ورځ لږه لږه څرخه کوئ او دومره سپنسي وربشئ، چې ستاسو او ستاسو د نارینه وو د جامې دپاره کافي کېږي. نو یقین ولرئ چې تاسو به د ډېرو خرڅونو نه بچ شئ.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## زور او ظلم

زمونږ کار زور او ظلم زغمل او صبر کول دي. نو کوم سړی چې صبر نه شي کولی، هغه دې خدایي خدمتگار نه جوړېږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*


# دروغ

بېشکه چې دروغ د څه وخته پورې په خلقو کې غلط فهمۍ پیدا کولی شي خو چې رښتیا راشي، نو دروغ پاتې کېدی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۴۶ مخ*

چې د سړي په زړه کې یو څه وي او وایي بل څه، نو په خلقو هغه ډېر اثر نه وي.

لالونه مرغلرې، ۴۶مخ





## ازمېښت

ای پښتنو ورونو! مایوسه کېږئ مه، دا د خدای د طرفه په مونږ یو ازمېښت او امتحان دی، دا وخت د بېدارۍ ضرورت دی، پاڅئ او د مخلوق خدمت ته ملا وتړئ.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## د بربادۍ وجوهات

زمونږ جنګ د صبر جنګ دی، مونږ به د صبر نه کار اخلو او هر څه به الله پاک ته سپارو. د خپلو زړونو نه به نفاق لرې کوو، خودغرضي به ختموو؛ ځکه چې هم دا زمونږ د بربادۍ وجوهات دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## ښکاره کار

کوم کار چې بنده په ښکاره نه شي کولی، هغه کار په انسان کې وېره او کمزوري پیدا کوي.

*لالونه مرغلرې، ۲۰ مخ*

## د قانون استعمال

یو ښه قانون که په بد نیت جوړ شي، نو د هغې استعمال به یقینا بد وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

## سختې فیصلې

تکلیف ورکوونکې او سختې فیصلې چرې هم د رایې په اکثریت سره نه شي کېدی.

*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

# حرکتونه

د انفرادي او اجتماعي حرکت یو فرق دا دی چې حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموش کولی او ختمولی شي.

هم دا وجه ده، چې په انفرادیت کې وېره او ترس هم ډېر وي او حکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي؛ ځکه چې وېره په کې نه وي، ډېر انفرادي حرکتونه چې ډېرو غښتلو پښتنو یې رهبري کوله، مغلو، انګرېزانو او پاکستان خاموش او ختم کړل.

مګر خدایي خدمتګار تحریک چې اجتماعي تحریک و، نه د پېرنګیانو ظلمونو، وژلو، وهلو، ټکولو، قیدولو، بې آبه کولو او فرېبونو ختم کړو او نه د پاکستان د دوه دېرش کالو ظلمونو، شرمولو، وژلو، جایداد ضبطولو، قیدولو، پرمټونو او لالچونو ختم کړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۲ مخ*



# اجتماعي ژوند

په پښتنو کې ډېر لوی لوی پاچاهان او مشران پیدا شوي او تېر شوي دي، خو هیچا په پښتنو کې اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیدا کړی. اولنی تحریک خدایي خدمتګار تحریک دی، چې اجتماعي ژوند او فکر یې په کې پیدا کړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۳ مخ*

❀

د پښتون د دې ټولې تباهۍ او بربادۍ وجه همدا ده، چې په دوی کې د اجتماعي ژوند د پیدا کولو کوشش چا کړی نه دی او که چېرې تاسو د پښتنو تاریخ وګورئ، نو عمرونه وشو، چې په پښتنو کې د ورورۍ، عزیزدارۍ، د مینې او محبت او اتفاق تحریک چا شروع کړی نه دی.

*خدایي خدمتګاري، ۹ مخ*

# دیني استاد

په دې کې د ملایانو غریبانو څه قصور نشته، مونږ قام پخپله ګرم یو، چاته چې د دین او مذهب ټول واک او اختیار ور وسپارو او د تعلیم او تربیې غم یې نه کوو، دروازه په دروازه (وظیفه راوړئ خدای مو وبخښه) وایي. د دومره لویې ذمه وارۍ دپاره په دې طریقه خپل دیني استاذ تربیه کوو. دا زمونږ خپله ګناه ده،

حقیقت دا دی، چې کله مونږه مسلمانان شو، نو بعضې هغه د هندوانو د وخت رسمونه، رواجونه مونږ پرې نه ښودل او لکه څنګه چې هغوی د ژوند د مختلفو شعبو دپاره بېلې بېلې ډلې ټاکلې وې، هغه هم په هغه شکل کې مونږ جاري وساتلې؛ ځکه چې دلته اسلام راغی. نو هغه د مذهب (تبلیغ) په لار رانغی، د سیاست (توري) په لار راغی. نو مونږه د مذهب د حقیقت نه چا خبر نه کړو او لا تر اوسه پورې خبر نه یو. دا د کاست سیستم روایتي اثرات دي، چې یوه ډله به تجارت کوي او یوه ډله به عام خدمتونه کوي. دا په اسلام کې نشته؛ بلکې په اسلام کې علم په هر مسلمان او مسلمانې فرض دی. زمونږ د ملایانو د دنیایي علومو او سیاست خوا ته توجه نه شته او زمونږ د دولتمنو خلقو د دیني علومو خوا ته توجه نشته. نو ځکه مونږ په دنیا هم خوار یو او اخرت به مو هم خوار وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۴ مخ*

# نصب العين

د چا چې مقصد او نصب العين يو وي، هغوی کې همېشه مينه وي، محبت وي، هغوی کې به د رايې اختلاف هم وي، خو دا اختلاف د هغې ډلې دپاره رحمت وي. دا نن چې تاسو په ډلو کې پرې جنبې وينئ، تاسو تحقيق وکړئ، د هغوی مقصد او نصب العين يو نه وي؛ ځکه خو اختلاف رای د رحمت په ځای د هغوی دپاره زحمت شي؛ ځکه چې دوی دا کار د خدای او د خدای د مخلوق دپاره نه کوي، د خپل ذاتي غرض دپاره يې کوي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

# تعليم يافته

د قام مينه او خدمت او د حريت جذبه يوازې په تعليم نه ده. مونږ چې د قام د خدمت او ازادۍ تحريک شروع کولو، زه په ښارونو کې تعليم يافته خلقو پسې ډېر وگرځېدم، ما په هغوی کې داسې خلق پيدا نه کړی شول، چې د خدای دپاره د قام خدمت ته تيار وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۵ مخ*

# غاصب حکومتونه

غاصب حکومتونه خو په دې ولاړ وي. چې په خلقو کې وېره پيدا کړي او د خلقو له زړونو نه چې وېره ورکه شي نو د غاصب حکومت بنياد ونړېږي او د دې حکومت مثال د غله وي چې د کور خاوند راويښ شي، نو بيا غل کله ټينگېدی شي.

*لالونه مرغلرې، ۲٦ مخ*

# پستي او بلندي

پستي او بلندي په عمل ده، که د چا عمل پست وي، هغه نر وي که ښځه په کار دي چې پست وگڼلی شي او چې د چا عمل اوچت وي، نر وي که ښځه په کار دي چې په درانه نظر ورته وکتلی شي. خدای خو نر او ښځه د دنيا د ابادۍ دوه ملگري پيدا

کړي او د بشريت د ګاډي دوه پايې دي، دا ګاډی په يوه پايه نه شي چلېدی او بيا زمونږ د پښتنو ښځې خو ډېرې پاک لمنې، حيا ناکې، مينه ناکې او وفادارې دي او ډېرې خدمتګارې دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۶ مخ*

## وران کور

مونږ په خبره ښه ځان پوه کړی دی چې پېرنګی ځکه په مونږ حکومت کوي چې د پېرنګي کور جوړ دی، ورورولي يې جوړه ده او مونږ ځکه غلامان يو چې زمونږ کور وران دی.

*لالونه مرغلرې، ۱۹ مخ*

## د مذهب منل

چاته چې مذهب راغلی او هغوی منلی او عمل يې پرې کړی دی، په دې دنيا اباد شوي دي، د عزت خاوندان شوي دي، د خپل حکومت خاوندان شوي دي، د خوشحالۍ او امن ژوند يې نصيب شوی دی. تاسو عربو ته وګورئ، چې د اسلام نه مخکې د هغوی څه حال و؟ او چې اسلام راغی او عمل يې پرې وکړو، د هغوی څه حال شو؟ د اسلام په وجه دوی د حکومت، دولت او عزت خاوندان شول. تاسو د هغه وخت د مسلمانانو د ژوند په هر اړخ نظر واچوئ، غور او فکر پرې وکړئ او د اسلام د دې ټېکه دارانو په خبرو غور او سوچ وکړئ چې دا دوی چې کوم اسلام بيانوي، دا هغه د خدای او رسول اسلام دی که د سرمايه دارو؟ او دوی چې څه وايي د خدای دپاره بې وايي که د سرمايه دارو دپاره بې وايي؟

*لالونه مرغلرې، ۲۶ مخ*

## جنت وطن

د پښتنو تاريخ د داسې واقعاتو نه ډک دی چې کله داسې موقع په لاس ورغلې ده،

دوی د خپل ورور عزیز په ځای میا مُلا په ځان مسلط کړی دی، عزت یې پخپلو کې په یو بل پېرزو شوی نه دی او پخپلو کې بد نیته شوي دي
او دغه شان چې څوک دوی د خپل ملک، قام او مذهب مشران په ځان منلي دي، هغوی بیا ښه مړلي او خوړلي دي او دوی بیا هم ورنه سبق نه دی اخیستی او دغه وجه ده، چې د جنت په شان وطن کې په جوارو ماړه نه دي، وږي تږي، خوارو زار او جاهلان پاتې دي.
د قدرت د پټو خزانو نه چې د دوی په ملک کې یې پیدا کړي دي، محروم دي او تر هغې به یې دا حالت وي، ترڅو چې دوی قبیلوي ژوند په ملي او قومي ژوند تبدیل کړی نه وي او یو ملت شوی نه وي او پخپلو کې یې ورورولي، عزیزولي او قامولي مینه، محبت او پېرزوینه پیدا کړې نه وي
او ترڅو چې یې د قام عزت، خپل عزت او د قام بې عزتي خپله بې عزتي ګڼلې نه وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۷ مخ*

## سیاسي غرض

دا پروپېګنډه شوې ده چې انګرېز انصاف دار و. منم چې انصاف دار و، خو په داسې مسئلو کې چې کوم ځای کې به د ده خپل مفاد نه و، کله چې به د ده خپل سیاسي غرض و، نو بیا د انصاف سوال نه پیدا کېده. ولې په سیاسي معاملو کې یې بیا انصاف نه پېژندو او بیا هر ظالم چې تاسو وپېژنئ، د هغه نه زیات ظالم و.

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*

## د سرمایه دارو مذهب

هر مذهب او مسلک چې د خودغرضو او چالاکو خلقو په لاس ورشي بیا په کې هغه اولنی انقلابیت او روح پاتې نه شي، بیا د سرمایه دارو مذهب ترې جوړ شي او تش کالبوت شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*

## مذهبي جنګونه

قرآن خو دا وايي، چې د متقي او پرهېزګارو خلقو به په دې قرآن هم عقيده وي او چې ددې نه مخکې کوم کتابونه د خدای له طرفه راغلي دي، په هغې بـه يـې هـم عقيـده وي. نو مونږ نه پوهېږو، چې په دنيا کې د مذهب په نامه دا جګړې او جنګونه ولـې او څنګه پيدا شوي دي؟

*لالونه مرغلرې، ۲۸ مخ*

## سپاهي

زه يو سپاهي يم او زه په خبرو نه، بلکې په عمل يقين لرم.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*



## غلامي

په غلامۍ کې د انسان نه انسانيت هېر شي او انساني خوبۍ په کې پاتې نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

## زما کار

زه خدايي خدمتگار يم او زما کار د ذات او عقيدې د پروا کولو نه بغير د الله تعالی د ټول مخلوق خدمت کول دي.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

## د مذهب مطالعه

زه يو مذهبي سړی يم او هرڅه چې زه وايم او يا کوم، هغه به د مذهب مطابق وي. زه مسلمانانو او هندوانو ته دا وايم، چې د خپلو مذهبي کتابونو مطالعه وکړئ، مسلمانان او هندوان دواړه د خپل مذهب خلاف کارونه کوي. دا ديني کتابونه ددې دپاره نه دي، چې مونږ يې په تاخ کې کېږدو، خلقو ته ددې مطالعه او ددې په احکامو عمل کول په کار دي، ترڅو پورې چې د قرآن پاک او گيتا د تعليماتو ماته علم دی، د هغې مطابق غلامي يو لعنت دی.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

## مذهب د خدمت نوم دی

مذهب د مينې محبت، ښه اخلاقو او د خلقو د خدمت نوم دی. مذهب ددې دپاره نه دی، چې خلقو کې کرکه نفرت پيدا کړي، بلکې ددې دپاره دی، چې د ټولنې نه کرکه نفرت لرې کړي. د مذهب په نوم تفرقه پيدا کول نه دي په کار او مونږ ټولو له په کار دي، چې د خپل دين په تعليماتو په صحيح توگه عمل وکړو.

*لالونه مرغلرې، ۲۹ مخ*

❀

دا نننی مذهب خو د څو کسو د عيش اوعشرت لپاره دی، د خدای د مخلوق د آرامۍ لپاره ندی.

*ارشادات و مکتوبات باچه خان، ۱۴ مخ*





حقيقت دادی چې نن مذهب هم سرمايه دارو د خپلو سرمايو په زور قبضه کړی دی. رښتينی خدايي مذهب خو د مخلوق خدمت دی، مينه ده، محبت دی، انصاف دی، عدالت دی.

*د بابا مشالونه، ۴۰۸ ه.ق ۱۶ مخ*

## د بې عزتۍ احساس

مونږ ترهغې پورې متحد کېدی نه شو، ترڅو پورې چې مونږ ته د خپل سپکاوي او بې عزتۍ احساس نه وي شوی. *لالونه مرغلرې، ۲۹مخ*

انسان فاني دی او زه وايم چې سړی مري نو ښه په عزت او د غيرت پـه ځـای کـې مـړ ښه دی. *لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

## پر کلتور او ثقافت فخر

غلامي يو لعنت دی، ولې د هندوستان خلق بيا هم وايي، چې په دوی د خدای رحـم دی. هندوان وايي چې زمـونږ کلتـور د نـړۍ د ټولـو نـه زوړ ثقافـت دی. مسـلمانان د شهاب الدين غوري او محمود غزنوي په فتوحاتو فخر کوي، مسلمانان دا وخـت هـيڅ هم نه دي او ددې هيڅ فايده نه شته، چې زما پلار پادشاه و.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

## رحمت او عذاب

غلامي يو عذاب دی، او خپلواکي د الله پاک رحمت دی. کـه تاسـو دا وايـئ، چـې دا ملک زمونږ دی، نو که هندوان او که مسلمانان د دې ملک دپاره کار کوي، نو پـه بـل يې څه ملازه نه شته، که تاسو ملک ازاد کړو، نو ددې فايده ستاسو ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

# جابر حکمران

مسلمانان د داسې دين پيرو دي، چې د هغې نصب العين نړی د غلامی د زنځيرونو نه ازادول دي. د مسلمانانو په زړه کې چرې هم وېره نه وي او د يو ظالم او جابر حکمران په وړاندې د رښتيا ويلو نه چرې هم نه وېرېږي.

*لالونه مرغلرې، ۳۰مخ*

# د دنيا بادشاهان

د خلقو په مغزو کې ملايانو دا کېنولې ده، چې گوندې خدای هم د دنيا د بادشاهانو په شان دی چې هغه ته د ټېکس او ډالۍ ضرورت دی، دوی په دې فکر نه کوي، چې خدای بې نيازه دی، هيڅ شي او هيچا ته محتاج نه دی.
که خيراتونه دي که زکات دی که صدقات دي، که مونځ دی که روژه ده، که حج دی، دا ټول زمونږ د ښېگڼې دپاره دي، که ښه کوې دنيا به دې هم اباده وي او په اخرت کې به دې هم په کار شي. او که بد کوې، په دنيا کې به ذليل، حقير او خوار يې او په آخر کې به درله عذاب وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۱مخ*

# تجربه

د نوې تجربې کولو يا د تجربو دپاره په خندقونو کې ځان غورځولو نه به دا بهتره وي، چې د هغو خلقو د تجربو نه فايده واخستی شي، چې چا ډېر تکليفونه او مصيبتونه اوچت کړي او په قسم قسم خندقونو کې پرېوتلي وي او تجربې يې حاصلې کړې وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

# ملايان

د ملايانو د لاسه مونږ ته نور هم ډېر نقصانونه رسېدلي دي. په مونږ کې چې د کار او خدمت سړی پيدا شوی دی، دوی پرې يا د وهابي فتوه لگولې ده، يا د هندو يا د کافر او په دې نومونو يې له خدمته پاتې کړی دی، نه يې پخپله د خلقو خدمت کړی

دی او نه يې بل ورته پرېښی دی، بېکاره او بې کسبه مونځ ادا کوه او ډوډۍ خوره.

*لالونه مرغلرې، ۳۱مخ*

## ميراث

په اسلام کې د خور او لور په سر پيسې اخستل لويه گناه ده. بلکې اسلام خو خويندو او لوڼو ته د پلار، مور او ورور په ميراث کې برخه ورکوي. *لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## د لوستلو شوق

پښتانه اوس هم د اخبار لوستلو شوق نه لري، په چتې څيزونو په بېځايه رواجونو، په زرگونو روپۍ خرڅ کوي، خو په اخبار يوه پيسه نه ورکوي او هم دا وجه ده، چې د دومره بهادر او لوی قوم پخپله ژبه کې يو قومي اخبار نه شته.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## ورور وژنه

تاسو پښتانه هم پخپل کور کې وروڼه يئ او که چرې يو کافر بل کافر نه وژني، نو تاسو هم خپل ورور مسلمان مه وژنئ. *لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## کنجوسي

بېشکه کنجوسي خراب څيز دی، لېکن داسې سخاوت چې د هغې په وجه سړی همېشه مقروض او د خلقو محتاج وي، هم ښه څيز نه دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## نکته چيني

بېشکه په خلقو ناجايزه نکته چيني کول يو خراب عادت دی. ولې چې د خلقو نکته چينۍ باندې سړي ته څه فايده رسېدی نه شي او که چرې يو سړی د خپل ځان دپاره نکته چيني نه خوښوي، نو هغه له په کار دي، چې په نورو هم نکته چيني ونه





کړي. ولې چې کوم کار سړی د ځان دپاره نه خوښوي، نو نورو ورونو له يې هم خوښول په کار نه دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۲مخ*

## عزم

سړی چې څه غواړي هغه کولی شي، په شرط ددې چې هغه د عزم، صبر او استقلال نه کار واخلي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## د قربانۍ حقيقت

په دنيا کې هيڅ کار بغير د تکليف او قربانو نه کېدی نه شي. د خدای بنده ګانو چې د هغه د مخلوق د خدمت په لاره کې کوم تکليفونه او قربانۍ کړي دي، د هغې په مقابل کې زمونږ د قربانو څه حقيقت دی؟

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## حکومت کول

حکومت کول د قوم خدمت کول دي؛ ځکه نو دا د قوم د رضا او خوښې مطابق په کار دی. که په حکومت کې د خلقو خوښه او رضا نظر انداز کولی شي، نو دغه حکومت د عزت په ځای د ذلت سبب جوړېږي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱مخ*

## د غلامانو بچي

زه د واده خلاف نه يم، لېکن د غلامانو بچو پيدا کول مې خوښ نه دي او په موجوده حالت کې چې څوک صبر کوی شي، نو هغه بهتر ګڼم.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

# روزانه کار

زه پخپله هم روزانه څلور پنځه ګېنټې کار کوم.

بېلچه ښه چلوم. غواړم چې هر یو خدایي خدمتګار که امیر وي او که غریب، چې روزانه څه نا څه کار پخپل لاس وکړي، په کار کې برکت وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*



# د انسان فرض

د یو انسان فرض صرف دومره دی، چې په اصلاح سره کار کوي.

نتیجه یې په خدای پرېږدي، ولې چې هغه د هغه کار دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*



## زړه ته نېږدې

څوک چې د خدای دپاره بغیر د څه خپل غرض نه کار کوي، هغه خلق زما زړه ته نېږدې دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۳مخ*

## چای څښل

زه ټولو خدايي خدمتگارو ته عرض کول غواړم، چې په پښتنو کې د ضرورت نه زيات دا دومره ډېر د چايو څښلو رواج د پښتنو بچو دپاره خطرناک گڼم. لېکن تر اوسه پورې زه په دې مسئله ځکه چُپ وم، چې ما پخپله چای څښله، نو ددې برخلاف مې خلقو ته څه ويلی نه شو، ولې چې د هغې خبرې په خلقو څه اثر نه وي، چې هغه سړی پخپله خو کوي او نور خلق ترې منع کوي، اوس ما چای پرېښې دی او تقريبا دا يو کال وشو، چې څښلي مې نه دي،
د هر يو عادت پرېښودل مشکل وي، لېکن يوه مضبوطه اراده او صبر دا ټول مشکلات په سړي اسان کړي. في الحال زه د خدايي خدمتگارو نه دومره غواړم، چې د دوه وخته په ځای دې يو وخت چای څښي، يا دې د دوو پيالو په ځای يوه پياله چای څښي.

*لالونه مرغلرې، ۳۴مخ*

## ظاهربين

د الله تعالی هر کار د خير وي، ولې مونږ پرې نه پوهېږو؛ ځکه چې مونږه ظاهربين يو، لږ غوندې ظاهري تکليف راباندې راشي، نو بيا مو وار خطا وي.

*لالونه مرغلرې، ۳٦مخ*

## ځانځاني

نن مونږ او زمونږ ملک ولې په يو داسې بدتر حالت کې يو؟ ولې مونږ په دنيا کې ذليل او سپک يو؟ ددې وجه دا ده، چې نن زمونږ هر يو کس د خپلې ذاتي ترقی په فکر او کوشش کې دی. زما زمائي ده. که ملک تباه او قوم برباد شي، لېکن چې زما د يوې

پیسې فایده وشي، خلق د قربانو او کار کولو دپاره تیار نه دي؛ ځکه خو مسلمانان امام صاحب ته او هندوان اوتار ته په انتظار کې ناست دي. د بې همته قومونو هم دغه نښې دي، چې پخپله به کار نه کوي، د بل په تکیه به ناست وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

## د خلکو خدمتګار

ستاسو عزت، خوشحالي او کامیابي زما عزت، خوشحالي او کامیابي ده. زه ستاسو خدمتګار یم او د خپل خدمت اجرت یا مزدوري درنه نه غواړم. زه خپل فرض پوره کوم او د دې اجرت او مزدوري د الله پاک نه غواړم.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

زه ستاسو په اتفاق او ترقۍ خوشحالیږم او ستاسو په نفاق او خوارۍ خفه کیږم. زه شپه او ورځ ستاسو د ابادۍ او ازادۍ دپاره دعا او کار کوم. الله تعالی دې مونږ ددې لایق کړي، چې د هغه د مخلوق خدمت وکړی شو.

*لالونه مرغلرې، ۳۵مخ*

زه هم هغه زوړ خدايي خدمتګار یم. هرڅه د خدای دپاره کوم او د هغه د مخلوق د فایدې او ارام دپاره یې کوم. د انسان دپاره یا د هغه د خوشحالولو دپاره یا د هغې نه د څه فایدې حاصلولو دپاره یې نه کوم.

*لالونه مرغلرې، ۳٦مخ*

## د ناپوهه پوهول

د یو ناپوهه پوهول اسان او ممکن دي، لېکن د یوه پوهه بنده پوهول مشکل نه، بلکې ناممکن دی.

*لالونه مرغلرې، ۳٦مخ*

## د نفاق اور

زه د نفاق نه ډېر وېرېږم؛ ځکه چې ددې د لاسه د پښتنو کور تباه شوی او برباد شوی دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

## اختیار

ترڅو چې د دې خپل ملک اختیار د پښتون په لاس رانه شي، نو تر هغه وخته پښتون ترقي کولی نه شي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*



## فتح به زمونږ وي

په حیثیت د یو خدایي خدمتګار زما دا عقیده ده، چې دا څه کېږي، زمونږ د فایدې دپاره کېږي، اخر فتح به زمونږ وي، په شرط ددې چې مونږ پخپلو اصولو قایم او رښتوني خدایي خدمتګار شو.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

# خراب څيز

بحث او اختلاف ډېر خراب څيز دی او تر کومه چې کېدی شي، ددې نه بچ کېدل په کار دي، ولې چې ددې نتيجه همېشه خرابه وي. اختلاف رای په دنيا کې وي، لېکن يو ځل د هغې ظاهرول کافي وي، که چا ومنله، خو ډېره ښه او که ويې نه منله، نو بيا په هغې بحث او مباحثه کول په کار نه دي، ولې چې په بحثونو چرې تصفيه شوې نه ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

# قومي خدمت

ساده زنده گي اختيار کړئ او د ډېرو خرڅونو عادت پرېږدئ، ولې چې ددې نه بغير قومي خدمت کول ناممکن دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*



# غلطي نه منل

چې يو سړی يو طرف ته غلطي کوي او بل طرف ته هغې غلطۍ ته غلطي نه وايي، نو د هغه اصلاح مشکله ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

## د غلام قوم بچي


د غلام قوم بچي چې ولایت ته لاړ شي، نـو هغـوی د هغـه ځـای خـوبی ځـان سره نـه راوړي، بلکې د هغه ځای بدی راوړي.

*لالونه مرغلرې، ۳۷مخ*

## وطني جامه

زما خویندو تاسو ته دا خپل ملک ښه معلوم دی، چې پـه دې کـې د دولـت خـو پیـدا کېږي، ډېر ولې په مونږ حکومت د نورو خلقـو دی، نـو مـونږ ډېـر غریبـان یـو، ستاسـو وروڼه، پلاران او خاوندان نن سبا ډېر عاجزان دي.
که تاسو لږ انصاف وکړئ، چې د غیر ملکونو قیمتي کپړې اغوستل پرېږدئ، ولایتي او جاپاني جامې نه اغوندئ، په ساده وطني جامه صبر وکړئ، نو ستاسو نارینه وو ته بـه ډېره فایده ورسي، د قرض نه به خلاص شي او عمر به یې د عزت شي.

*لالونه مرغلرې، ۳۸مخ*






# د ترقۍ اسباب

په هره زمانه کې د قومونو د ترقۍ سامان جدا جدا وي.

که پخوا به په دنيا کې هغه قوم زبردست ګڼلی شه چې د چا په مټو کې بـه زور زيـات وه او په ميدان د جنګ کې به يې زياته خونريزي کولی شـوه، نـو نـن هغـه قـوم زورور شمېرلی شي، چې د چا په قلم کې زيات طاقت دی، د پروپېګنډې ذريعې يې ډېـرې دي، اخبارونه او رسالې يې په اعلی پيمانه جاري دي.

*لالونه مرغلرې، ۳۸مخ*

# نوی شی

دا زمونږ خدايي خدمتګاري خو څه نوی شی نه دی، دا خو هغه د ديارلس نيمو سـوو کالو زوړ حکم دی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زنده ګۍ پيروي ده.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

# د تعمير مينه وال

حقيقت دا دی، چې زه د تعمير سره مينه لرونکی انسان يم، تخريب سره زما هيڅ کـار نه شته.

دغه شان زه د نظرياتو نه زيات په عمل يقين لرم، که تاسو زما ژوند مطالعـه کـړئ، نـو پوه به شئ، چې ما خپل ژوند د ملک او قوم د ترقۍ او ښېګڼې دپاره وقف کړی دی.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

# تباهي

زه د ا خبره تکراروم، چې زه د پاکستان تباهي نه غواړم. تباهي زه د هيچا نه غواړم، نه د هندو، نه د مسلمان، نه د سرحد، نه د پنجاب، نه د بنګـال او نـه د سندهــ . فايـده



صرف او صرف په تعمیر کې ده. زه تاسو ته اېغه نېغـه خـبره کـوم، چـې زه بـه پـه تبـاه کارۍ کې د هيچا ملګرى نه يم، که تاسو څه تعميري مقاصد لرئ، که تاسو د ملک او قوم دپاره تعميري کار کول غواړئ، صرف په خبرو نه بلکې په عملي توګه .
نو زه ددې معزز ايـوان پـه مخکـې دا اعـلان کـوم، چـې زه او زمـا خلـق بـه ستاسـو پـه خدمت کې حاضر وي.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

## طاقت او جبر

ياد ولرئ، چې طاقت او جبر پايدار نه وي، په وقتي توګه د جبر نه کـار اخسـتى شي، خو که تاسو خلق د زور لاندې ساتئ، نو د هغوى په زړونو کې به ستاسو خلاف نفـرت پيدا کېږي. دا پرېږدئ.

*لالونه مرغلرې، ۳۹مخ*

## د پېرنګيانو چلونه

مونږ له د پېرنګيانو چلونه او فرېبونه پرېښودل په کار دي.
که مونږ په دې طريقو عمل پېرا پاتې شو، نو ياد ولرئ، چې دا ملک چې مونږ په ډېـرو سختو او تکليفونو حاصل کړى دى، به زمونږ د لاس نه وځـي.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*

## اعتماد

اکثر تکليفونه او مشکلات د بد اعتمادۍ په وجه وي. خو په اعتماد دغه مشکلات حل کېدى شي. حکومتونه په اعتماد چلولى شي، په بد اعتمادۍ نه.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*



# تحمل او صبر

اسلام يو داسې مذهب دی، چې مونږ ته د ډېر لوی تحمل او صبر درس راکـوي، کلـه چې مونږ يو بل سره د خيالاتو تبادله کوو، نو لازما به يو بل سره د ډېر تحمـل نـه کـار اخلو. دا نه چې زه د چا مخالفت شروع کړم، چې د ده زما د نقطه نظر سره اتفاق نه شته.

*لالونه مرغلرې، ۴۰ مخ*

# د ښېگڼې عمل

د حضرت ابوبکر رضي الله تعالی عنه مثال وگورئ، د خليفه جوړېدو نه مخکې د دوی هر يو عمل د مسلمانانو د ښېگڼې دپاره و. د خليفه پـه توگـه دوی ځـان لـه يـوه ډېـره معمولي وظيفه مقرر کړې وه. په اسلام يو الزام د عدم مساوات لگـولی شي، خـو دوی عملا دا ثابته کړې وه، چې اسلام د ټولو انسـانانو د ژونـد د ضروريـاتو پـه يـو شـانوالي يقين لري. انسان غريب وي که مالدار، د هغه د ژونـد ضروريـات يـو رنـگ وي، اولاد د ټولو کېږي؛ ځکه نو ضروريات هم د ټولو وي.

داسې نه وي، لکه چې تاسو وايئ، چې ستاسو ضروريات زيات دي او زمونږ کم، تاسـو دا هم نه شئ ويلی، چې د غريب بنده د مالداره کېدو هيڅ امکان نـه وي؛ ځکـه چـې امکانات ټول د مالدارو دپاره وي، د دې ټولو خبرو تعلق ثقافـت او تهـذيب سره دی او په دې سلسله کې هيڅ تفريق پکار نه دی، چونکې بـدني ضروريـات د ټولـو يـو شـان دي، له دې وجې نه وظيفې هم د ټولو لپاره يو شان مقررول په کار دي.

*لالونه مرغلرې، ۴۱ مخ*

# زړې طريقې

زه تاسو ته دا ويل غواړم، چې دا وخت کوم عادتونه او اقدار مونږ خپل کړی دی، دا به چرې هم مونږ خوشحالی پله ور نه ولي. مونږ به دا زړې طور طريقې پرېږدو او د قرون اولی اسلامي طرز به خپلوو.

مونږ د دې زوړ نظام مخالفت صرف له دې وجې نـه کـوو، چـې دا مـونږ لـه پېرنگيـانو

راکړی دی، بلکې ددې د مخالفت اصل وجه دا ده، چې دا هرڅه د اسلام په نوم کولی شي او د دې اجازت مونږ نه شو ورکولی. که د پاکستان حکومت په اسلامي خطونو وچلېدو، نو زه به یقینا د دې حمایت کوم. د پاکستان دپاره زما تصور دا دی، چې دی یو ازاد پاکستان وي. مونږ غواړو چې په دې د یو مخصوص ډلې یا مخصوص تن حق نه وي، بلکې د ټولو اوسېدونکو پرې یو شان حق وي.

د دې ملک د ازادۍ نه د خوند اخستو حق دې ددې وطن ټول اوسېدونکو ته حاصل وي. په ځای ددې چې یو څو تنه یې استحصال کوي. مونږ غواړو، چې ددې ملک حکومت د عوامو په لاس کې وي.

*لالونه مرغلرې، ۴۱ مخ*

## تعلیم په مورنۍ ژبه

یو شپږ کلن اووه کلن ماشوم ته دا ډېره گرانه وي، چې په یو وخت هم پردۍ ژبه زده کړي او هم په هغه ژبه کې علم زده کړي؛ ځکه نو تعلیم په مورنۍ ژبې کې ورکول په کار دي.

*لالونه مرغلرې، ۴۳ مخ*

## ولور

ډېر خلق خپلې لوڼه د پیسو دپاره ورکوي، په کار دي چې د سړیتوب په لحاظ خپلوي وشي. دا نه چې د دولت دپاره ځوانه جینۍ بوډا ته کېنولی شي.

*لالونه مرغلرې، ۴۳ مخ*

## بهادر قومونه

په کوم قوم کې چې د بهادرۍ او قربانۍ ماده نه وي نو هغوی د نورو قومونو په بهادرو او قربانو ځانونه خوشحالوي.


*لالونه مرغلرې، ۲۱ مخ*

# تعلیم یافته

زما یاد دي، کوم وخت چې مونږ د (پښتون) مجله جاري کړه، نو ما به تعلیم یافته ګانو ته ویل: راځئ، په دې مجله کې شریک شئ او دا مجله ولولئ. دوی به په ځواب کې راته ویل: په پښتو کې څه دي؟ دا خو یوه مړه ژبه ده!

ما به ورته وې، چې: پښتو هم د نورو ژبو په شان ژبه ده. دا نورې ژبې هم له اسمانه همداسې روغې نه دي راکوزې شوي. د هغو ژبو تعلیم یافته وو خلکو ورته کار کړی دی، دا چې په پښتو کې څه نه شته، داسې معلومېږي، چې په تاسو تعلیم یافته وو کې څه نه شته. نو دا ګناه د چا شوه؟... د پښتو که د پښتنو؟؟

*خدایي خدمتګاري، ۴ مخ*



# تغیر

هو! دا نن چې تاسې ژوندي قومونه وینئ، نو د دوی د ترقۍ وجه همدا کېدی شي، چې په دوی کې داسې خلک پیدا شوي، چې هغوی خپل عیش، خپل آرام، خپله

ابادي او ترقي د قوم او ملک د ترقۍ، آرامۍ او آبادۍ دپاره قرباني کړې ده. هغوی ځانونه خاورې کړي دي، خو د وطن خاوره یې زرغونه شوې ده.


قرآن هم وايي، چې ترڅو پورې يو قوم پخپله خپل ځان ته تغیر ورنه کړي، خدای هم هغه قوم ته تغیر نه ورکوي.

*خدایي خدمتگاري، ۹مخ*

## د ناکامۍ غم

د ناکامېدو غم د هغه چا سره وي چې د خپلو غرضونو دپاره کار کوي، کوم خلق چې د خدای د مخلوق د خدمت دپاره راوځي او د خدای دپاره کار کوي هغوی سره د ناکامۍ غم نه وي.

*لالونه مرغلرې، ۲۱مخ*



# کنډواله کورونه

اې پښتنو! ستاسو کورونه کنډواله شوي دي، راپورته شئ بېرته يې جوړ کړئ. در په ياد کړئ چې تاسو په کوم تبر پورې اړه لرئ.


*د اسلام سوله ييز سپاهي،۲۴ مخ*

# زموږ تاريخ

زما د ولس تاريخ د بريا او اتلوليو له کيسو ډک دی. خو خورا ګڼ تاوانونه مو هم ليدلي دي.

خپل منځې جګړې او له يو بل سره ژوره کينه تل د دې سبب شوې وه چې قربانۍ هېرې شي، زموږ ولس په خپل منځ کې له يو بل سره نښتی و کنه کوم بهرنۍ ځواک دا جرات درلود چې د جګړې په ميدان کې له دوی سره مخ شي؟

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۳۳ مخ*



# د هند دروازه

زمونږ ګناه دا ده چې ولایت مو د هند دروازه ده او مونږ په دغه سیمه کې زیږدلي یو، ځکه نو محکوم او ملامت یو.


*د اسلام سوله ییز سپاهي،۴۵ مخ*

# واقعی مسلمان

د اسلام ستر پیغمبر چې دې نړۍ ته راغي، مونږ ته یې دا زده کړل چې: واقعي مسلمان هغه څوک دی چې نور یې د ژبې او لاس د شر څخه په امان وي او د ټولو مخلوقاتو د خوښۍ او ګټې لپاره کار وکړي.

له خپل همنوع سره مینه په حقیقت کې پر الله تعالی ایمان درلودل دي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۵۷ مخ*



## اسلام

زه په کلکه باوري یم چې اسلام مانا عمل، یقین او مینه، له دې څپزونو پرته د مسلمان نوم هسې یو سمبول دی. په قرانکریم کې په ښه ډول دا واضح شوې ده چې یوائې او یوائې پر یوه خدای ایمان او نیک اعمال د یو مسلمان د ښښنې لپاره بسنه کوي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۶۴ مخ*

## ستره هیله

زه یوه ستره هیله او غوښتنه لرم، زما ولس لکه د صحرایی ګلانو په څېر نړۍ ته راځي، څو ورځې غوړېدلی وي او بې له دې چې څوک یې ووینې رژېږي او خاورې کیږي، زه غواړم دوي داسې ژوند ولري چې غم او خوښي یې له یو بل سره ګډ وي، زه هیله لرم دوي د یوې ټولنې د وګړو په څېر له یو بل سره ژوند وکړي، دا مې غوښتنه ده چې دوي خپل مسوولیت ادا کړي، په نړۍ کې د سیالانو په څېر واوسېږي، د الله تعالی او د انسانانو خدمت وکړي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۸۰ مخ*



# سخت که هوسا ژوند؟

ځینې کسان په سختیو کې خورا ګټور درسونه زده کوي، زه په دې فکر یم که مې هوسا ژوند درلود هېڅکله به د زندان په خوند، مفهوم او اعزاز نه وم پوهېدلی.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۹۳ مخ*

# خوښه او زور

چا ویل چې پښتانه مینه او حق نه پېژني؟ په پښتنو کې د مینې ځواک دومره پیاوړی دی، چې په خوښه دوزخ ته هم درسره ځي خو په زور یې جنت ته هم څوک نه شي بیولی.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۰۲ مخ*



# د عدم تشدد عقیده

زما په خیال د یو پښتون مسلمان په اړه تر دې بله نادره خبره ښایی نه وي چې موږ د عدم تشدد عقیده غوره کړو، خو دا عقیده نوې عقیده نه ده، بلکه څوارلس سوه کاله وړاندې زموږ پیغمبر هغه مهال غوره کړې وه، چې په مکه کې و ، او په را وروسته کې د ټولو هغو کسانو له لوري تعقیب شوی چې غوښتي یې دي د ظالمانو له جبره ځان خلاص کړي، موږ دغه لاره هېره کړې وه تر دې ګاندي بېرته رایاده کړه، اوس موږ فکر کوو چې دا یوه نوې عقیده ده.

*د اسلام سوله ییز سپاهي، ۱۱۱ مخ*





# د پیغمبر وسله

زه تاسو ته داسې عقیده وسله درکوم چې پولیس او پوځیان یې پر وړاندې د درېدو او مقابلې توان نه لري، دا د پیغمبر وسله ده چې تاسو تر اوسه ترې بې خبره یاست، د دې وسلې نوم ربښتنولي او زغم ده چې د نړۍ هیڅ ځواک یې پر وړاندې نشي درېدلی.

کله چې بېرته خپلو کلیو ته ولاړ شئ، نورو وروڼو ته ووایاست چې موږ د خدای پوځ یو او وسله مو زغم او حوصله ده، له دوي وغواړئ چې راسره ملګري شي سختی وزغمي، که تاسو صبر ولرئ بریا به ستاسو وي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۲۷ مخ*

# پېژندنه

زه د پېژندنې لپاره یو معیار لرم او هغه معیار د الله تعالی پر وړاندې د تسلیمی له مخې معلومېږي.

*د اسلام سوله ییز سپاهي،۱۴۵ مخ*

# د ژوند بدلون

په اوله ځوانی کې د تشدد احساسات راباندې غالب و، د نورو پښتنو په څېر زما په رګونو کې هم توده وینه بهېده، خو په زندان کې چې بل مې هیڅ کار نه درلود فقط قرانکریم به مې لوست، په مکه کې د پیغمبر (ص) وخت مې مطالعه کړ، د ده زغم، صبر او قرباني را معلومه شوه، په کوچنیوالي کې مې هم دغه شیان لوستي و خو اوس مې بیا د چار چاپېر د روانو حالاتو په رڼا کې لوستل، اوس مې د برتانوي راج پر خلاف د ګاندي کارونه لیدل...

بلاخره کله چې مې له ګاندي صاحب سره ولیدل، د ده د عدم تشدد تګلاره او د ده

جوړونکي پروګرامونه رامعلوم شول، دا ټول د دې سبب شول، زما ژوند بدلون وکړي.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۱۵۷ مخ*

## د ګاندي پرېکړه

هر وخت چې ګاندي صاحب کومه مهمه پرېکړه وکړي، زه له ځان سره وايم : دا د هغه سړي فيصله ده چې خپل ځان يې په مکمل ډول خدای ته تسليم کړی دی او الله تعالی هېڅکله چا ته غلطه لار نه ښيې.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۱۶۸ مخ*

## د پيغمبر درسونه

پيغمبر (ص) له ډېرو ستونځو سره مخ شو، خو هېڅکله يې اميد له لاسه ورنکړ، بالاخره بريالی شو، هغه موږ ته ښه درسونه پرې ايښي او که موږ يې په همداسې شوق او اخلاص سره تعقيب کړو، زه د ناکامۍ لپاره هېڅ دليل نه وينم، د آزادۍ لپاره هڅې تل عادلانه وي او د غلامۍ پر ضد کارونو کې تل عزت وي.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۱۸۴ مخ*

## د آزادۍ هڅې

زما په فکر غلامي قبلول جرم و، ځکه نو تر هغه وخت پورې چې په هېواد کې د رښتينو خلکو واکمني راځي او ټولو اوسېدونکو ته په مساوي او عادلانه ډول فرصتونه او د پرمختګ شرايط برابرېږي، زه به د آزادۍ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوم، بې له دې چې وګورو څوک راباندې حکومت کوي.

*د اسلام سوله ييز سپاهي،۲۰۵ مخ*



## سخت که اوسا ژوند؟

زه د خدای ج ډېر شکر ادا کوم، چې پر ما یې زما د ژوند په لومړي سر کې دومره سختۍ راوستې. زه نه پوهېږم چې که ما یو هوسا ژوند لرلای، نو څه به پېښ شوي وای.

*غفارخان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا. راج موهن ګاندهي، ٦٨ مخ*

## نه تاوتریخوالي: نوې یا پخوانۍ طریقه

په دې کې خو کومه د حیرانتیا خبره نشته چې کوم مسلمان یا پښتون دې د نه تاوتریخوالي په طریقه کې سهیم وي، دغه طریقه نوې نه ده.

دغه خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر (ص) له طرفه د تل لپاره تعقیب شوې وه، دوي په مکه کې تل د خپلو لارویانو پر ګډون غوښتل چې د زور زیاتي جغ د انسانانو له اوږو څخه لرې کړي.

خو موږ تر ننه دغه هېره کړې وه چې یو وار مهاتماجي زموږ مخې ته بیا دغه لار کېښودله او د دغې سپېڅلې عقیدې ملاتړ یې وکړ.

دی خو زموږ په منځ کې لومړي کس دی، چې دغه طریقه یې درک او د دغه غمځپلي ملت مخې ته یې کېښودله.

*خان عبدالغفارخان. د نه تاوتریخوالي لاروی، ان رادهاکرشنان، ۱ مخ*

## تشدد

تاسو ته خو تر نورو د مخه عدم تشدد په کار دی، ځکه چه ستاسو تشدد په خپل کور او په خپل ورور دی.

*فخر افغان او افغانستان. عبدالله بختانی خدمتګار، ۹۳ مخ*

## موږ ولې آباد نه یوو؟

ننني دنیا ته چې وګورې او دومره آباده شوله خو دا موږ آباد نشو، د دې وجه څه ده؟ د دې وجه هم دغه ده چې نن د قام ولي دنیا ده او موږ کې قام ولي نشته.

*د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاریخي تقریرونه، ۱۴ مخ*

## انقلاب که جدو جهد؟

د افغانستان او آزادو قبایلو حالت مې چې ولید او پنځلس کاله مې په هندوستان، قبایلو او افغانستان کې غورزې پرزې وکړې نو په دې نتیجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره آسان څیز نه دی. انقلاب د سړې سینې کار دی انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته یې آماده کړي. د انقلاب لپاره د اشخاصو ضرورت دی.

ته وګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو. ټول ولاړل خواره واره شول. نو کښېناستم د ځانه سره مې ښه فکر وکړ. زه په دې نتیجه ورسېدم چې زمونږ د قام، نه د تجارت خواته توجه شته، نه د صنعت خواته، نه د زراعت خواته او نه د تعلیم خوا ته.

د بلې خوا نه په رسمونو، رواجونو کې تر غوړونو پورې ډوب دي. په خانه جنګیو اخته دي داسې قام انقلاب نشي کولاۍ او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دي، چې سیاسي شعور پکې پیدا شي او دا کار یوه پُر امن فضا غواړي. تر دغه وخته پورې زه په دې عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي. تشدد راته د انقلاب د کامیابۍ لار ښکارېدله.

خو د تجربې نه وروسته راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کې آسونه نه تیارېږي.

نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا کار کوم.

اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت لپاره قومي مدرسې جوړوم، نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زه چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوښښ مې وکړ چې پېرنگيانو د جنگ په زمانه کې بندې کړې وې...

*خدايي خدمتګار، ارچيوال، ۸۵ مخ*

## د قوم ضرورت

عدم تشدد نيږدې زما مذهب جوړ شوی دی. زه د ګاهندي جي د دې نظرئې د وړاندې نه هم قائل او منونکی يم خو د دې تجربې ته چې بې مثاله کاميابي زما په صوبه کې تر لاسه شوه. د دې نه پس زه د زړه د تل نه د عدم تشدد منونکی يم.
انشاالله زما د صوبې خلک به کله هم تشدد نه کار نه اخلي.
ممکنه ده چې زه ناکاميابه پاتې شم او زما په صوبه کې د تشدد يو طوفان راشي. که داسې وشي نو زه به په خپل قسمت باندې صبر کوم خو دې سره به زما په دې عقيده کې هيڅ بدلون رانه شي. عدم تشدد ښه شی دی او زما قوم ته د دې د هر څه نه زيات ضرورت دی.

*د آزادی تحريک او باچا خان (فارغ بخاري)، ژباړن سجاد ژوندون، ۲۲۴ مخ*

## دعا

يا خدايه! زموږ د پښتنو د زړونو نه بغض، حسد، کينه، دښمنۍ او تربګنۍ لرې کړې او موږ ته توفيق راکړئ چې د خپل قام، ملک او وطن خدمت وکړو.
خدايه! د پښتنو دښمنان برباد کړي او موږ ته توفيق راکړئ چې د خپل دوست او دښمن تر منځه فرق وکړو. آمين

*د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاريخي تقريرونه، ۱۰ مخ*

# کرونولوژي

١٨٨٩ د چارسدې په اتمانزو کې د بهرام خان په کور کې زېږېدنه

١٨٩٧ په جومات کې له ملا نه زده کړه

١٨٩٨ د پېښور په ښوونځي کې داخله

١٩٩٨ د پېښور د ښاروالۍ په ښوونځي کې شاملېدل

١٩٠٦ د انګلیس په اردو کې د شاملېدو نه منل

١٩٠٨ په علي ګړ کې اسلامي ښوونځی

١٩٠٩ انګلستان ته د کالج د درس ویلو په هکله منفي تصمیم

١٩١٠ په اتمانزیو کې یې لومړی ښوونځی پرانیست

١٩١١ د ترنګزیو د حاجي صاحب له حرکت سره یو ځای کېدل

١٩١٢ له مهر قنده (د یار محمد خان لور) سره واده

١٩١٣ په اګره کې د مسلم لیګ په کنفرانس کې ګډون

١٩١٣ د لومړي زوی، غني خان زېږېدنه

١٩١۴ چله او اوږده روژه، په باجوړ کې له مېشتو قبایلو سره تنویري کال

١٩١۵ د دویم زوی، ولي خان پیدایښت، د ښځې مړینه

١٩١٩ دویم واده: د سلطان محمد خان له لور (نم باته) سره

١٩١٩ د شپږو میاشتو لپاره بندیتوب

١٩٢٠ له بند څخه خوشي کېدل، بل واده، د خلافت کنفرانس لپاره ډهلي ته تګ، د ګاندي، ابوالکلام آزاد او نورو سره لیدنه، افغانستان ته د خلاف د موضوع لپاره له نورو سرهمهاجرت، په ناګپور کې د هند نیشنل کانګرس په غونډه کې ګډون

١٩٢١ په اتمانزیو کې د لېسې جوړول، د "انجمن اصلاح افاغنه" (عبدالاکبر خان لومړی ریس) جوړول، د دریو کلونو لپاره بند

۱۹۲۲ له دوېمې مېرمنې څخه د يوې لور (مهر تاجه) پيدا کېدل
۱۹۲۲ کله چې دی په بند کې و، درېيم زوی (عبدالعلي خان) پيدا،
چې وروسته د پېښور پوهنتون مرستيال و
۱۹۲۳ د ده مشر ورور ډاکټر خان صاحب د لندن په سينت توماس روغتون کې
ډاکټري تر لاسه کړه، په انګلستان کې يې له يوې انګلېسي مېرمنې سره
واده وکړ، چې دوی يو زوی (جان خان) او يوه لور (مريم) پيدا کړل
۱۹۲۳ د مور مړينه
۱۹۲۴ له بند څخه خوشې کېدنه، ده ته د (فخر افغان) لقب ورکړل
شو. مکې شريفې ته د حج لپاره تګ، له څو اسلامي هېوادونو څخه ليدنه،
په بيت المقدس کې د مېرمنې مړينه او هلته يې خاورو ته سپارل
۱۹۲٦ پلار يې مړ شو، د جنازې او خښولو لپاره يې بې ساري خلک راغلي وو،
ده وويل د سقاط (سخات) لپاره مې ۲۰۰۰روپۍ منلي، آيا خلکو ته يې
ورکړم که ښوونځي ته؟ خلکو په لوړ آواز وويل: ښوونځي ته! ښوونځي ته!
۱۹۲۷ د انجمن زميندارانِ بنسټ ايښودنه، د محلي زراعت د
پرمختګ لپاره، پښتون جرګه «د پښتنو ځوانانو ليګ» دده تر لارښوونې
لاندې جوړ شو
۱۹۲۸ په کلکته کې د خلافت او کانګرس په غونډو کې ګډون
۱۹۲۸ پښتون مجله
۱۹۲۹ د خدايي خدمتګارانو د تحريک جوړول او بنسټ ايښودنه
د ((پښتون)) خپرونې پيل، په لاهور کې په لوکنو کې د کانګرس په غونډه
کې ګډون، له ګاندي او نهرو سره ليدنه
۱۹۳۰ له بند څخه خوشې کېدل، کليو ته ورتګ پيل کول، په
کراچۍ کې د کانګرس غونډه کې ګډون، له ګاندي سره د کانګرس په
کاري کمېټه کې غړيتوب اخستل، د کانګرس د ټولو مشرانو په ګډون
بنديتوب
۱۹۳۱ اګست ۲۵: له ګاندي او جواهر لال نهرو سره يو ځای سيمله ته

ولاړل، ترڅو له وايسرا سره وګوري

۱۹۳۱ تصميم ونيول شو، چې په پېښور کې د کانګرس څانګه جوړه شي

۱۹۳۱ درې کاله بندي شو

۱۹۳۱ پښتون مجله

۱۹۳۰ د پېښور د قصه خوانۍ بازار ټول وژنه (قتل عام)

۱۹۳۱ له يو کال بند نه وروسته باچا خان له نورو خدايي
خدمتګارانو سره د ډېره غازي خان جېل نه خلاص شو

۱۹۳۱ له ۱۰۰ خدايي خدمتګارانو سره د کانګرس غونډې لپاره
کراچۍ ته ولاړ

۱۹۳۱ باچا خان له ګاندي سره د کانګرس ورکينګ کميټې غونډې لپاره ولاړ

۱۹۳۱ جولای: د مهاتما ګاندي زوی ديو داس ګاندي پېښور ته را ورسېد، ترڅو د
سرحد وضع مطالعه کړي، دی له باچا خان سره په اتمانزو کې اوسېده

۱۹۳۴ له بند څخه خوشې کېدل، له پښتونخوا څخه شړل کېدل،
په (وردا) کې له ګاندي سره وخت تېرول، د بنګال مسلمانانو ليدنه،
د کانګرس مشري نه منل، په بمبۍ کې خبرې او بندي کېدل

۱۹۳۴ اګست ۱۷: د ګاندي له روژې سره د ملاتړ لپاره يوه اوونۍ روژه نيول

۱۹۳۴ سپتمبر ۳۰: په کلکته کې د هندو او مسلمانانو د يووالي په هکله عام
محفل ته وينا کول

۱۹۳۵ له بند څخه خوشې کېدل او له پښتونخوا څخه شړل

۱۹۳۷ د پښتونخوا د والي له خوا تبعيد کول، بېرته کور ته راتلل،
په ولايتي کچه په اکثريت سره بريا، د خان صاحب د والي په حيث دنده

۱۹۳۸ په پښتونخوا کې د ودانولو د پروګرام پيل

۱۹۳۸ ګاندي د سرحد ولايت ته د اتو ورځو لپاره راځي

۱۹۴۰ په سر درياب کې د ودانولو د پروګرام لپاره د يو مرکز پرانستل،
د کانګرس پرېښودل، لامل يې د کانګرس له عدم تشدد څخه لرېوالی

۱۹۴۱ د خدايي خدمتګارانو لپاره ټرينينګ کمپ جوړول

۱۹۴۲ په پښتونخوا کې ملکي مقاومت

۱۹۴۲ د وينـــا کولـــو پـــر وخـــت د پوليســـو لخـــوا نيـــول او بنـــدي کېـــدل، د پوليسو د وهلو له امله دوه پښتۍ يې ماتې او د دوه کلونو لپاره بندي شو

۱۹۴۲ ګاندي او باچا خان د ټول هند د ملي کانګرس او د هغه لـه کـاري کمېټـې څخه په دوېمه نړيواله جګړه کې د ګډون په خاطر استعفا ورکوي

۱۹۴۲ لـه پېښـور نـه ۱٦ ميلـه لـرې، پـه سر دريـاب کـې د (مرکـز عـالي خـدايي خدمتګاران) جوړول

۱۹۴۴ بندي کېدل

۱۹۴۵ له بند څخه خلاصېدل

۱۹۴۷ له خدايي خدمتګارانو څخه د ريفرينډم د بايکاټ کولو غوښتنه، د (پښتون) اخبار په پاکستان کې د حکومت لخوا مصادره کېـدل، د اګست په مياشت کې

۱۹۴۷ د پاکستان د قبلولو لپاره د خدايي خدمتګارانو د غونډې راغوښتل، سپتمبر مياشت

۱۹۴۸ له پاکستان سره د وفادارۍ لوړه، د پاکستان د پيپلز پارټۍ منتخب مشر، له ډاکټر خان صاحب سره بند ته استول، د خدايي خدمتګارانو له مظلومو غړو سره (د جون مياشت)

۱۹۴۸ د (جمعيت العوام) چې په خلکو کې د پاکستان پيپلز پارټي په نوم مشـهوره ده، د جي ام سيد، عبد المجيد سندي، شيخ حسام الـدين او عبـد الصـمد خان اڅکزي «بلوڅ ګاندي» جوړول، باچا خان د دغه ګوند لومړی مشر و

۱۹۵۲ د باچا خان ښه ملګرى او د ډاکټـر خـان صـاحب پـه صـدر اعظمـۍ کـې د معارف وزير، قاضي عطاءالله مړينه

۱۹۵۴ له بند څخه خلاصېدل او په کور کې نظر بندي، ډاکټر خان صاحب ته د پاکستان د مرکزي کابينې غړيتوب

۱۹۵۵ له اووه کلونو بند څخه وروسته پښتونخوا ته ستنېدل، جنرال سـکندر ميـرزا د پاکسـتان ولسمشر کېـدل، د يـو يونـټ اعـلان او د

سرحد د قبايلي سيمو (پښتونخوا) ادغام د پاکستان په يو يونټ کې

۱۹۵۶ بنديتوب او د حکومت له خوا د باچاخان د کورنۍ ټول
جايداد مصادره کول

۱۹۵۷ د نيشنل عوامي گوند جوړونه (د جولای مياشت)
خو د همدې کال د مې په مياشت کې د ډاکټر خان صاحب وژل

۱۹۵۸ نيول او بندي کېدل (د اکتوبر مياشت)

۱۹۵۹ د زيات عمر او ناروغۍ له کبله له بند څخه خوشې کېدل، د
هر ډول رسمي وظيفې او دولتي چوکۍ له نيولو څخه بې برخې کول

۱۹٦۱ له سلگونو نورو همکارانو سره نيول او بندي کول

۱۹٦۲ د ښښنې د بين المللي سازمان (امنيسټي انټرنشنل) لخوا د
کال بندي ونومول شو

۱۹٦۴ له بند څخه خوشې کېدل او په کور کې نظربند
انگلستان ته د درملنې لپاره د تگ اجازه، د (دپتانز) کتاب له ليکوال الف
کارو سره ليدنه، په قاهره کې افغاني تجارتي ويزه اخستل،
کابل ته تلل، کابل کې ژوند غوره او د افغانستان ډېرو سيمو ته سفر کول

۱۹٦۹ د گاندي په سلمه (۱۰۰) کليزه کې د خبرو لپاره هند ته تگ
د هندوانو او مسلمانانو د يووالي لپاره درې روژې نيول
د پرگنو د ښېگڼې په منظور دعاگانې

۱۹۷۱ په پاکستان کې د دوولس کلن نظامي حکومت له ختمېدلو سره سم
له تبعيد څخه پښتونخوا ته راستنېدل

۱۹۷۵ بندي کېدل، د نيشنل عوامي گوند منع اعلانېدل، له بند څخه د زيات
عمر او پرلپسې ناروغيو له امله خلاصېدل

۱۹۸۳ د خپل زوی ولي خان او د اپوزيشن له نورو مشرانو سره
بندي کېدل، په کور کې نظربند کيدل، له نظربندۍ څخه خلاصېدل او
روغتون ته د درملنې لپاره ستنېدل

۱۹۸۴ په کابل کې په روغتون کې بستر کېدل



۱۹۸۵ د هند ملي کانګرس ګوند په سلمه کليزه کې د ګډون لپاره لـه خپـل زوى ولي خان سره هند ته تګ

۱۹۸۷ د هند د حکومت د مېلمه په توګه هند ته د درملنې لپاره تګ، د لومړي غير هندي په حيث په هندوستان کې تر ټولو لوى مډال (بهارت راتنه) يعنــې د هند تاج تر لاسه کول. په پېښور کې په روغتون کې بسترېدل

۱۹۸۸ د جنورۍ په شلمه د پېښور په ليډي ريډينګ روغتون کې د سهار په شپږو بجو او پنځه دېرشو دقيقو د وروستي ځل لپاره ساه باسي.
د وصيت له مخې له پښتونخوا څخه د ننګرهار مرکز (جلال آباد ښـار) تـه د سلو زرو خلکو په ګډون راوړل کېدل او په جلال اباد کې په خپـل کـور کـې خاورو ته سپارل کېدل
پدې ډول د تل لپاره له دې نړۍ کوچېدل او تلپاتې استراحت.

❖

# عکسونه



پاچا خان په جلال آباد کې خاورې ته سپارل کیږي




د غفارخان مقبره وروسته له ۲۸ کلونو په ۲۰۱۶ کال کې



د غفار خان پلارنی کور او د هغه د زیږیدولو ځای په پېښور کې



د غفار خان کور په جلال آباد کې



غفار خان د خپل فلیسوف او شاعر زوی غني خان سره



پاچا خان د احمدشاه بابا له مزار څخه د راوتلو پرمهال




پاچا خان په جلال آباد کې له ډېرو خلکو سره کتل



پاچا خان په کندهار کې خلکو ته وینا کوي




*باچا خان په کندهار کې د احمدشاه بابا د مزار ترڅنګ له ماشومانو سره په مینه خبرې کوی*



غفار خان او ګاندی په ګډه ځو کالونه کار او مبارزه کړې ده



غفارخان او گاندی يو له بل سره ډير نيږدې وو






غفار خان د افغانستان ډېرو سيمو ته سفر کړی دی





ګاندی، غفار خان  او د ګاندی سکرتر مهادیو دیسای




مهاتماګاندی، مولانا ابو کلام آزاد، سردار پتیل، غفار خان، جواهر لعل نهرو



غفار خان او وينوبه باهوی به يو نيالگی کښېنوی



د شلمې پېړۍ عدم تشدد جنبش مخکښ وگړي:
مارتين لوتر کينگ، مهاتما گاندی، نيلسون مانديلا، غفارخان



# ماخذونه


۱. عبدالغفار، زما ژوند او جد و جهد. ۱۳۶۰ هجري لمريز، کابل ـ دولتي مطبعه

۲. پښتون مجله، اتمه ګڼه، ۱۹۹۲م، پېښور

۳. ایکنات سوارن، حضرت باچا خان ـ ژوند او فلسفه، ترجمه غني خټک، ۱۹۹۳ م اسلام آباد

۴. عبدالله بختانی خدمتګار، د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ هجري لمریزکال

۵. عبدالله بختانی خدمتګار، د باچا خان لیکونه، لومړی برخه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۳ کال

٦. ارشادات و مکتوبات باچه خان، سید جاوید علی شاه آف نرشک، کلاسک پبلشرز نو ښار

۷. د بابا مشالونه، ۱۳۹۱ هجري لمریز

۸. د ستر خدایي خدمتګار ویاړلي یادونه، پروفیسور عبدالله بختانی خدمتګار ۱۳۹۰ هجري شمسي

۹. د بابا مشالونه، د قومونو او قبایلو د چارو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست، ۱۴۰۸ هـ. ق

۱۰. نګاه مختصر به افکار و مبارزات تاریخي خان عبدالغفار خان (پاچا خان)، محمد ګل وطنپال دیاني، ۱۳۸۹هجري شمسي

۱۱. لالونه مرغلرې، د باچاخان خبرې، ډاکتر محمد زبیر حسرت، د پښتنوخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون، چارسده، ۲۰۱۲م

۱۲. خدایي خدمتګاري، لیکونکی خان عبدالغفار خان، ۱۳۴۴، دقبایلو د مستقل ریاست له خوا، کابل

۱۳. فخر افغان او افغانستان. عبدالله بختانی خدمتګار، ۲۰۰۸

۱۴. دوه خدایي خدمتګاران. مهادیو دیسای، ژباړه زیړګل وردک،

(پښتو/انګلیسي)، کابل ۲۰۱۷

۱۵. خان عبدالغفار خان، د نه تاوتریخوالي لاروی، ان رادها کرشنان، ژباړه زیړګل وردک، (پښتو/ انګلیسی)، کابل ۲۰۱۷

۱۶. د خان عبدالغفارخان (باچاخان) تاریخي تقریرونه. لومړی ټوک، تدوین او سریزه: څېړنوال عبدالرحیم بختانی خدمتګار، کابل ۱۳۹۷

۱۷. پاچاخان او د آزادۍ مبارزه. اترچند، د زبیرژمن ژباړه، ۲۰۱۳

۱۸. غفارخان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا. راج موهن ګانډی، د غلام ولي نوري ژباړه، کابل، ۱۳۸۹

۱۹. د اسلام سوله ییز سپاهي. ایکنات ایسوران. د بسم الله پښتون مل ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه، کابل۲۰۱۸

۲۰. د آزادۍ تحریک او باچا خان (فارغ بخاري)، ژباړن سجاد ژوندون، ۲۰۱۸

۲۱. خدایي خدمتګار (۱۹۲۹ ـ ۱۹۴۷ م) یو ستراتیژیک غوراوی. احمدالله ارچیوال، کابل، ۲۰۱۹

22. Abdul Ghaffar Khan; Faith is a Battle. Dinanath Gopal Tendulkar, Published for Gandhi Peace Foundation by Popular Prakashan, Bombay, 1967

23. Eknath Easwaren. Nonviolent Soldier of Islam, Nilgiri press, USA, 1999


24. Rajmohan Gandhi. Ghaffar Khan: Non-violent Badshah of the Pakhtuns. Viking, New Delhi, 2004


25. J.N. Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban, New Delhi: Konark Publishers, 2000


26. My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang, Orient Paperback, Delhi, 1969

# نور کتابونه

د عبدالغفار خان اړوند دغه کتابونو هم چاپ شوی دي:




خان عبدالغفار خان
د نه تاوتريخوالي لاروی
ان رادها کرشنان
دوه
خدايي خدمتگاران
مهاديو ديسای
(پښتو/انگليسي)
with CD
زباړه زيړګل وردګ


باتیں ہمارے
باچاخان کی


Afghanic
Quotations of
Badshah Khan
(Dari)
ISBN 978-9936-633-24-7
Funded by
Civil Peace Service
Collected & Translated by
Yahya Wardak
2018
سخنان
ناب
غفار خان
گردآورنده و مترجم یحیی وردک
افغانیک
۱۳۹۷

## افغانیک Afghanic e.V.

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) له ۱۹۹۳ کال راهیسې د هېوادوالـو، ټولنـو او بهرنیو خلکو لپاره د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات وړاندې کـوي. افغانیـک د المان اداري محکمې سره رسمي ثبت شوې غیر انتفاعي موسسه ده، چې د یو شـمېر افغانانو او المانیانو لخوا جوړه او په المان او افغانستان کې کار او فعالیت کوي.

هدف یې په افغانستان کې د پرمختیا، معارف، لوړو زده کـړو او روغتیـا پـه برخـو کـې مرسته او هم په المان کې له افغانانو سره مرسته او د افغاني کلتور پالل دي.

د افغانستان معلوماتي مرکز د ټولو مهمو ټولنیزو، تاریخي، سیاسي، اقتصـادي، ادبي او روغتیایي ساحو او پوښتنو په هکله په خپل ارشـیف کـې معلومـاتي مـواد (کتابونـه، مجلې، اخبار، کسټونه) راغونډ کړي دي. زیاتره برخه یې د هغو اروپایي، امریکـایي او افغاني پوهانو لیکنې او څېړنې دي، چې په وروستیو لسیزو کې یې په افغانستان کې دننه او هم دباندې په بېلا بېلو موضوعاتو څېړنې کړې دي.

**د هلو ځلو څو نمونې:**

- افغانانو ته په المان کې د ژبې زده کولو، زده کړو، ژوند کولـو او کـار پیـداکولو اړونـد مرستې او مشورې ورکول
- المان کې افغان ماشومانو ته د مورنۍ ژبې او آلمانانو ته افغاني ژبې زده کول
- المانانو او الماني موسسو او ټولنـو تـه د افغانـانو او افغانسـتان پـه هکلـه معلومـات، مشورې او پروژې

بهـر مېشـتو افغانـانو، المانیـانو، المـاني او اروپـایي موسسـو او ټولنـو تـه د افغانـانو او افغانستان په هکله معلومات، مشورې او پروژې

- له ۲۵ کلونو راهیسې هر کال «*په هامبورګ کې د افغانستان اونۍ*» سمینار جوړول
- د افغانستان د اساسي قوانینو چاپول
- د باچاخان په هکله په پښتو، دري، اردو، انګلیسي او الماني ژبو کتابونو چاپول

په الماني ژبه د افغاني ادبياتو خپرول
- د کابل ديوان بيګي سيمه کې د يو روغتيايي کلينيک فعالول www.dewanbegi.af
- د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو لپاره تر ۳۰۰ عنوانه زيات درسي کتابونو چاپول او په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې په وړيا توګه وېشل. د درسي کتابونو مکمل پي ډي اف دلته ترلاسه کولی شئ:
www.ecampus-afghanistan.org

**خپرونې:**


- د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه، ۱۹۹۷
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون، ۱۹۹۸
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون په الماني ژبه، ۲۰۰۲
- د افغانستان (۱۹٦۴) اساسي قانون، ۲۰۰۳
- د افغانستان (۲۰۰۴) اساسي قانون په انګليسي ژبه
- زمونږ د باچا خبرې، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹، ۲۰۱٦ ، ۲۰۱۹
- د پښتو زده کولو کتاب، مانفرد لورنس، الماني ژبه، ۲۰۱۰، ۲۰۱۹
- زما ژوند او مبارزه. غفار خان، په الماني ژبه، ۲۰۱۲
- د ګلاب ننګرهاري ليکنې، ۲۰۱۴
- د غني خان ليکنې. غني خان، په الماني ژبه، ۲۰۱٦
- افغانان په استراليا کې. پوهاند حميدالله امين، ۲۰۱٦
- دوه خدايي خدمتګاران. مهاديو ديسای، ژباړه زيرګل وردک، (پښتو/انګليسي/ الماني) ۲۰۱۷
- خان عبدالغفار خان، د نه تاوتريخوالي لاروی، ان رادها کرشنان، ژباړه زيرګل وردک، (پښتو/ انګليسي)، ۲۰۱۷
- غفار خان. د پښتنو د عدم تشدد پاچا، راج موهن ګاندی ۲۰۱۷ په آلماني ژبه
- د يو افغاني کلي خاطرې. د زرين انځور لنډې کيسې په الماني ژبه، ۲۰۱۷
- د افغانستان د پوهنتونونو د درسي کتابونو چاپول، يحيی وردک، ۲۰۱۷

- الماني د افغانانو لپاره، یحیی وردک، ۲۰۱۸
- سخنان ناب غفار خان، ۲۰۱۸
- د گل پاچا الفت غوره نثرونه په الماني ژبه، ۲۰۱۹
- آلمانی برای افغانها، یحیی وردک، ۲۰۱۹
- د رحمان بابا دیوان په الماني ژبه، ۲۰۲۰
- لوړې زده کړې په افغانستان کې. نظرونه، وړاندیزونه او مشورې، یحیی وردک، پښتو/ انگلیسي
- ۳۰۰ نه زیات درسي کتابونه (۲۴۰ طبي درسي کتابونه او ۷۰ غیر طبي کتابونه) د افغانستان د پوهنتونونو لپاره.

سربېره پر دې افغانیک اوس پر دې کار کوي، چې د افغاني ټولنې د بنسټیزو پوښتنو په هکله مستند او علمي معلومات راغونډ او بیا یې د نورو د خبرتیا او گټه اخېستلو لپاره خپاره کړي.

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) ارشیف کې د باچا خان برخه جوړه او دلته معلوماتي مواد (کتابونه، لیکنې، د مجلو او اخبارونو کټنگ، عکسونه او فلمونه) راغونډ او د څېړنو او خپرولو لپاره مینه والو ته وړاندې کېږي.

له هېوادوالو څخه هیله کېږي، چې په دې کار کې له موږ سره شریک شي.

نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: www.afghanic.de

# Preface for First Edition

"Can you name any person, in the history of Afghanistan and the region, as a model for you?" a journalist asked me during an interview for his magazine, eight year ago.[1]

My answer for the question was Khan Abdul Ghafar Khan (Badshah Khan) though I had not known much about him, nor had I read his writings or writings on him. In the recent years, the more I studied about him, the more I became interested in him—this interest is getting more and more.

In my point of view, the value of Badshah Khan's personality is in the struggle he did against the main problems of the nation like violence, exchange marriage, illiteracy, extremism, negative competition and unawareness of religion.

Since these bad habits still remain in our society, the instructions of Badshah Khan have not only historical value, but they are also a good resolution of our problems. That is why my opinions are the same as his, so they are offered to you. At least some of them might be interesting for you too. If so, may you utilize and act upon them for the advantage of yourselves and your country.

I would like to thank Mr. Mubariz Sapai, Dr. Ramazan Saadat, Mr. Hedayatullah Bangish and Mr. Shah Jahan Kakakhil for providing me with references for this book. I also thank Mr. M. Reza Khan for giving me pictures related to the book. As well as, I thank Mr. Nasim Saber for helping me in editing the book.

Hopefully, I will be able to compile more sayings of Badshah Khan and that of others on him, so that, I will offer them to the countrymen.

Dr. Yahya Wardak

Bonn, Germany, 2008

*1 This interview was published on Ost-Westliches Journal, 3/2000*

Hopefully, dear readers will read them carefully, know them, think about them and take their advantages in their personal and social life.

Unluckily, Afghans, Muslims and other people are not aware of Badshah Khan's ideas and actions. He analyzed, examined and knew Afghan and Islamic society, and, for reforming its weaknesses, he worked successfully. He struggled for reducing his nation's problems throughout his life. He spread his ideas on peace, brotherhood, love and nonviolence everywhere.

Dr Mohammad Cyrus, the head of Presidency of Religious Affairs in Turkey says, "The main problem of Muslims is that they do not make their lives in accordance with their religion. Many Muslim leaders and scholars, instead of resolving problems, create problems."

We and our leaders are to be blamed for not getting awareness of Badshah Khan's thoughts and struggles and not following his path.

I hope some readers will become aware of his ambitions, desires and achievements so that they will make others aware; thus, they will follow his path and encourage others. Based on this desire, the book is offered to you.

At the end, I would like to thank those who have helped me in the third edition of this book. I thank Mr. Asif Samim for giving me extra reference from his library in Kama. As well as, I appreciate the efforts of Mr. Javid Kotwal and Abdul Hadi Asar in editing the book.

Dr. Yahya Wardak

Istanbul, October, 2014

# Preface for Third Edition

Five years ago, I compiled "Quotations of Badshah Khan" from various books and magazines and printed as a book, in Germany. Because of the need for it, in 2009, the book was reprinted in the same form in Kabul and was offered to its fond readers. Since it cannot be found in bookstores, it is needed to be printed again.

In the recent years, I could find other books on Badshah Khan and used them as further references for adding more to the previous version; thus, the third edition contains nearly 30 percent more contents than the others. In addition, the chronology of Badshah Khan's life has been written at the end of the book in order for people to become aware of different events of his life.

It is reported on the media in Afghanistan almost every day about explosion, war or suicide attacks in which people get wounded or lose their lives. A main cause of such situation is our people who want to satisfy their ambitions and reach to their social and political targets through violence. And this is a main cause of the three decades war in our country, as well.

Badshah Khan paid attention to this vital issue, hundred years ago, and he struggled for resolving that. But unfortunately, Afghans either do not have the knowledge about violence or do not work for eliminating it.





One of the purposes of publishing of "Quotations of Badshah Khan" and other books on him is to make the society aware of nonviolence.
In this respect, his autobiography entitled "My Life and Struggle" was published in both Pashto and Dari languages by National Center of Policy and Research (NCPR) at Kabul University, with the fund of Civil Peace Service of GIZ, in 2016.
The book you are holding in your hands is a compilation of Ghaffar Khan's quotations from different national and international references of different languages and has been printed with the financial support of GIZ's Civil Peace Service program in Kabul.

Hereby, I would like to thank GIZ-ZFD in Kabul and its energetic officer Mr. Obaidullah Tanha for supporting us in publication of this work.

In addition, I am thankful to my colleagues Hekmatullah Aziz, Fazel Rahim Baryal, and Khalid Khpalwak for assisting me in editing the text.
Hopefully, you will read this small but rich book, learn its lessons and effectively use it for welfare of the nation and country.

Yahya Wardak, 2019

# Preface for Fourth Edition

Dear reader,

Though Ghaffar Khan lived a century ago, his ideas and struggles are still precious and even more invaluable than in his time, for our society’s today and the future. Through nonviolence, Ghaffar Khan and Gandhi could bring about freedom to the Subcontinent and played a major role in encouraging Muslims and Hindus to live peacefully alongside each other. Recently, works of Ghaffar Khan have been published in English, Turkish, Arabic, German and Italian languages, and it is various times reported about him in the international press.

In his message on peace in 2017, Pope Francesco said:

*“Resolute and real approaches have resulted in outstanding outcomes. Success of Mahatma Gandhi and Ghaffar Khan is unforgettable …”.*

Violence in our beloved country Afghanistan has been a main factor of ruin, poverty and people’s misfortune in the last four decades. It is possible to get inspired by the ideas and approaches of Ghaffar Khan in terms of the current problems, conflict and violence; thus, get closer to peace, prosperity and unity.

Based on this reason, I try to publish, promote, translate and print various books about Ghaffar Khan.



# Abstract

Quotations of Badshah Khan written in Pashto text was compiled from different authentic references in the form of a single book.

It has been tried the best, during compiling the book, to choose the significant sayings of Badshah Khan which convey meaningful advice. Since Badshah Khan was a fellow of Gandhi the well-known Indian leader, especially regarding eliminating violence, each of his quotes is as a pearl to his followers who regard him as a successful leader. The selected quotations are effective in reforming the drawbacks of our traditional society.

Badshah Khan spent his entire life in struggling for removing prejudice and violence. He believed in equality of humans, so he attempted to unify various ethnic groups and communities. Thus, his quotations are very effective in this regard, as well.

At the end of the book, a chronology of Badshah Khan is written which indicates important events of his life, birth to death.

Hopefully, this compilation is effective in spreading Badshah Khan’s corrective sayings to the society, and, hopefully, the society will take full advantages of the ideas of this honorable leader.

**Book Details**

| | |
|---|---|
| Book Name | Quotations of Badshah Khan |
| Compiler | Dr Yahya Wardak |
| Publisher | Afghanic |
| Copies | 2000 |
| Edition 1,2,3, 4 | 2008, 2009, 2016, 2019 |
| Download | www.afghanic.de/downloads |

This publication was financed by Civil Peace Service (ZFD) of GIZ in Kabul

© 2019

This book can be reprinted with written permission of the publisher or compiler.

Printed in Afghanistan, Sahar Printing Press

ISBN 978-9936-620-65-0